# د خوشال خټک عقیده ـ سیاسي فلسفه
# او ورسره مل لیکنې

دین او د نیا د رحمان بابا په دیوان کې

*****

د خدای مخلوق په خد مت کې د فخر افغان
ژوندون او د خدا یي خد متګارو بې تاوه پا ځون

*****

د ګل پاچا الفت په شعرونو کې د ازادۍ
او غلامۍ مانا

*****

د غني خان رنګینه ځواني او د زړونو خاني

لیکونکئ: رڼاګل اریوبزی

المان، ۲۰۲۲ ز کال

# اِهدأ:

## د هېواد ځوان نسل ته!

د کتاب ځانگړنې:

د کتاب نوم: د خوشال خټک عقیده ـ سیاسي فلسفه او ورسره مل لیکنې،

لیکوال: رڼاګل اریوبزی،

د خپریدو نېټه: د ۲۰۲۲ کال دسمبر،

د خپریدو ځای: افغان جرمن انلاین پورټال.

د مطالبو فهرست:

د خوشال خټک عقیده او سیاسي فلسفه

سریزه: ۷ ام مخ

لومړی فصل

د خوشال خان عقیده ۱۰ ام مخ

دوهم فصل

خوشال خان د وطن، پښتون او پښتو ژبې په وړاندې

الف – خوشال خان دوطن په وړاندې ۱۷ ام مخ

ب ـ خوشال خان د پښتون په وړاندې ۲۰ ام مخ

ج – خوشال خان د پښتو ژبې په وړاندې ۲۶ ام مخ

دریم فصل

خوشال خان او جنګ

الف – د خوشال په سیاسي فلسفه کې د جنګ مقام ۲۹ ام مخ

ب ـ د مغلو په پلوی د پښتنو سره د خوشال خان جګړې ۳۳ ام مخ

ج – خوشال د افغان په ننګ د مغول سره په جنګ ۳۹ ام مخ

څلورم فصل

د خوشال سیاسي او ټولنیز نظریات

الف ـ له تیولواکۍ او تلواکۍ نارضایتي ۴۷ ام مخ
ب ــ د مطلق نظام په ځای د مطلق تیولواک اصلاح کول ۵۰ ام مخ
ج ـ په بشري ټولنه کې انساني حقوق ۵۶ ام مخ

## پنځم فصل

## خوشال خان او علم

الف ــ د خوشال خان زده کړې ۶۳ ام مخ
ب ـ علم د د یني فریضې په توګه ۶۸ ام مخ
ج ــ د خوشال ختټک په فکر کې د عالمانو ځای ۷۵ ام مخ

## شپـږم فصل

## د خوشال په فکر پوهې ته د لاسرسی لار او شرایط

الف ـ بیولوژیکي شرایط ۸۱ ام مخ
ب ــ ټولنیز چاپیریال ۸۳ ام مخ
ج ـ د منظمې زده کړې او ښوونې چاپیریال ۸۷ ام مخ
د ـ خپل زیاراو هلې ځلې (عمل) ۹۲ ام مخ
دین او دنیا د رحمان بابا په دیوان کې ۱۰۰ ام مخ
د خدای د مخلوق په خد مت کې د فخرافغان ژوندون
او د خدایي خد متګارو بې تاوه پا څون
۱ ــ له ورکتوبه دعدم تشد د ترمفکورې پورې ۱۱۳ ام مخ
۲ ــ د عدم تشدد بشري منځپانګه ۱۱۹ ام مخ
۳ ــ د پښتنو بچیانو د ښوونې او روزنې له پاره مبارزه ۱۲۳ ام مخ

۴ ــ پښتني ټولنه کې د مېرمنو د حیثیت او مقام
د وچتولو له پاره مبارزه ۱۲۶ ام مخ

۵ ـ د مرګ له زندۍ د پښتو ژبې ازادول ۱۳۲ ام مخ

۶ـ د پښتنو په اقتصادي ژوند کې بنسټیز اوښتون ۱۳۹ ام مخ

۷ـ په پښتنو کې د تشد د او د هند په نیمه وچه کې
د انګریزی ښکېلاک ضد مبارزه کې لاسته راوړنې ۱۴۷ ام مخ

د ګل پاچا الفت په شعرونو کې د ازادۍ او غلامۍ مانا ۱۵۷ ام مخ

د غني خان رنګینه ځواني او د زړونو خاني ۱۶۵ ام مخ

د لیکوال بیوګرافي: ۱۶۷ ام مخ

# د خوشال خټک عقيده

## او سياسي فلسفه

سريزه:

زه ـ د دې کرښو ليکونکي ـ دمسلک له مخې شاعر، اديب، ژبپوه اويا کوم مسلکي تاريخپوه نه يم، خو د شعر لوستلو سره مينه لرم. دخوشال خټک په شمول مې دپښتو ژبې دځينو لويو شاعرانو ديوانونه لوستي دي او دځينو په هکله مې يوڅه ليکلي هم دي، خو دشعر په شکلي فن او هنر چندان نه پوهېږم. زما مسلک ښوونيزه اوروزنيزه پوهه ده. په دې ځانګه کې مې په المان کې دفرانکفورت ښار په ګويتې پوهنتون کې د ډيپلوم ( ماسترۍ ) په کچه لوړې زده کړې کړي دي او وروسته مې څه ناڅه شپاړس کاله د کابل پوهنتون په ښونې او روزنې پوهنځي کې داستاد په توګه ښوونيزې او څيړنيزې چارې ترسره کړي دي. له دې امله دخوشال بابا ( ۱۶۱۳- ۱۶۸۹م ) په شان د دومره لوی علمي او ادبي شخصيت د تعريف بشپړه پوهنيز او فني شرايط نه لرم او يوازې دهغه داشعارو په جوهربا منځپانګه اود ځوان نسل په سياسي، ټولنيزې اواخلاقي روزنه کې د هغوی په حياتي ارزښت يو څه پوهېږم چې البته په يوازنې توګه د باباد لوړ شخصت بيانولو له پاره کفايت نه کوي. نو ځکه د مسلکي کسانو، شاعرانو، اد يبانو او ژبپوهانوڅخه دمرستې د ترلاسه کولو په لټه کې شوم. په دې لړ کې د « ستر خوشال دکلياتو شاليد او دا کليات» تر سريزی لاندې دمحمد آصف صمېم يوې پو هنيزی ليکنې سره مخامخ شوم. ده په دې ليکنه کې دخوشال خټک په هکله دايراني ليکوال ښاغلي منوچهري داجمله رانقل کړې ده چې وايي:« سعدي،حافظ اوفردوسي چې دری واړه سره له اجتماعي، تصوفي او حماسي

پلوه یوځای شي، یو خوشال ترې جوړېږي.»( دخوشال ختک کلیات، دویم چاپ،اسد دانش مطبعه،۱۳۸۷ل، دویم مخ)

داسي ښکارې چې ښاغلي منو چهري دیوه پوه اولېکوال په تو ګه په دې پر تلنه کې دخوشال خان د شخصیت یوازې معنوي اړخ – ژور او پراخ معرفت، رنګین خیال، ژور فکراوپوخ شعری او ادبي هنر ـ په نظرکې نیولی دی او دهغه جسمي قابلیتونه، اداري اونظامي مهارتونه یې له پا مه وتلي دي. خوهغه څه چې ننګیالی خوشال دهغه وخت د نورووتلو پوهانو څخه را ګوښی کوي د هغه د معنوي اوجسمي ځواکمنې ترمنځ انډول دی. ننګیالی بابا د لویې معنوي شتمنی ترڅنګ په خپل وخت کې دبې ساري جسمې مهارتونو او قابلیتونو خاوند هم و. دآس په سپرلی، ښکار، دغشي لیندی، نیزې، ډال او تورې په کارولو کې یې سیال نه درلود او یووتلی سردار، افسر اوسر لښکر هم و. دبابا دې خانګړتیاوو ته ګل پاچا الفت یو څه پام کړی دی او هغه یې په دې لاندې تڅو ستایلی دی:

وي د رزم ا و د بزم پـــه مجلــس کې هلته باز، د لتـه بلبل هزار داستانه
عشق اوذوق، فکرو تد بیراراده عـزم ستا په بــرخــه رسیدلي وو بېشانه
هم رستم هم فردوسی دیوه داستان یې هـم شاعر هـم مفکر هم پهلوان یې
لوي سړی وي درسره وو لوي فکرونه مګر ژر نه را وېنیږی ولســونــه

(د الفت مرغلرې: دانش خپرونه، پېښور، ۱۳۷۵ هـ ش کال، ۹-۷ مخونه.)

رښتیا داده چې خوشال خان دخپل شخصیت په جوړونه یانې په علومو، فنونو او هنرونوباندې دځان د سنبالولو په لارکې د لوړ همت، کلکې ارادې، ژور فکر او تد بیر څخه کارا خیستی او بری یې ترلاسه کړي دی، مانا داچې د ننګیالي بابا لار د بري اوموخې ته د رسید و لار ده، نو ځکه د پښتو غزل پلار حمزه شینواري دخوشال بابا لمسیانو ته په ټینګار وایې چې:

وروځې لیــمه زلــفي بــانـه پښتانه ښکلي یو ځای شول پښتانه پښتانه
لـړ مې نـظر تـــه هر کلي و وا یه رتـلـې نـــه د ي مېلــمانــه پښتانه
زلــفي کــمځې کمځې ښــکلا کــنمه ولې دي وي خـــواره واره پښتانه
خدای ګو چې خپل مرام ته ورسیږي که د خــوشـال په لاره تله پښتانه

(د حمزه شینواري کلیات(غزلې): دانش خپرونه، پېښور ۱۳۸۹ ل ش کال ۳۳۵ مخ)

همداسي ده! حمزه شينواری حق لري او پښتني جونو اوزلمیانو ته سمه لار ور ښيي، ځکه چي دخوشال لار دهرفرد اوهرې ټولنې له پاره موخې او مرام ته درسيده لارده او دا لار تر ټولو د مخه دخپل شخصيت دجوړولو يانې په علومو، فنونو، مهارتونو، قابليتونو او وچتو انساني خويونو دځان دسنبالولو او دهغوی په مټ ولس او بشريت ته د خدمت کولو لار ده. وينوچې وتلي پو هان او دمسلک خاوندان مو دخوشال دشخصيت سره تر يوه بريد پورې اشنا کولې شي خو دننګيالي بابا په پيژند ګلوۍ کې دهغه دخپلو ليکنو ځای نه شي نيولې. د دې کار له پاره بايد په خپله د ده غږ ته په غوږشو. دی ليکي:

چې قانع د زمانې په خشک وتر يم
که مې پيژني باد شاه د بحرو بريم

نه مې تخت نه مې افسرنه مې سپاه شته
په تسخير د درست جهان ختلی لمر يم

په د رون کې مې پراته دي ډ ير ګنجونه
په معنا کي لکه کان د سيم وزريم

که مې لاس لکه د رباب خالي ليده شي
د ټټر د ننه ډ ک په در ګوهر يم

د تا لي په سود وزيان مې نظر نشته
سر تر پا يه درست وجود واړه هنريم

که مې حلق له تندې وچ شي په همت کي
پروا دا ر کله په حوض د کوثر يم

(د خوشال ختټک کليات، ۵۸۰ مخ)

نيت مې کړی دی چې له دې ارزښتناکو کانونو او ګنجونو نه دعقيدې اوسياسي فلسفې په برخه دبابا نه راپاتې شوی شعرونه را ټول، دموضوله مخې ترتيب اود لندو بيانو سره په دې سريزه پسې دهيواد ځوان نسل ته وړاندې کړم. داهم بايد په ډاګه کړم چې دلته دکومې بشپړه نسخې دوړاندې کولو نيت اودعوه نه لرم او پوهېږم چې زما ليکنه به ډېرې نيګړتياوي ولرې او داهم تردې چې ډېرو ته به

دلوستلو وړ هم نه وي. هغه څه چي سره له دې یې دې لیکنې ته هڅولی یم دادی چې دخوشال په هکله ډیرې لیکنې او څیړنې دده په حماسي شعرونو او جنګونو را څرخي، علمي ځواک، سیاسي اوفلسفي نظر او د ده په خیال اوفکر کې دانسان اوانسانیت وچت مقام ته لازمه پاملرنه نه ده شوی.

هو! خوشال خټک په خپل ژوند کې ډیرجنګونه کړي دي او په دې هکله مو ډیر څه اوریدلي او لوستلي هم دي، خو دې ته مو پام نه دی چې نظامي پوهه او مهارت جنګسالاري نه دی. مانا دا چې دی دجنګ په لټه کې نه و. جنګونه یې غوښتلي او پیل کړي نه دي بلکې ډیر یې ور باندې تپل شوی دي. خوشال خټک جنګسالار نه و، دی یو بې مثله ننګسالاراو دخپلې زمانې یولوی عالم اوانسان دوست سردارو. دجنګ نه یې کرکه کړې ده، په علم مېن او دپوهې پتنګ و. دا هم باید ومنوچې دجنګ او دتورې په چارو کې خوشال خان دپښتون کام په تاریخ کې سیالان در لودلي دي اوحتی ځني خو په دې هنر کې لا ترده وړاندې هم تللي او دپښتنو سترې امپراتورئ یې جوړې کړې دي، خودعلم او قلم په چاروکې لا تر اوسه ساری اوسیال نه لري. که پښتانه لیکونکي او څیړونکي په تیره بیا دمسلک خاوندان، پښتو ژبپوهان، شاعران، ادیبان او خوشال پیژندونکي خپلې لیکنې لږ څه زیات دخوشال خټک په پوهنیز ځواک، په سیاسي او فلسفي نظر او د ده په خیال او فکر کې دانسان او انسانیت په مقام را وڅرخوي نو له یوې خوا به دبابا دلوړ شخصیت لازم درناوي په ځای شي اوله بلې خوا به ځوان نسل ته دهغه دشخصیت سم تصویر په لاس ورشي. د لیکنې اصلي موخه مې د همدې ډول بحثونو، لیکنواو څیړنو هڅول اورا پارول دي.
په درناوي.

# لومړی فصل

## د خوشال خان عقیده

عقیده دیوه دین اومذهب سره دانسان معنوي پیوستون او دهغه په ربښتینوالې پوخ ایمان دی. عقیده دزړه له تله راپورته کیږي او په خوله اوژبه بیانیږي، نه په زورپه چا پورې تپل کیږي او نه په زور څوک ترې منکر کیږي. نوځکه څوک

چې بې له کوم جبره، په بشپړه ازادۍ کې داسلام په مبېن د ین یاني دلوي خدای په یوالې، دهغه په بې پایه قدرت او دحضرت محمد(ص) په رسالت عقیده لري او په خوله اوژبه یې بیانوي، هغه مسلمان دی او مسلمان ګڼل کیږي. که څه هم داسلام په پاک دین کې دعلم زده کړه په هر مسلمان فرض ده، خو په تأسف هرمسلمان عالم نه دی او ډیر زیات یې د دیني او عقلي علومو دزده کړې نه بې برخې پاتې وواودي. دخوشال په زمانه او دژوند په سیمه کې هغه چاته عالم ویل کېده چې په جوماتونو اومدرسو کې یې دیني زده کړې کړې وې او لږ ترلږه دملایې درجې ته رسیدلي ول. دخوشال خټک په نظرکې دا عالما ن یاملایان ټول یو شان نه وو.ځینو یې ځانونه عالمان ګڼل خوپه خپل مسلک کې یې لومړني مالو مات هم نه درلودل، ځنې نور په رښتیا عالمان وو خو په عمل کې دشیطان په لارروان وو او د دین او عقیدې نه یې د دنیاوي ګټې وسیله جوړه کړې وه. خو ځنې داسې هم شته ووچې په رښتیا عالمان وواوهم دخپلې پوهې او عقیدې په رڼا کې دحق په لور روان وو. کوم علم یې چې در لود، هغه یې دخپل عمل لارښود و. خوشال خان د دوی دهمدې ځانګړتیاوو په بنسټ دهغوی په وړاندې خپل دریځ ټاکي اولیکي چې:

هرعا لم چې رباني دی ، تـرې ځارېږم
نـفسـا نـي وتـه غلیـم غـونـدې ښکارېږم

چې په علـم وعـمل جوړ وي رباني دی
بــې عــمـلـه عــلــم، واړه شیـطا نــې دی

نیــم مــلا، بــلا د د ین ا و د ا یـمان دی
نیــم طبیب خطره دتن دی، هم دځان دی

مـد عـي مــلا کــه ډ یــر علم حاصل کا
دی چـــې علـم په د نیـا، پـلوري باطل کا

(د خوشال خټک کلیات، ۶۰۴ مخ)

خوشال خان په دې عقیده دی چې مسلمان یوازې دخپل خالق نه دارېږي، ځان هر وخت او هر چېرې دحق په ویلو مکلف ګڼي اوهم دهرچا په وړاندې دحق ویلو جرأت لري. بدې نه اخلي، دبل چا مال ته تمه او اسره نه کوي، دذکات اوسرسایې له پاره په ایاتونو اوحدیثونو تجارت هم نه کوي. هغه عالم چې کامل ایمان لري، سرلوړي خوښوي او

پاک وجدان لري، په ښښت اوتعویز دناروغانو در ملي نه کوي، د پیسو په تمه یا بدل کې دظالم تر څنګ نه دریږي اوحق نه تر پښو لاندې کوي. خوشال ختک لیکي چې:

کښیني شرع بـه کـوي په رشوتونو
ځان قاضي کا، په غلط روا یتـونو

وهـرچـا تـه مسـلي د سخـاوت کا
خپله خونه ډ کـوي، د بـل غارت کا

په مسجید راځي پنځه وخته اذان کا
چې ذکات، سرسایه نه وي مسجید وران کا

دمیراث مـالـونـه خوري د ظالمانو
نوم په ځـن باندې کښیږدي دعالمانو

په داهسې علـم برند کښیني ملاشي
وعالم ته میـراث خور د ا نـبیا شي
(د خوشال ختک کلیات، ۹۲۵-۹۲۴ مخونه)

دوخت دعالمانو او ملایانو په هکله خوشال خان داډول څرګندونې که له یوې خوا په رباني پوهانواو ملایانو ښې لګیدلې نوله بلې خوایې د ده په وړاندې دمدعي ملایانوکینې هم راپارولې، ورته کرار او لاس په زنه نه کښیناستل او په خلاف یې حتی دکفر فتواګانې هم صادرولې. دی په سوات نامه کې دملایانو ددې وروستې ډلې په نمایندګې دملا مېانور نوم اخلي اولیکي چې:

اوس بـه وایم لـه مېانورلـه حقیقته
چې لـه نورونـه، د ی لا دی بد خصلتـه

را شـه واوره پـه دا هومره قباهت
چې په ما باندې یې ساز کړڅه تهمت

رافضي یې په داهسې اعتقاد کړم
په درست سوات یې په تکفیرپه رفض یاد کړم

(د خوشال ختک کلیات،۹۲۵ مخ)

له دې تورونو څخه نه یوازې خوشال خان بلکې د پښتون په تاریخ کې ځنې نور لویان لکه بایزید روښان، فخر افغان خان غفارخان اوغازي امان الله خان هم په امن کې نه وو. د دې له پاره چې له موضوع ونه وزو، دا نوردلته پرېږدو او په دې ځای کې یوازې دخوشال خان دعقیدي سره یوڅه ځان اشنا کوو. زما په اند په دې هکله بله داسې سرچینه نشته چې دخوشال د خپلوڅر ګندونو نه دزیات باور وړوي، ځکه له یوي خواعقیده لکه ځنګه چې ورته پاس اشاره وشوه، څوک په چا ور تپلی نه شي یاني هیڅوک دبل چا په خوله نه کافرکېږي اونه مسلمان کېږي بلکې دهرچا عقیده دهغه داقرار څخه راڅرګندېږي. له بلې خواخوشال خان هغه شخصیت و چې څه یې په زړه کې نه ساتل، څه یې چې په زړه و هغه یې په خوله و. دځان اوبل په وړاندې له حق نه تیریده او دحق په لار کې له هیڅا هم نه ډاریده. که له یوي خوادخپل ننګ، دخپلو شعرونو، هنرونو اوخدمتونو یادونه او ستاینه کوي، نو له بلې خوا خپلې تیر وتنې، خپل عیبونه اوګناهونه هم نه پټوي او یو په یوېې شمېري او دحق په وړاندې خپل زوي بهرام اوخپل دښمن اورنګ زیب په یوه لیکه کې دروي. داپه حق مین شخصیت خپله عقیده داسې بیانوي:

د خدای منت راباندې چې یې هست کړم له عد مه
بـل خـلقت یــې نــه کــړم راپــیــدا شــوم له اد مه

پښــت پــه پښــت راغــلـی مسـلـمــان محــمدي یم
چـــا ر د چـــا ریـــا رو ســـره وا ړه مــنـم ســـمــه

درست په دې پوهېږم چې څلور مذهــبه حق دي
زه د حــنــفــي مــذ هــب د عــوا لــرم محــکــمه

مېــنــه یې پــه زړه کې د علما وو راکړه ډ یره
مېــنــه یې د د ور د شیــخــا نــو راکــړه کمــه

نــه خــرابــا تــي نــه قــما ر باز نــه ریا کار یــم
نـــه قــاضي مفـتي چې یې نـظر پــه څـو د رمـــه

(د خوشال خټک کلیات، ۶۰۴ مخ)

خوشال خان نه یوازې صادق او په خپله عقیده ټینګ ولاړ مسلمان وبلکې د ین پوه، فقیه اوعارف هم و، په دې برخه کې یې کتابونه لیکلي دي او سربېره پر دې دکلیاتو ډېرې پاڼې یې په حمد اونعتونوښکلې کړې دي، چې ورڅخه دیوه حمد او یوه نعت څو پروکي دبېلګې په توګه رانقلوم:

## حمد

ای دهر موجود معبوده — جود دهرچا ستا له جوده
ته رحمان یې، ته رحیم یې — ته دا نا یې، ته حکیم یې
ته رؤف یې ته منان یې — ته معروف یې، ته د یان یې
ته خالق یې، ته غفار یې — ته را ز ق یې، ته ستار یې
بې همتا یې په قدرت کې — عرش دي لوي کړېه خلقت کې

(د خوشال خټک کلیات، ۷۵۸-۷۵۷ مخونه)

## نعت

ای زما نبي سروره
اولوالعزمه پیغامبره

نه دنیا وه نه عالم و
نه حیوان و نه آدم و

چې ته ختم انبیاوي
آد م زویه، ته بابا وي

که ته نه وي آدم نه و
که ته نه وي عالم نه و

هم آخر هم مقدم یې
هم یې زویه هم آدم یې

(د خوشال خټک کلیات، ۷۶۲ مخ)

د خوشال خان په عقیده ربښتینۍ مسلمان هغه څوک دی چې دپوخ یقین خاوند وي، تل دخدای ویره ورسره وي او د د ین په فکر کې وي. دربښتیني مسلمان یوه مهمه ځانګړتیا داده چې خپل باردبل په اوږو نه باروي، له هیچا د هیڅ شي تمه نه کوي، له حرامو په کلکه ځان ساتي، دخپل ژوند دبسیا کولو له پاره په خپل ایمان، همت، متواو کاراوزیار ډېره لګوي او دخپل خدای درضا له پاره دهغه دمخلوق سره مرسته کوي. خوشال خټک را ښیي چې:

مـو مـین هغـه دی چـې جورېقــین لري
ویـره له خدا یـه اندوه د د ین لري

بار دهــرچا وړي خپل بار په چا نه ږدي
ښه بې کردار وي ښه همنشین لري

(د خوشال خټک کلیات، ۴۹۹ مخ )

او زیاتوي چې:

د ین چې خالي شي، له ښه یقینه
کفر بهتر دی تر هغه دینه

چــا دا خــبره څــه ښـه ویــلې ده
ما ته لینـده ده نا قصه مېنه

(د خوشال خټک کلیات، ۴۱۵ مخ

هرصادق مسلمان باید په دې یوه شي اودا ومني چې دی یوانسان دی. دانسان یوه ځانګړتیادهغه انساني نیمګړتیاده، او مانا یې دا ده چې د خپل عمل یا دکړووړو په بهیر کې تیروتنې ترې کېږي، د دې یاهغې لویې اویا کوچنې ګناه مرتکب کېږي، بې غلطې او بې عیبه انسان خو د دې نړۍ پرمخ نه پیدا کېږي. هغه څوک چې دا نه مني او په ځان کې هیڅ ډول عیب اوګناه نهویني او له

هرې غلطۍ او تیروتنې ځان پاک ګڼي یاعقلي بیماران دی اویا په هوسونو کې ډوب دفرعون په لورروان کم عقلان دي. دخپلو عیبونو اوګناهونو پېتول او په بل کې دعیبونو او ګناهونو لټول دانسان عقلي اوعقیدوی رنځوري په ګوته کوي اوخوشال ختړک په دې هکله لیکي چې:

صحبت چې نه وي له ښه احباب سره
عمر تیریږي له ډیر عذاب سره

هوښیار هیڅ چېرې بې غلطۍ نه وي
خطا ترلې ده اهل صواب سره

(د خوشال ختړک کلیات، ۴۲۱ مخ)

د ننګیالي بابا دشخصیت دلویوالي ځلانده نښه داده چې ځا ن لوي نه ګڼي او دایمان دپوخوالي نښه یې داده چې ریاکار نه دي. خپل ګناهونه او خپلې تیروتنې نه پټوي، تل یې یادوی او ورسره سم له یوي خوا دخپل پروردګارد قهر څخه ډار ښرګندوی اوله بلې خوا دهغه لوی ذات په رحم هم کلکه عقیده لري اوله بخښنې څخه یې تمه نه قطع کوي او دا دوا کوي چې:

| | |
|---|---|
| یـا قـا د ره ذ والجـلا له | لـم یـزل و لایـزا لـه |
| خپل ګناه شمـارم شرمیږم | ستـا لـه قهـره زه و یـریږم |
| که هرڅو مې ګناه ډیر دی | تر حساب تر شـمار تیر دی |
| ستـا د ر حـم لـه بـارانه | کـه قـطـره شـې را روانه |
| بیاچې ستا کرم رایاد کړم | پـه هزار رنګه زړه ښاد کړم |

(د خوشال ختړک کلیات، ۷۶۰ او ۷۶۱ مخونه)

خوشال خان دخپل ژوند په وروستیو مپاشتو اوکلونو او له دنیا څخه دخدای په امانۍ په وخت کې دځوان نسل څخه په یوه پیغام کې غوښتي دي چې نیکېو ته ملا وتړي، له بدو ځانونه وساتي او دیني فرض ادا کړي. د فرضو ادا کول، دخدای مخلوق ته دښېګڼو رسول او له بدو ځان ساتل په حقیقت کې دنفس پاکې ده او دنفس پاکې دهرې ځواني اودهرځوان له پاره تر ټولو لویه نیکمرغي اونیکبختي ده، نو ځکه په ټینګار وایي چې:

ښکلي ځوانان دي که ښکلي جونه
پرې مي سلام دی موږه به څونه

سخ دشو هغوی دی چې لمن پاک وي
قضاپې نه وي روژې لمـونـځونه

(د خوشال ختېک کليات، ۴۲۰ مخ)

داوه دخوشال خان عقيده چې د ده دځينو ليکنو د څيړنې له مخې له نږدې ورسره اشنا شوو. ور پسې به دخپل وس سره سم د ده د سياسي او ټولنيز فکريا سياسي فلسفې په ځينو اړخونويوڅه بحث وکړو.

# دوهم فصل

## خوشال خان د وطن، پښتون او پښتو ژبې په وړاندې

### الف ــ خوشال خان دوطن په وړاندې:

خوشال خان دوطن سره مينه دايمان برخه ګڼله اود هغې يې سمه پالنه کوله. څوک چې دخپل هيوادسره مينه لري ياني خپل ټا ټوبی، کلتور،ژبه، او تاريخي ارزښتونه ساتي او پالي، د وطن پالونکي نوم ګټي. وطن پالونکې په دې پسې نه ګرځي چې وطن يې ده ته څه ورکوي، کوم مقام او کوم امتياز يې په برخه کوي، خو دی په خپله وطن ته هر څه ور کوي او دخدمت په لار کې يې هيڅ نه دريغوي. په دې لحاظ ننګيالی بابالوی وطن پالونکې و. خپلې خاورې او ولس ته يې ډېرڅه ورکړي دي اوبې ساري خدمتونه يې ورته کړي دي. د خوشال وطن په هغه وخت کې دمغولو امپراتورئ يوه برخه وه، ملي دولت، ملي سمبولونه، ملی بيرغ او تاريخي جشنونه اوسياسي سر حدونه يې نه در لودل، خو چرته چې افغان استوګنه کوله هغه يې خپل هيواد اوخپله خاوره بلله، نو ځکه يې په شعرونو کې هم ملي دولت اوملي سمبولونو انعکاس نه دي موندلی او

دهغو په ځای يې دخپل هيواد طبعيت، ښکلو منظرو، دنګوغرونو، مستو سندونواوښو يارانو په زړه کې ځای نيولي دی اوهغه يې په خپلو شعرونو کې داسې ستايلي دي:

د وطـــن مېـنـــه ای جانه　　را پـيــد ا ده ـــله ايـمــانه
هغه ملک دزړه ارمان وي　　چې پکې دې ښه ياران وي
نه دخــپــل وطــن خارونه　　نـــه د بـــل وطـــن ګـــلـــونه
نه دخـپـل ديـار ګور ګري　　نـــه د بـــل د يـــا ر شـــکـــرې
نـــه د خپـــل د يـــا ر حجر　　نـــه د بـــل د يـــا ر ســـره زر

(د خوشال خټک کليات، ۸۳۸ مخ )

بابا ته خپل وطن دومره ارزښت لري چې ډېرې يې په سروزرو مني، دګورګرو نه يې دشکرو او له اغزيو اوخارونو نه يې د ګلونو خوند اخلي او دښو يارانو تر منځ په دې ديارکې دژوند کولو مزې داسې بيانوي:

نا ست په ګلزارکې يارپه کنا ر کې　　با ده ګردانــه مطـرب په کار کې
دا حال چې زه لرم په خپل ديارکې　　باد شاه يې نه لري په هندويار کې

(د خوشال خټک کليات،۵۲۶ مخ )

بابا که هر څومره دخپل وطن دغرونو، رغونو، دښتو ، درو او سندونو ستاينه کړې ده اوخپل ديار ورته ګلزار او دشاهانو له دربار نه ښکلي او وچت ښکاريده، نو په دې کې يې يوازې خپله شخصي مېنه او خپل ذوق بيان کړي دی او د نورو متفاوتو مېنو اوذوقون درناوي يې ساتلی دی.د بېلګې په توګه دخپل وطن، په تيره بيا دسرای په هکله ليکي چې:

که دسرای مځکه سنګزار ده　　وخوشال وته فرخار ده
دا بهـــار لـکـــه د ســـرای دی　　هسې کله د بل ځای دی

(د خوشال خټک کليات،۸۳۹ مخ )

په بل ځای کې ليکي چې:

د وطــن ونــې چنــد ن ا کــر دي | خاورې بې واړه مشق وعنبر دي
که سرای ونورو، وته سنګیر دی | کا نې بې واړه ما ته سره زر دي

(د خوشال خټک کلیات، ۴۸۰ مخ )

خوشال خان دخپل وطن بېلابېلوبرخو ته سیاسي اوڅېړنېز سفرونه کړي دي اود هغوی له هوا اوطبعي ښکلا سره له نږدې اشناو. دهیواد جغرافیه، ښارونه،غرونه، رغونه اوسندونه یې پیژندل او دهغوی له هوا اوښکلا څخه یې خوند اخیست. کله چې، له خپل خوارږه وطنه جلا او لرې، د هندوستان درنتبور په جیل کې، زنداني و، دهغه په فراق کې یې داسې ترانې ویلې دي:

هغه باد چې کابـل خیز دی | په ما واړه عنبر خیز دی
څوک چې یاد کاندي کابل | په کـوکـل مـې شي غلفل
څوک چې یاد کړي پیښور | زړه زمــا شــې منــور
څوک چې یاد کاندي اټک | قــافـیــه کـړم د خـټک

(د خوشال خټک کلیات، ۸۴۹ مخ )

په بل ځای کې لیکي چې:

د کا بـل وا ړه رو د و نــه | د کـونـړ د صوات سندونه
سره یو شي په سرای راشي | د سـیحـون سـره یکجا شي
نـه یې غرړ نه یې نا رو شته | په هرجام کې یې دارو شته
چـې یـې ښبني، پکې شنا کا | مـا د ې یــا د هـغه اشنا که

(د خوشال خټک کلیات، ۸۴۳ مخ )

که له یوې خواد بابا دسر کاسه دعلومو، ژورو فکرونواو لوړو رنګینو خیالونونه ډکه وه نو له بلې خوا یې دزړه په دهلیزونو کې دبشریت، په تیره بیا دخپلې خاورې او ټبرسره پاکې او بې پایه مینې ځای نیولې و او خبل برخلیک یې دخپل قوم او خپلې خاورې د برخلیک سره د همدې مینې په ځنخیرونو تړی و.

## ب ـ خوشال خان د پښتون په وړاندې:

خوشال خان دوطن په شان د خپل ولس سره هم ډېره مینه درلوده او هغه یې کله پښتون او کله هم افغان بللی دی اوزما په اند دی دپښتنو په تاریخ کې ترټولولوی ولس پال تیر شوی دی. ولس پال او دولس ویاړ هغه څوک وي چې دخپل قام اوخپلو خلکو په وړاندې نه یوازې دمسولیت احساس لري بلکې خپل برخلیک هم دولس له برخلیک سره تړي، هر وخت یې خدمت ته تیار وي او ولس ته دخدمت په لارکې غاښ او څپلی نه بها نه کوي، ولس ته خیر رسول او دهغه خد مت کول خپل ویاړ اوسر لوړي ګڼي. څوک چې داسې ژوند کوي، نو قوم یې هم یو وخت مني چې دا شخص ولس پال دی او دخپل ولس سره مینه لري. د خوشال خټک ولس پالنه له انسان پالنې ګوښې او جلا مینه نه ده. د ده ولس پالنه دانسان پالنې سره په نه شلیدونکوځنځیرونو تړلې ده. د ده سرشاره عشق او مینه او سرکښه ننګ دقومیت په څلورو دیوالو کې نه ځائیدل، له قومي پولې اوبرید څخه تیریدل او په ټول عالم انسانیت کې خپرېدل. دپوهې اوحکمت په شان یې مینه، نړۍ لید او سیاست هم جهان شمول وو. په قومي او نژادي توپیرونو او د ولسونو ترمنځ په لوړوالي او ټیټوالي یې عقیده نه درلوده، قوم دوستي یې دانسان دوستي برخه وه. ښیګڼه او بدې، لوړتیا آو ټیټوالی یې په قومونو، ولسونواونژادونو کې نه بلکې دځانګړو وګړو په عملونو کې لیدل. لنده داچې خوشال خان هغه کسان چې دحرص او نفس غلامي ورڅخه «سګان» جوړوي اوداسې ټیټو اووحشي چارو ته لاس اچوي چې شیطان حیرانوي، په ټاکلي قام او ملت کې نه بلکې په « عالم » کې لټوي. نوځکه لیکي چې:

په کا تــه شــم وعــا لم وته حیران چې دنس له پاره څه کا داسګان
هسې چارې یې پیداشي له وجوده چې په ذکروفکر نه وي د شیطان

(منتخبات خوشال خټک، ۸۳ مخ)

بابا دهیڅ ډول ظلم، کینې او تعصب سره نه جوړېده او په خپل ټول ژوند کې د مینې، زړه سوي او خواخوږۍ په څرک پسې هرې خوا ته سرګردان ګرځیده او ویل یې چې:

دهـمه خــلقــو نــظــر په خپل بهبود دی
په هرڅه کې ورته وړاندې خپل مقصود دی

چې څه درد دعشق لري ترې به زاريږم
کــه مــومېن دی کــه کافــردی که يهود دی

(منتخبات خوشال خټک، ۱۳۵ مخ )

د خوشال خټک په فکري او خيالي بازارکې د«عشق درد» – مېنه، عاطفه، خوا خوږي اوبل ته درناوي – وچت ارزښت لري اودا په حقيقت کې دانسانيت جوهرجوړوي. دا هم انساني اصل دی چې بېلابېل قومونه اوملتونه ځانګړی تاريخ، خپله ژبه، ځانته تاريخي – کلتوري ارزښتونه اوځنې نورې ځانګړتياو ې لري چې دخپل نوي نسل اوماشومانوسره يې شريکوي او هغوی ته قومي يا ملي هويت ورکوي اوله دې لارې يې په زړونوکې دخپل قوم يا ملت، دخپلې ژبې او کلتوري ارزښتونو سره د مېنې ريښې ورغځوي. بابا چې په پښتني کورنۍ کې دنيا ته راغلی او په پښتني چاپيريال کې لوی شوی دی، نو دشخصيت په وده کې يې خپلې کورنۍ او خپل چاپيريال ټاکونکۍ رول لوبولی دی اوله دې لارې يې کورنۍ او قوم په زړه کې ځای نيولی دی، کورنۍ او قوم په ګران وو او دهغوی له بېلتونه يې رنځ وړی دی.  دارنځ له کور او قومه لېرې، درنتبور په جيل کې، داسي بيانوي:

| | |
|---|---|
| چې پښتــون راتــه څوک ياد کا | پرې خوشال شم زړه مې ښاد کا |
| د دې خوشي ملک هر څه شته | خــو پښــتون، پښــتـني نه شته |
| چــې لــه ذاتــه پــکــې نـه وي | هـغــه ملــک تــوره تيــاره وي |

(د خوشال خټک کليات، ۸۴۹ مخ )

په پردي ملک کې نه خپله کورنۍ او نه نور خپلوان وي، نه کومه پيژند ګلوي اونه دمجلس پخواني خواږه ياران وي، نه مورنۍ ژبه، نه خپل تاريخي اوکلتوري ارزښتونه اونه خپل رواجونه وي. په کوم ملک کې چې دا نه وي، دخوشال په شان ولس پال ته هغه ملک په رښتيا توره تياره وي د ولس سره دخوشال دمېنې او دهغه دعملي ولس پالنې سمه اندازه دهغو خدمتونوله مخې ښه اټکل کېدای شي چې خپل قوم ته يې کړي دي. دی د قلم اوهم د تورې سړی و، په دې توپيرچې قلم يې د ديني فرض د اداکولواود دنياوي چارو دسمولو له پاره کارولې دی او تورې ته ډېرځله دزمانې جبر مجبورکړې دی. خو دخوشال په هکله په ډېرو ليکنو کې د قلم پر تله دهغه تورې ته زياته پاملرنه شوې ده، قلم يې دتورې ترسيورې

لاندي راوستلی دی. ځینوخو بیا یوازې دهغه جنګونه راته بیان کړي او شمېرلي دي اونور هرڅه یې په ځای پرېښودلي دي. دا په داسې حال کې چې دخوشال دشخصیت تاریخي امتیاز په توره نه بلکې په علم بنا واو دی. د پښتو ژبې خوږ ژبی شاعر، ادیب اوتاریخپوه عبدالباري جهاني د دې ټکي په اهمېت ښه پوه شوی دي او لیکي چې:

«هغه توره چې د خوشال خان سره وه هغه د یحیې خان، شهباز خان ، دریا خان ، باکو خان او بل هر قومې خان سره وه. ځینی به تر ده په مېړانه او زړه ورتوب کې کم وه، خو ځینی به حتی تر ده هم زړه ور وه. خو هغه قلم چې له ده سره وو هغه نه د پښتنو په تاریخ کې تر ده د مخه چا درلودلی دی او نه تر ده وروسته تر نن ورځې پورې چا ځغلولی دی.»(عبدالباري جهاني: خوشال خټک او دهغه عصر، ټول افغان، ۲۰۱۵/۱/۱۵ )

خوشال خټک دا اړتیاهم نه درلوده چې پښتنو ته توره ورزده کړي، ځکه په دې پو هیده چې پښتانه توریالی اوننګیالی قوم دی اوپه دې هنرکې له نورو قومونو وروسته نه دی پاتې. بابا وایې چې:

یوسفزیه مېر افغان دي — هم د توري هم د خوان دي
سزاوار دتاج وتخت دي — چې سر نه لري کم بخت دي
ننګ لري پښتانه واړه — ولې ننګ له د وي نه غواړه

(د خوشال خټک کلیات،.۸۵۹ مخ )

او زیاتوي چې:

تر مغولو پښتانه په توره ښه دي
که په پوهه پښتانه وای څه هوښیار

ا و لسونه چې سند وبله وکا
باد شاهان ورته سجود کا ندي اختیار

(د خوشال خټک کلیات، ۵۵۵ مخ )

خوشال خان په پښتنو کې څنې عیبونه او نیمګړتیاوي نه یوازې لیدلي بلکې راسپړلي او بیان کړي هم دي. په پښتو کې یو متل دی چې وایي: دوست به دې وژړوي او دښمن به دې وخندوي». یانې دا چې دوست به دې تیروتنو، نیمګړتیاوو او دهغوی پایلوته پام را واړوي او دښمن به دې بې ځایه ستا یې او باتې درکوي. دپښتون سره دخوشال دمینې تر ټولو ځلانده نښه داده چې نه یې بې ځایه ستایي او نه با تې ورکوي بلکې تر ټولو دمخه خپل قوم ته دهغه دژوند واقعیتونه ور ښیي، نیمګړتیاوې، عیبونه او دهغوی پایلې ور په ګوته کوي. نا پوهي، له علمه بېګانګي او کله کله خوسړي ته دا ګمان هم پیدا کېږي چې دعلم سره دښمني دخوشال خان په نظردپښتنولوی عیب دی چې ددې قوم د ستونځو او رنځونو سرچینه جوړوي. د هغو علمي څېړنوپه پایله کې چې بابا دخپل ولس په بېلابېلو قومونو کې ترسره کړي دي، څنې نورې نیګړتیاوي اوعیبونه هم په ګوته کړي دي، خو جهل او نا پو هي یې په ډېرو لیکنو کې بیا بیا تکرار کړي دي. دی لیکي چې:

تیرا مې ولېده راغلم ترسواته پښتون مې ولېد دا لوی لوی ذاته
عقل همـت مې د چا ونه لید په بیرته راغلم ناست یـم ملا ته

(د خوشال خټک کلیات، ۳۹۸ مخ )

او په بل ځای کې د زړه جوس دا سې اوباسي:

پښـتـانـه واړه جـاهـل دي خټک لا په خوی باطل دي
غـاړې،غـرونه یې ماوا دي د چـا ر پا یـو په ښرا دي
په سبق، په لوست ړانده دي مـقیـد پـه هـیڅ څیز نه دي

(د خوشال خټک کلیات، ۷۷۰ مخ)

پښتانه د ناپوهی او بې سوادی ترڅنګ په یوه بل تاریخي رنځ هم اخته وو چې تراوسه یې په وړاندې غوڅ بری نه دي تر لاسه کړي. دارنځ بې اتفاقي او خپل منځي جنګونه دي. خوشال خان نه یوازې د بې اتفاقیو، خپل منځي جګړو او غچ اخیستلو ملا ماتوونکې پایلې په ګوته اوبیان کړي دي، بلکې د دې رنځ دله منځه وړلو او دپښتنو د یوکولو په لار کې یې هم هیڅ ډول هلې ځلې نه دي سپمولي، خو کومې مثبتې پایلې ته نه دي رسیدلي، نو ځکه لیکي چې:
اتـفـاق پـه پـښـتـانه کې پیدا نه شو

ګنه مـا به دمغول ګـريـوان پاره کړ

(د خوشال ختک کايات، ۷۲۴ مخ)

او زياتوي چې:

نن به درست دهندوستان دولت د د وی و
پښتانه که کم همت نه وای جهال

که هر څو يې سازوم نه سازيږي
پښـتـانه د ي د کړو کانيـودېوال

(د خوشال خټک کليات،۵۶۹-۵۶۸ مخونه )

بابا دخپل ولس سره د ژو رې مېنې له مخې دهغه ټولنيز او کلتوري ژوند په دقت څېرلی دی، عيبونه او نيګړتيا وې يې راسپړلي، په ګوته کړي اوتر کلکې نيوکې لاندې نيولي دي، ځکه په دې ښه پو هيده چې هغه عيبونه او نيمګړتياوي چې بېوزلي، بې وسي اورنځونه پيدا کوي، بايد وپيژندل شي، په ډاګه شي او په وړاندې يې ګام پورته شي او که نه نوپه خپل عيب نه پوهيدل يا په هغه سترګې پټول او دهغه په وړاندې هيڅ نه کول په عيبو نو او نيمګړتياوو کې د ډوبېدو اودکمزورتيا او بېوزلې ددايمي کوربه کېدو مانا لري. نو ځکه په دې لاندې ځلوريزه کې يوځل بيا هغه عيبونه را په ګوته کوي چې له سره دپښتون قوم دملا تير ماتوي، بې وسی او بې وزلي يې دايمي کوي، دټولنيزاو اقتصلدي ژوند پرمختګ ډب کوي. خوشال خټک ليکي چې:

د ورکـزيــه د بنــګـښ د بــولاق نشته — يو انصاف دويم حکمت بل اتفاق
خدای دي ورک د پښتنو کا دا درې څيزه — يو بد جهل بل بد نيت دريم نفاق

(د خوشال خټک کليات، ۶۴۳ مخ )

د دې ځلوريزې په ځلورمه برخه کې « جهل » د « بد نيت » او « نفاق » نه وړاندې راغلی دی. مانا دا چې جهل سرچينه ده، بدنيت او نفاق ترې راوتلي دي. اويا دا چې جهل يې مور ده، بد نيت او نفاق يې ځيږولي دي او دژوند نوره ستونځې بې را پورته کړي دي. که څوک په ربښتيا په بدنيت، نفاق اونورو ټولنيزو او اقتصادي ستونځوباندي دبرلاسي فکر په سر کې ګرځوي، نو په فردي

او تولنیزه کچه به د جهل په ضد بې امنه مبارزه پیل کوي. خوشال خان دخپل قوم نا پو هي، دهغوی تر منځ بد نیتي او بې اتفا قي نه یوازې غندلي دي بلکې په پښتو ژبه یې له دې عیبونو او رنځونو نه دخلا صون لارې چارې هم ښو دلې دي چې د دې لیکنې په یوي راتلونکې برخې به مفصل وڅیړل شي. ده دخپلو څیړنو په بهیر کې په پښتني تولنه کې دښځو ژوند هم له پامه نه دي ایستلی. څیړنې یې ښیې چې په پښتنې تولنه کې دښځې په حقوقوسخت تیری کېږي، دانسان په سترګه نه ورته کتل کېږي اوښځه په حقیقت کې دسړي مال ګڼل کېږي. خور او لو رته دخپل برخلیک دټاکلو حق نه ورکول کېږي. په واده کولوکې دهغې دخوښې پروا نه ساتل کیږي. دخور او لوردراتلونکې مېړه شخصیت او اهلیت ته هم اهمیت نه ورکول کېږي. هغه چا ته یې واده کوي ، څوک چې ډیرې پیسې ورکوي. په حقیقت کې خور اولور په پیسو پلوري. ځکه چې:

پښتانه واړه نا دان د جهل کان دي
که دې واورید د یوسف لا په بل شان دي

سیوایې بدې د لور چې لونه پلوري
په دا څو ټوکه کې غرق دي مخ توري

په کم اصل په بد اصل نظر نه کا
د ټنــګو پــه لالـچ خــور او لــور واده کا

(د خوشال ختک کلیات،. ۹۱۲مخ )

د نا پوهی له کان څخه دا کلتور هم راوتلی و چې پښتانه به زوی ته خوشالیدل، خو دلور په زیږیدو به یې ویرونه کول.خوشال خان دا حالت نه مني. دواړه لور او زوی اولاد ګڼي اوزوی ته دلور پر تله کوم امتیاز نه ورکوي. څیړنوال عبدالرحیم بختانی خدمتګاردخوشال خان دستارنامې نومي اثر له مخې لیکي:

«د زوی په زوکړه ښادی ، اما د لور په زوکړه هم د لګیری نه بویه _ خدای زده چې بخت ، برکت په کوم کې ده ؟ او هم دا لونه دي چې مردان ترې پیدا کیږی ، که واړه زوی وی ، جهان به خراب شه»(څیړنوال عبدالرحیم بختانی خدمتګار: په دستار نامه کې ښوونیز او روزنیز اړ خونه، ټول افغان، ۲۰۱۰/۱/۲ ).

کله چې لور او زوی، یا ښځه او نارینه په بشري او حقوقي لحاظ سره برابر او یو شان دي، نو دواړه دزده کړې او پو هې ته دلاسرسي حق هم لري. په دې

هکله خدمتگار صاحب دهمدې لیکنې په بله برخه کې دبابا له دستار نامې نه دا جملې را نقلوي:

«لکه د زوی تربیت لازم دی ، مینه پری بویه هسی په لور مینه بویه بلکه لونه لاحقداري دي . د هلک والی د تربیت کار خو لکه د زوی هسی دلور ، امالور دې نازمین ساتله شی د عصمت ، د عفت ، د شرم ، د حیا ارشاد دی ورته کیږی»

دا په حقیقت دخپل ولس سره دخوشال خټک مینه او پیوستون ښیي چې په پښتو ژبه یې ورته دبېلابېلو پوهنیزو څانگو بنسټ جوړ کړی دی او په دې ترڅ کې یې دهغه تولنیزاوکلتوري ژوند هم تر ژورې څیړنې لاندې نیولی دی، نیمگړتیاوې، عیبونه اوارتیاوې یې ور په گوته کړي دي او پښتانه یې دپوهې، یوالي او پیوستون ولورته هڅولي دي. ورپسې به دپښتو ژبې په وړاندې دخوشال په دریځ یو څه بحث وکړو.

ج – خوشال خان د پښتو ژبې په وړاندې:

دخوشال خان په زمانه کې پارسي او عربي ژبې دسیمې معتبرې ژبې وې. دواړوژبو در بارونوته لارپیدا کړي وه او دهغوی له خوا یې پالنه کېدله. شاعرانو، ادیبانو او پوهانو یې د درباریه لورونه کې خپله برخه درلودله. نو ځکه یې دپام وړ پر مختګ هم کړی و. بابا په دې دواړو ژبو پوهېده او هندي ژبه یې هم زده کړې وه. پښتو سره حتی پښتنې درباریانو (سوریانو اولودیانو) هم ملګرتیا نه ده کړې اودهغوی پاملرنه یې نه ده لیدلې. پښتو ژبه په حقیقت کې له در بارونو دباندې، د بد یا، ژبه وه اولا هم ده. خوشال خان دپښتوژبې دامېرات او بې سرپرسته حالت داسې په گوته کړی دی:

که تازي ژبه هرگوره ښه ده فارسي هم ډېره په خوند خوږه ده
چا بې پلو دجمال وانه خیست پښـتو لا هسې بکـره پـرتــه ده

(د خوشال ختک کلیات، ۴۲۳ مخ ]

په دې نړۍ کې هر قوم، ولس یا ملت خپله ژبه لري، چې زده کړه یې دمور په غیږ کې پیل کیږي، نوځکه مورنۍ ژبه هم بلل کیږي. مورنۍ ژبه دمور او اولاد ترمنځ دمینې اوعاطفې دافادې اوبیانولو وسیله او دزده کړې او معرفت لومړۍ

سرچینه هم دی. مورنۍ ژبه مو دمور سره طبعي عاطفه او رابطه ساتي، نوځکه دمورنۍ ژبې ساتنه اوپالنه دمور مینې اوقربانیو ته د درناوي ماناهم لري. خپله ژبه مودوخت په بهیر کې دمورله غیږې بهر دقوم او ولس سره هم اړیکې تینګوي، ساتي، دهغه په یوالي کې مرسته کوي اوبلاخره دقوم یا ولس دهویت او د نورو ولسونو تر منځ دهغه د اعتبارد ساتلو ځواکمن بنسټ جوړوي. پاچا خان دخپلواوږدو سیاسي تجروبو په پایله کې لیکي چې:« کوم قوم ته چې خپله ژبه سپکه شي هغه سپک شي او چې خپله ژبه تر ې ورکه شي هغه ورک شي.»( عبدالغفار خان: زما ژوند اوجدوجهد، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۲ کال، ۳۳۳ مخ)

د دې له پاره چې قوم یې دتاریخ په پاڼه کې سپک او دتاریخ له پاڼې ورک نشي ننګیالی خوشال ددرباري ژبو له ټولو امتیازاتو تیرشو او دخپلې مورنۍ ژبې په ننګ یې قلم ته لاس کړاو خپل ټول ژوندیې دنورو ژبو سره سیالۍ ته د پښتو ژبې د وچتولو په لارکې تیر کړ. خوشال خټک لیکي چې:

پــه شــل کالــه کې دیګ زما د شعر په اور بارشو
پــه دا د ورمې پــوخ کړچې شپــیــته کاله مې تللي

پارسي شعــر مې هــم زده ســلیــقه لـــرم د د واړو
پښتو شعرمې خوښ شوهر څوک خپل ګڼي ښاغلي

(د خوشال خټک کلیات، ۶۳۷-۶۳۶ مخونه)

یانې داچې لومړی خپله ژبه بیا نورې ژبې دا په حقیقت کې په مورنۍ ژبه اوپښتني هویت دخوشال خټک هغه ننګ و چې اغیزې، نښې اونښانې یې دپښتون ولس په ژوند کې دتل له پاره پاتې کیږي او دتاریخ له پاڼو نه ورکیږي او دا په حقیت کې دمورنۍ ژبې او خپل ولس سره هغه مسته مینه او سرشار عشق وچې چې خوشال په کې دتل پاتې ژوند راز لیدلی وه دی ته هم باید پام وکړوچې که په لیکل شوی ژبه کې ډول ډول، علمي، ادبي، هنري او نور مطلبونه بیانیږي، نوشفا هي ژبه هم یوازې غږ نه دي بلکې له پیله مفهوم او مانا لري. هرکوچنی دمورنۍ ژبې دزده کړې په بهیر کې سیمه ئیزه پوهه زده کوي، په دماغ کې یې ذخیره کیږي او دنورې زده کړې بنسټ جوړوي، نو ځکه هغه کوچنیان چې په خپله ژبه زده کړو ته دوام ورکوي، استعدادونه یې هم ښه او ګړندی وده کوي. د دې لړی غوځول او په ښوونځیو او مدرسوکې په پردۍ ژبه زده کړو ته

دکوچنیانو مجبورول په حقیقت کې دهغوی په انساني استعداد یوبې رحمه تیری دی او دزده کړې دعادي بهیر مخنیوی دی. دا عمل دکوچنیانو استعدادونه ځپي او د زده کړې په لار کې خنډونه جوړوي. خوشال ختک دخپلې ژبې او خپل ولس په عشق کې په اوږدو هلو ځلو پښتو ژبه دودې هغه پړاو ته ورسوله چې پکې دنورو ژبو په شان د زده کړې امکانات پیدا شول.بابا لیکي:

که دنظـم کـه دنثـرکـه د خـط دی په پښـتو ژبه مې حق دی بې حسابه
نه پخوا پکې کتاب و نه یې خط و دا دی ما پکې تتصیف کړل څو کتابه

(د خوشال ختک کلیات، ۶۶۷مخ )

په دې توګه دپښتون بچیان په پردې ژبه د زده کړې له هغه جبر نه ازاد شول چې دپښتو ژبې دوروسته پاتې والي له امله ور سره مخامخ وو، پښتون ته په پښتو ژبه دعلم لار خلاصه شوه اوپه دې لار کې خوشال ختک خپله ونډه داسې بیانوي:

بند وبست د پښتو شعر ما پیداکړ ګڼه شعر دپښتو و غیر سال
مګر زه یې چې ګویا په شاعرې کړم پښتانه به یو هول ایزید تعال

(د خوشال ختک کلیات، ۵۶۶ مخ ]

او زیاتوي چې:

سیــه د ل د محبت د سوزه سازه خبر نه شول
په کار د پتـنګا نـو مچـا ن نــه د ي پوهېدلي

په وزن په مضمون په نزاکت هم په تشبیه کې
پښـتو ویـل مې عیـن تـر پـار سي دي رسولي

(د خوشال ختک کلیات، ۶۳۶-۶۳۵ مخونه )

دخوشال خان په نظر شعر دمبنې، خواخوږی او پیرزوینې وړاندیزاو ښکارندوی دی، نو ځکه دهر حریص او فاسق کار نه دي. دشعر مقام تر مادیاتو لوړ دی، په شعر سوداګرې نه کیږي، څوک یې چې په مال پلوري،هغه د شعر مقام او اخلاقي مضمون ته زیان رسوي. دی په دې باب لیکي چې:

شعر کار دهر فاسق دفاجر نه دي ... نه دهـریوه وړسترګي د کنګال
شعر کار دسالـک یا دمالـک دی ... دعاشق د ی د دردمن دی دابدال
دهـغه شـاعـر دانې وشـه په ژبه ... چې دشعر دردانې پلوري په مال

(د خوشال خټک کلیات، ۵۶۵ مخ )

خوشال خټک دخپلو ټولو علمي، ادبي او هنري هلو ځلو په بدل کې نه دکومې مادي ګټې په لټه کې واو نه یې تر لاسه کړي دي. هرڅه یې چې کړي دي سرچینه یې دبشریت، خپل قوم او دخپلې ژبې سره سرشاره مینه اود هغوی په وړاندې د مسئولیت ژور احساس و.

# دریم فصل

## خوشال خان او جنګ

### الف – د خوشال په سیاسي فلسفه کې د جنګ مقام:

په دې ځای کې دجنګ دتعریف نه تیریږم. ځکه چې جنګ د دوو تنو ترمنځ د لفظي جګړې نه را واخله بیا دهیوادونو تر منځ تروسله والې نښتې پو رې د لاملونو، موخو، تکتیک، ستراتیژۍ او جنګي وسایلو له مخې دومره ډیر ډولونه لري چې په یوه تعریف کې نه ځائیږي اوله بلې خوا دخوشال خان دوخت جنګونه دشلمې او یویشتمې پیړۍ له جنګونو سره ډیر توپیرونه هم لري چې په خپل وار دجنګ په تعریف کې نورې ستونځې رامنځ ته کوي. دخوشال خټک د جنګي وړتیا او مهارت ستاینه هم نه کوم او په دې پسې هم نه ګرځم چې له کوم جنګه بریالی راوتلی دی او کوم جنګ یې بایللی دی. په دې ځای کې غواړم پوه شم چې جنګ دبابا په سیاسي فلسفه او انساني وجدان کې کوم ځای درلود اوایا ننګیالی خوشال په ریښتیا جنګیالی خوشال و اوجنګ یې دژوند هدف ګرځولی واو کنه په جنګ یا جنګونو کې ښکیل شوی و. په دې هکله دځیرنې په بهیر کې لومړی دخوشال خان دې شعر سره مخامخ شوم:

اولیـا د اولیـا سـره بـد نه دي ... دا په دا چه یې د نفس نشته هوا
په دنیا دپاچا هانو سره ضد دی ... امـرا سـره د ښمـن دی امـرا

(منتخبات خوشال خټک، ۱۳ مخ )

اولیا دهرډول حرص او نفسي غوښتنو نه پاک، بې ریا او په بشپړه اخلاص دلوی پروردګار په ذکر او فکر مشغول او له دې امله دهغه لوي ذات نږدې دوستان دي. اولیا له بدو بد وړي اوتل ښیګڼې رسوي. دځان غوښتنې او ځانته غوښتنې فکرځنځیرونه یې شلولي، یوازې او یوازې دلوي څښتن درضایت په لټه کې دي. نوځکه په زړونو کې کینه اوحسد او په خپلو کې دلانجو اوجګړو موضوع هم نه لري او دیو بل سره په دوستۍ او مینه او محبت کې ژوند کوي. خو ننګیالی خټک دخپل وخت دوسله والو ځوا کونواعلا سرقومندانانو یانې پاچاهانو، آمرانو او هغوی ته ورته زور واکانو ته داولیا په سترګه نه ګوري بلکې دنفس او حرص غلامان او د زور او زرو لیوالان یې ګڼي چې شپه او ورځ دخزانو دپرسولو او دزورواکۍ دپراخولو په فکر کې دي. د بل پاچا یاامیر نظامي او مالي ځواک یې دستر ګو اغزی و. د شتمنۍ او زور واکۍ حرص یې ترمنځ بدګمانۍ را پارولې چې دښمنۍ تري

جوړېدلې او وسله والې جګړې ته رسیدلې. په جګړه کې زورورارخ کمزوری ماتوي، خزانې او شتمنۍ یې لوټوي، ولس یې استثماروي او خپل هر څه په منې. وینو چې دخوشال دسیاسي فکر له مخې د جنګ موخه اولا مل د پاچا ها نو، آمرانو او هغوی ته ورته زورواکانو د ټیټو نفسي غوښتنو یانې حرص څخه سرچینه اخلي او ګټه یې هم دوی ته رسیږي او دولسونو پراخې پر ګڼې پکې له هرې خوا ژوبلېږي. ولسونه د ولسونو سره دښمنۍ نه لري، دیواوبل په ضد نه جنګیږي، جګړې ته دپاچاهانو، امیرانو او یاد محلي زورواکانو له خوا مجبورېږي. لنډه دا چې خوشال خټک جنګ او جنګ غوښتنه داسلامي اخلاقو، دانساني عقل اووجدان ضد عمل اودنفس او حرص دغلامۍ او دبې عقلۍ پایله ګڼي او په یو بل ځای کې لیکي چې:

| | |
|---|---|
| عقل وهوش بې وسرې وته پیداکړ | دا چېچل داړل د پـړانګ وو یا د یږ |
| دا بېدرد که په ظاهرسړی لیده شي | وخوشال ته مچ مېږی دی ماشي سېږ |

(منتخبات خوشال، ۵۰ مخ )

چېچل او داړل د یږواو پړانګانوکاردی. عاقل انسان نه داړل کوي، نه جنګ کوي او نه چېچل کوي. یانې عقل دجنګ اړتیا کمزورې کوي اوبې عقلي دجنګ

خطر زیاتوي. خوشال خټک دعاقل یا هوښیاراو دبې عقله او یا ناپوه تر منځ یو توپیر په دې کېویني چې:

هوښیار هغه دی چې سخت جنګونه  تر خیره راولي په فرسنګونه
نادان هغه دی چې په کار د سولې  ګډ کا د شـروفسـا د رنـګونه

(د خوشال خټک کلیات، ۴۳۶ مخ)

په بل ځای کې لیکي چې:

ځوک چې له خلکه شوروغوغا کا  نادان حریص دی، هغه چې دا کا
چې عاقلان دي، چې صابران دي  هغـه به کـله جنـجا ل له چا کـا

( د خوشال خټک کلیات، ۳۷۳ مخ )

جنګ – که د امپراتوریواو هیوادونواوکه په قومونواو کلیو اوباندو کې وي – دولسونو آرامی او هوسایی ته زیان رسوي، اوپه جنګ دښمني او دښمنان له منځه نه ځي بلکې کېږي، دښمنی او دښمنان لا زیاتوي. خوشال خټک په دې عقیده دی چې دوستي د دښمنې او دښمنانو د له منځه وړلوترټولوښه او حتی یوازنی لار ده. یانې که ځوک غواړي چې دښمن له سره ورک کړي نو له هغه دې دوست جوړکړي. بابا ټینګار کوي چې:

هوښیا ر هغه دی چې ډ یر د وستان لري
په دښمـنا نو باندې احسان لري
دښمن دي دوست کا دوست دي دښمن نه کا
خوږ دي د هر چا سره ژبان لري

( د خوشال خټک کلیات، ۵۳۷ مخ )

وینو چې خوشال خټک نه یوازې شخړه او دښمني غندي بلکې له جنګ دسولې او له دښمنۍ د دوستۍ په لور هلې ځلې دیني مکلفیت او وچت اخلاقي ارزښت هم ګڼي او لیکي چې:

ځوک چې آشتي غواړي که دی غلیم دی  والصلح خیر ځای دتسلیم دی
عـفـو بـهـتـره تـر ا نـتـقـا مـه ده  نیـکي په بد و کا ر د کریم دي

(د خوشال خټک کلیات، ۴۴۳ مخ )

په غچ او انتقام اخیستنه کې تیرى او تیروتنې هم کېږي چې بد ترې جوړېږي خو په بخښنه کې هیڅ ډول تیرى اوتیر وتنه نه ځائیږي بلکې له سره نیکي ده اونیکې په بدودکریم کار ګڼل کېږي. نو ځکه بابا ټینګار کوي چې:

ښــه سړى د چا پــه بــد ونظـر نه کا
که څوک بد ورسره کاندي دى به ښه کا

پــه بــارداره ونــه تــل وریږي کاڼې
ورته ګوره چې باردار ونه څه کــــــا

دا په دي چې خود ببني ورسره نشته
د جهان ننـداره ځـــــکه د وه لیـمه کـا

(همدا اثر، ۱۵ مخ)

او په یوه بل ځاى کې لیکي چې:

راشــــــه ښیــګـنه دونې ګــوره
په سنګ بې وولـه، مېوه درواچوي

خپل ځان په نمرکا، بل کا په سیوره
خصلت له ونې واخـلـه اى وروره

(د خوشال کلیات، ۴۱۶ مخ)

دخوشال خټک دا پورتنې ځرګندونې راښیي چې جنګ دده په سیاسي فلسفه کې چندان ښه مقام نه لري، جنګ دانساني عقل، اخلاقو اوله سره دانسانیت ضد عمل ګڼي اوتر دې چې کوچنې تاوتریخوالي ته په بده سسترګه ګوري او انسان دانسان په وړاندې تیریدنې، حوصلې، خواخوږى اوښیګڼې ته را بولي. په خواښینې سره باید ووایم چې په ډیرو لیکنو کې دخوشال خان نظامي پوهه، دلښکر سوق او اداره، په جګړې کې دهغه شخصي وړتیا له سره جنګ بلل کېږي، خو دجنګ په وړاندې دهغه سیاسي دریځ هیڅ په پام کې نه نیول کېږي، نوځکه دننګیالي بابا نه جنګیالى خوشال جوړېږي او دجنګ غوښتلو او په جنګ کې دښکېل کېدلو تر منځ تو پیر ورکېږي. د دې برخې په « ب» جز کې په همدې ټکې هم یو څه بحث کېږي.

ب ـ د مغلو په پلوی د پښتنو سره د خوشال خان جګړې؟

په پښتو ویکیپیډیا کې لولم چې:« دا خو ټولو ته معلومه ده چې خوشال خان خپل نیم عمر یازیات او کم دمغلو په طرفدارۍ کې تیر کړي دی...... او دهغوی په ګټه یې دخپلو پښتنو سره جګړې کړي دي.»( پښتوویکیپیډ یا]. لیکونکي دخپلې ادعا دثبوت له پاره کومه سرچینه نه ده په ګوته کړې، نو ځکه څه چې په دې پورته کرښو کې بیان شوی دي، د خوشال د سیاسي ژوند په هکله مستند او په دي توګه دباوروړمالومات نه دي، بلکې زما په خیال په بېره له ګیډې راایستل شوی افواهات دي. دابناغلی د خپلې ادعا دثبوت له پاره کوم سند نه وړاندې کوي او یوازې دخپلې ګیډې په بادو ډه ده لګوي. رښتیا دادی چې خوشال پیژندونکي او دهغوی په ډله کې محمد آصف صمیم خوشال خټک« شاعر، شعر پوه او هنر مند خوشال، دینپوه او فقیه خوشال، عارف خوشال، طبیب اورنځور پوه خوشال، ټبرپوه او وګړپوه خوشال، ښوونپوه خوشال، باز پوه اوباز پال خوشال، تاریخپوه او جغرافیه پوه خوشال، سیاستوال اوسیاستپوه خوشال،ستور پوه خوشال، اخلاقپوه خوشال او...» بولي.

(د خوشال خټک کلیات،.لومړی مخ )

او خوشال خټک په دې پوهنیزو او هنري څانګو کې څه دپاسه دوه سوه آثار لیکلي دي. دکار کمیت او کیفیت ته په کتو سره په ډاډ ویل کیدای شي چې خوشال خان خټک دخپل خواږه عمرتر نیمایې ډیره

برخه په زده کړو، څیړنو اولیکنو تیره کړې ده اودا کار یې دمغلو دخوشالولو او دهغوی دګټو دساتلو له پاره نه، بلکې دفرض دادا کولو، دخدای مخلوق او تر ټولو دمخه پښتون ولس ته دخدمت کولو له پاره کړی دی. بابا په دې عقیده دی چې:

زده کـول دعلم فرض دي | په مېړو په ښځو قرض دي
صد رحمت په هغه باندې | چـــې طلـــب دعـــلـم کاندي
پیـــغـمـــبر د ي فـرمایلي | ده تـــر پـــا کـــې خولې ایستلي
عـلـــم واړه عـــبا دت دی | څـــو چـــې کـیږي سعادت دی

(د خوشال خټک کلیات،.۹۹۸ مخ)

دا منو چې خوشال خان په هغو جګړو کې هم ښکېل شوی دی چې دخټکو اونوروپښتني کامونو ـ یوسفزیو او بنګښو ـ تر منځ شوی دي او ددې جګړو له فرهارونو نه یې دا شکایتونه هم کړي دي:

که د جنګ د فــرهــارونو د رته وایم
چې لــه د رده مــې پــه تــن و لــکــه نــال

یوفرهار مي به لا روغ په وجود نه و
بــل فـرهـار مي بــه پــه تــن شو یا په ډال

چې قضا دسړي نه وي سړی نه مري
که یې درست صورت په غشو شي غربال

(د خوشال ختک کلیات،۵۶۸ مخ )

د پښتني کامونو تر منځ د ټولو جګړو بنسټیز لاملونه دمغولي دولت سره د خوشال خان او دهغه د کورنۍ اړیکي نه وو. په هند کې مغولي دولت ډیر ملتیز دو لت و چې دپښتنو یو زیات شمېر کامونو یې هم یوه برخه جوړوله. په دې وخت کې دملت او یا دملي دولت دجوړولو فکرنه په پښتنواو نه دمغولي امپرا توری په نورو کامونو کې راټوکېدلی و. دا هم باید په ګوته شي چې د ملت اوملي دولت مفهومونه دبشریت دټولنیز ژوند طبعي اړتیا او شرایط هم نه ګڼل کیږي او دواړه دتاریخ په اوږدو کې را پیدا کیږي یاني طبعي نه دي، تاریخي دي. په اروپا کې دملي دولت مفکوره په ۱۸ مېلادي پیړۍ کې دسیاست مرکز وګرځیده.(الماني ویکیپیډیا]

دشاجهان د واکمنې تر پایه پورې دمغولي امپراتورۍ په سیاسي سیمه کې پراته ولسونه دملت او یا د ملي دولت د جوړونې په فکر کې نه وو. عبدالباري جهاني لیکي چې:« د خوشال خان ختک او له

هغه څخه مخکې او وروسته کلونو کې ډهلي او آګره د مسلمانانو د قدرت مرکزونه ول چې د پیړیو راهیسی د مسلمانانو په لاس کې ول، او پښتنو هغو ته د بیګانه په سترګه نه بلکه د مسلمانانو په سترګه کتل.»( عبدالباري جهاني:

دخوشال...) یاني په ډهلي اوآګره کې په تخت ناست مسلمان شاهان د مسلمان رعیت له پاره اولاامرا وو. په هغه وخت کې دامپراتورۍ په سیاسي سیمه کې پرتو ولسونو ترمنځ قومي سرې کربښې نه وې پرتې اوحتی تر دې چې:

«د مغولو د شاهنشاهانو او نورو لویو پاچاهانو او فاتحینو په خدمت کې درېدل ، دهغوی دپاره توري وهل، د هغوی دپاره د اولسونو اېلول او د ښارونو فتح کول د هر سپه سالار او جا ګیردار او په مجموع کې د هري قبېلې او قوم ښېل افتخار وو.» ( همدا لیکنه]،

نوځکه ځنې نورو پښتني قبایلو د بېلګې په توګه یوسفزیو هم په خپل واردا هڅې کړي دي چې دمغول شاهانو له درباره دجا ګردارۍ امتیاز تر لاسه کړي اویو شمېر زیاتو پښتنودمغلو په دربار کې لوی لوی منصبونه هم درلودل. نوځکه ویلی شو چې دوخت دشرایطو سره سم دمغولو او خټکو تر منځ اړیکې په یوه مشروع سیاسي بنسټ بنا وې. دخوشال خان دکورنۍ او دمغولي دربار ترمنځ تر اړیکو لا په خوا « خټک له خپل لومړني ټاټوبي څخه په زور ایستل سوي او دغی اوسنی سیمي ته په مهاجرت کولو مجبور سوي دي. طبیعی خبره ده چې په خپل وروستي ټاټوبي کې هم نورو شاوخوا پښتني قبایلو پر ارامه نه دي پرې ایښي. دغه علت دی چې د خوشال خان د کورنۍ مشران، په عمومي صورت، د نورو قبایلو او د خټکو د لویې قبېلې په دننه کې د خپلو تربرونو سره په جنګونو کې وژل سوي او یا یې ټول عمر په جنګونو کې تیر کړي او پر نورو یې وار د مخه کړي دی.»(همدا لیکنه)

په دي وخت کې هم دپښتنو په بېلا بېلو قبایلو لوی او واړه خانان واکمن وو چې د قبېلو په یوالي اود واک اوځواک په مرکزي کېدو کې یې دخپلې خانی اوقبېلوي واک ځوال لیده. نوخکه یې نه یوازې دپښتني قبېلو دیوالي له پاره هلې ځلې نه کولې بلکې مخه یې هم نیوله. « دا هغه زمانه وه چې د پښتنو لوی قبایل د خپلو سیمو د ساتلو او د نورو قبېلو د مځکو د لاندي کولو او مالونو ترلاسه کولو او بدل اخیستلو دپاره په خپلو کې په جګړو کې لګیا وه. د خټکو قبېله نه یوازي د یوسفزیو او بنګښو په شان لویو قبایلو سره په جګړه لګیا وه، بلکه د خټکو د قبېلې د تري او بولاق لویې او مهمي څانګی هم په خپلو کې په داخلي جنګونو لګیا وې.»( همدا لیکنه]  داسې ښکاري چې د ښکېلو اړخونو ترمنځ دا داخلي جنګونه چې« دنورو قبېلو د لاندې کولواو مالونو ترلاسه کولواو دبدل داخیستلو دپاره» کېدل، نه دمغولي دولت په ضد وو اونه دهغه په پلوۍ، بلکې هره قبېله

دخپلو ګټو له پاره دبلي قبیلي په خلاف جنګیده. او له بلي خواڅوک چې دخوشال خټک جګړې څیړي نو دې ته یې هم باید پام وي چې دختکو او دنورو پښتني قبایلو تر منځ ټولې جګړې دخوشال جګړې نه دي، دی دهغو جګړو مسئولیت په غاړه لري چې په خپله یې پلان او پیل کړې وي. ښاغلي محمد خان احمدي « دخوشال مهمو جګړو ته لنډه کتنه» تر سرلیک لاندې د۲۰۱۶ مېلادي کال دمې په ۱۶ نیټه په نن ټکي اسیا کې یوه لیکنه خپره

کړې ده، چې په کې هغو جګړو ته لنډه کتنه شوې ده، چې دخوشال په ګډون د ختکو اونورو پښتني قبېلو ـ یوسفزیو اوبنګښو ـ ترمنځ شوی دي. دختکو او یوسفزیوترمنځ لومړۍ جګړه چې خوشال خان په کې ګډون کړي و په ۱۰۳۵ هـ ق کال کې پیښه شوه. لا مل یې په ختکو د یوسفزیو برید و. دری مېاشتي وروسته ختکو په یوسفزیو دغچ اخیستني بریدوکړ. ۱۵ کاله وروسته په ۱۰۵۰ هـ ق کال کې د دواړو قبېلو تر منځ د بلې جګړه دمالیې په سر پیښه شوه. یوسفزیو دمالیې ورکولو نه انکار وکړاو ختکو یې په خلاف جنګ پیل کړ. دادختکو او یوسفزیو تر منځ یوازېنی جنګ و چې په کې دمغولي دولت ګټې شاملې ښکاري. په دری واړو جګړو کې د ختک قبېلې خاني او د لښکر مشري د خوشال خان دپلار شهباز خان په لاس کې وه او خوشال خان په کې دیوه سرتیري رول لوبولی دی. شهباز خان په دې جنګ کې سخت ټپي شو او د دې ټپونو له امله مړ شو. د ختکو خاني او دلښکر مشري دخوشال خان په غاړه شوه. دوخت قبېلوي قوانینو او ارزښتونو له مخې خوشال خان ځان مجبورګانه چې تر هرڅه دمخه دخپل پلار غچ واخلي، نو د مغولي دولت دګټو له پاره نه بلکې دپلار دغچ اخیستو له پاره یې په یوسفزیو برید وکړ. داسې ښکاري چې دا د ختکو لومړی جنګ و چې د خوشال په مشرۍ پلان او پیل شو.

ښاغلی محمد خان احمدي هغه جنګ هم په ګوته کړي دی چې په۱۰۶۳ هـ ق دختکو او بنګښو تر منځ شوی دی. دی « د دې جنګ لامل د بولاقو کلا» په سر د بنګښو او ختکو تر منځ اختلاف بولي اوپه ۱۰۷۰ هـ ق کال کې دختکو او یوسفزیو تر منځ جنګ او په همدې ډول په ۱۰۸۶ او۱۰۹۱ هـ ق کلونو کې دختکو او بنګښو تر منځ جګړو لاملونه له سره نه په ګوته کوي. زه دانه وایم چې خوشال خټک دمغولي دولت دافسر په توګه دپښتنو سره نه دی جنګیدلی، خودغه ادعا چې ګوندې خوشال خټک دخپل عمر تر نیما یې زیاته برخه دمغلو په پلوې دپښتنو په ضد جنګونو کې تیره کړې ده، په داسې اسنادو نه ده بنا چې دباور وړ وي.

د خوشال خټک او دمغولي دولت تر منځ داړیکو څیړلو له پاره باید په دې هم پوه شو چې خوشال یو سیاسي شخصیت، سیاستپوه اوسیاستوال و. دمغولي دولت سره یې اړیکې هم شخصي نه بلکې سیاسي وې. دانسانیت سره خوا خوږي، دانسان فردي ازادي، دهغه پت اوعزت دخوشال خټک دسیاسي فکر او انساني وجدان په مرکز کې ځای نیولې و او همېشه په دې لټه کې و چې:

که څوک پیدا شي چې عدل و داد کا          غـوږ د د رد منو پــه داد فریاد که
چې مــقرب دي عرض یې لګیږی          عمر یې ډیر شه خو شال دی یاد که

(د خوشال خټک کلیات،.۳۷۵ مخ )

ټول کورني او بهرني تاریخ پوهان په یوه خوله وایي چې دمغول شاهانو په لړی کې جلال الدین اکبر(۱۵۵۶ ـ ۱۶۰۵ مېلادي)، محمد خان سلیم جهانګیر(۱۶۰۵ ـ۱۶۲۷ مېلادي) او محمد خرم شاه جهان(۱۶۲۷ ـ ۱۶۵۸ مېلادي) د نورو ټولو پر تله بې تعصبه، پوه، عادل اود رعیت په وړاندې دنرم چلند خاوندان وو. دشعر، ادب او هنر سره یې ډیره مینه درلوده، پارسي ژبې ته یې، چې هغه وخت د دربار ژبه وه، هم زیاته پاملرنه وکړه. د د وي په زمانه کې دمغولي هند په ځمکه داسې محلونه جوړ شول چې د دې مځکې مخ یې لا تر اوسه ښکلي ساتلی دی. خوشال خان ددوی سیاسي، ټولنیزواو اقتصادي نظریو اوکړووړو ته سم پام واو « د ډیلي دښار مختصر تاریخ او بیان»یې کې دهغوی پایلې داسې بیان کړي دي:

بیا له پسه دهمــایون زویــه اکبر شو          چې وهرلوري ته مل دده نصرت و
بیــا له پسه جــها نګیــرد اکبــرزویه          چې د ده پــه دور هنــد لکه جنت و
اوس بادشاه شاه جهان دجهانګیر دی          چې په بلخ او بــدخشان دده نوبت و
دا زینت چې شاه جهان وډیلي ورکړ          بــل باد شاه کلــه ورکړي دا زینت و

(د خوشال خټک کلیات، ۵۹۳-۵۹۱ مخونه )

دې شاهانود خپلو کاري او صادقو همکارانوزیات درناوی هم کاوه او دهغوی خاطر یې ساته. داسې ښکاري چې په سیاسي او ټولنیزو چارو کې د دوی او خوشال خان فکرونه سره نږدې او یو بل ته ورته ووااو دانږدېوالی د دوی تر منځ په اړیکو باند ې بې اغیزې نه دی پاتې شوی. خوشال خټک ته دا هم مالومه

وه چې په خدمت کې صداقت ته يې دجهان ګير اوشاه جهان په در بارونو کې په درنه سترګه کتل کېده اوارزښت ور کول کېده او ورسره سم په دربار کې دهغه درناوی هم زياتيده، خو داورنګزيب په پاچاهۍ کې هر څه بل شان شول. دي په دې هکله ليکي چې:

کــه سره که نا سره راته مـعلوم دي
پـه کار کې پـه معنـــی لکـه محـک يم

يا زه بازوم يا شاهين وشاه جهان ته
اورنګزيب وته کارغه يا مښګيرک يم

او زياتو ي چې:

هغه زيست چې دعـزت له مخه نه وي
چې يې کا په هغه زيست پورې هک پک يم

اوريې پورې په منصب په نوکری شه
چې تر فهم وتـر نظـر دمغـول کک يم

(د خوشال ختک کليان، ۵۷۸ مخ )

په دې ځای کې خوشال خان له يوي خوا دشاه جهان او اورنګزيب د سياستونو تر منځ تو پير په ګوته کوي او له بلې خوا دا ګواښ هم کوي چې تر هر ډول شرايطو لاندې د مغولو خدمت ته نه دی تيار، ځکه چې د ده په فکر کې ژوند اوعزت سره تړلي دي، بې عزته ژوند دکړو نه دی اود اورنګ په سلطنت کې دژوند پت اوعزت دخطر سره مخامخ دی. که خوشال ته په دقت غوږ ونيسون نو ترې ښکارې چې دده او اورنګ تر منځ اختلافونه موجود وو اودا اختلافونه شخصي نه بلکې سياسيي وو، ځکه دی وايې:

چې يې وخت د پلارنيکه و — هومره بند په دا ځای نه و
چې با چا دهند اورنګ شه — بېدادی شوه جهان تنګ شه

د کوټونو بند يان ډير شول — ترحساب ترشماره تيرشول
هم رانی، راجګان بند دي — شير خواره هلـــکان بند دي
(د خوشال ختک کليات، ۸۵۱ مخ )

داورنګزیب په دې تنګ او له بېدادئ ډک جهان کې د عدا لت اوازدای سرلښکر خوشال خټک نه ځائیده، ترې راوګرځیده، ورسره مخالف شو، تردې چې ورسره وجنګیده.

## ج – خوشال د افغان په ننګ د مغول سره په جنګ:

په دې هکله چې خوشال ولې او څنګه د مغولو له ملګرتیا څخه لا س واخیست، ډیر څه لیکل شوي دي اوهر چا یو څه ویلي دي، خوتول یې لږ یا ډیر له هغه څه سره توپیر لري چې خوشال خټک په دې هکله په خپل قلم لیکلي دي. دبېلګې په توګه یوځل بیا دېښتو ویکېپیډ یا نه یوڅو جملې را اخلم چې وایې:

«خوشال ډېر وخت د مغولو پلوي وکړه تر څو چې بندي هند ته واستول شو . خو کله چې دی بندی شو نو په بند کې یې داسې فکر وکړ چې پلار، نیکه ، غورنیکه او پخپله مې څومره د مغولو طرفداري وکړه او د هغې په غلامۍ کې مې وخت تېر کړ ، خو بیا یې هم ماته کومه ګټه ونه رسېده، نو هغه وو چې دده په فکر کې مکمل بدلون راغی....» په دې ځای کې دخوشال خټک دپلار، نیکه او غور نیکه سره غرض نه لرم، له دوی څخه دخوشال خان په شان پوهنیزي او ادبي لیکنې نه دي را پاتې، چې له مخې یې دژوند له بهیر سره اشنا شم، خو دخوشال خان دعلومو او فنونو په روڼ دریاب کې دهغه سیاسي ژوند هرڅوک لیدلی او لوستلی شي. دپورتنیو جملو لیکونکی به دلته اوهلته دخوشال خټک په هکله لږ یا ډیر څه لوستلي وي خوداسې ښکاري چې دهغه له لیکنو نه یې ډیرڅه نه دي لیدلي. نوځکه یې پورتنې کرښې هم یو څه په بېړه او دخوشال خان دلیکنو نه د بې خبرۍ په عالم کې لیکلي دي. لیکونکئ په دې کرښو کې دمغلو« طرفداري » او دمغلو« غلامي» په یوه لوښي کې اچوي. داهم په داسې حال کې چې نن سبا هرڅوک په دې پوهیږي چې د یوچا طرفداري دهغه دغلامۍ مانا نه لري. دچا طرفداري او یا دهغه مخالفت دازاد انسان په ازاده اراده پورې اړه لري، خوغلام ازاده اراده نه لري، هغه د فکري اوجسمي ازاد ۍ خاوند نه دی ، ښښتن لري او دخپل ښښتن قانوني مال دی. ښښتن کولی شي چې غلام وپیري او یایې وپلوري، په کرایه یې راونیسي اویایې بل چا ته په کرا یه ور کړي. کله چې ښښتن مړشي غلام یې اولاد ته په مېراث پا تې کیږي. خو د خوشال خان دشخصیت یو مهم بعد اودهغه د تاریخي شهرت یومهم علت د ده ازاد طبیعت اوازاده اراده ده. ازادي نه یوازې دخوشال خټک دژوند سره تړلی صفت وبلکې

په خپل وخت کې دجسمي اوفکري غلامي ضد مبارزې مخکښ او سرلښکرهم و. نه چرته غلام شوی دی اونه يې ځان غلام بللی دی. ديوانونه اوشعرونه يې دازادۍ داسې وړمې خپروي چې دازادۍ ارادې اوازاد وجدان روح تازه کوي. ده په ډېرو شعرونو کې نه يوازې دخپل پلاردعزت ساتنې، عزت پالنې اوازادطبيعت يادونه کړې ده بلکې هغه يې دخپل ژوند لاره هم بللې ده. خوشال خان دخپل پلار شهباز خان ازاد اوسرشاره طبيعت داسې ستايي:

زماپلار په ګور يې نور شه / يـو ريښتينی و هـرګـوره
بــل د خپــل عــزت د پــاره / تير تر سر و تير تر کوره
دبادشاه زياتی يې نه وړه / سر يې خلاص نه و له شوره
تل په خيال د مېړنتوب و / ځــو چــې ورغــی تــر ګوره

(د خوشال خټک کليات، ۶۵۰ مخ )

او دا هغه خوشال دی چې وايي:

هغه زيست چې دعزت له مخه نه وي
چې يې کا په هغه زيست پورې هک پک يم

هر افسرچې سرکوزي له مانه غواړي
د هــغــه د ســـر يـــا تـــوره يـــا تو پک يم

(انتخاب خوشال خټک، ۶۶ ـ ۶۷ مخونه )

نه خوشال خټک او نه يې پلار زور اوزورورواو نه يې سرو يا سپينو زرو ته سر ټيټ کړی دی، بلکې دننګ او همت په وزرو يې ازاد او سر لوړی ژوند تير کړي دی. لکه چې وايي:

نه زه ملک غواړم نه مال / نه د دهــر نــور جنجال
نه په تـلـه د جهان غم دی / نه په راغله يم خوشال
دا سـفـل فـکرونـه نـه کا / پــه اعـلا خـتـلـی قا ل
په اسمان باندې پيره کړم / د هــمــت پــه پــروبال
(انتخاب خوشال خټک، ۶۵ مخ )

خوشال خټک له ماشومتوبه دازادۍ په خوند پوهېدلی، دازادۍ په عشق کې يې ژوند کړی او دازادۍ سره يې برخليک تړلی و. دی همت دازاد ژوند بنسټ بولي

او په دې عقيده دی چې همتناک دهمت په برکت دغلامی ځنځيرون شلوي اوخپله ازادې ساتي او ليکي چې:

خسيس چې مال لري پري خاد به نه شي     بنده بنده دی آزاد به نه شي
چــې همـتنا ک د ي هــغــه آ زا د دي     آزاد آزاد دي عباد به نه شي

(د خوشال خټک کليات، ۴۷۳ مخ )

بل داچې ددې برخې د-ب- په پروکي کې مو هڅه وکړه ترڅوښکاره کړوچې دخوشال خان او مغولي دولت ترمنځ دهمکارې په وخت کې دملت او ملي دولت جوړوني فکرپه ټوله سيمه کې له سره نه و پيداشوی. د دوی ترمنځ اړيکې په ګډه عقيده« داسلام مبارک دين » اوورته سياسي مفکوره«انصاف او عدالت» بنا وې، نه دخوشال په شخصي ګټو. خوشال خان خټک دشخصي ګټولېوال نه و، هغه يوننګيالی واوتل د« ننګ او نام » نه دمال اوسر قربانولو ته تيارو اوويل به يې چې:

په خپل نام وننــګ چې راشم ليونی شم
خـبـرد ا ر پــه سـود وزيان کله دلک يم

دوښــو جــونګړه داسې را ته ښکارې
لـکـــه نـا ست پــه مـحـلونو دآهک يم

(انتخاب خوشال خټک، ۶۶ ـ ۶۷ مخونه)

دخوشال خان ا ومغولي دربار تر منځ اړيکې له سره شخصي نه وي بلکې سياسي وې، نوځکه دښه کېدواو خرابېدو لاملونه يې هم سياسي وو. په دې اړيکوکې هغه وخت دبدلون نښې اونښانې راښکاره شوی چې د شاه جهان په ځای دهغه زوی اورنګزيب ( ۱۶۵۸ ـ۱۷۰۷ ميلادي) د ډهلي په تخت کښيناست اودپلار او نيکه سياسي اوټولنيزه تګلار يې پرېښوده او په بله لار روان شو. وايي چې دی په ځان مين او مغرور سړی و، دچا سلا او مشهورې ته يې غوږ نه نيو. په غيرمسلمانو باندې يې د جلال الدين اکبر له خوا لغو شوی جزيه بېرته جارې کړه، دهندوانو ډېر معبدونه يې وران کړل او دهندوانو اومسلمانانو تر منځ يې تعصبونه راوپارول. دتخت اوتاج له پاره يې خپل پلار او ورونه ووژل. په ملک کې ظلم او بېعدالتي او ورسره سم بغاوتونه او نا آرامي زياتې شوې. (

الماني ویکیپیډ یا )خوشال خټک په خپل وار داورنګزیب د سیاست ارزونه په لاندې ټکو کړې ده:

اورنګ شاه با د شاه که تل کا هسې چارې
لکـه ا و س یــې پـه لاس ونــیوي امان

یا سرکـا ل یا په بل کا ل به خلـک واوري
چې جـویـونـه شـي دسـرو ویـنو روان

چې زړه سوی په پلار په زویه باندې نه کا
د هـغـه بـه څــه صرفـه وي پـه جهان

له غروره هســې مســت بې خوده لاړ دی
چې نظـر یې هــورې پـا س دی په اسمان

د د ا د خـواه څــواب لاتــی یا کـوتک دی
په در بار چې یې غـوغــا کا داد خواهان

و بـه نـه وا یي چـې ولــې د ا د څه کړل؟
که په ملــک یې قتــل عا م کا ندي خانان

رفتــکي، بـدې، رشــوت، حمــا یت بویه
که څوک غواړي دخپل کار سراو سامان

دهـرچا څخــه چــې د ا څیـزونـه نـه وي
په د ربا ر به ســر ګشتـه ګرځي حیران

(د خوشال کلیات، ۵۸۲ او ۵۸۳ مخونه)

د څوشال خټک په دې څرګندونو کې ښکاره سیاسي پیغام پروت دی چې نه یوازې داورنګ په کورني او نړولنیز سیاست کلکه نیوکه کوي بلکي دا هم ښیي چې دی ( خوشال خان ) داسیاست نه مني او په دې لار نه ور سره ځي، ځکه چې پایله یې دبغاوتونو راپارول او وینو تویول دي. له څرګندونو داهم ښکارې چې خوشال نورداورنګ جاري سیاست سره نه جوړېده، خو دهغه په خلاف یې د وسله وال پا څون نیت هم نه درلوده. د مغولو سره داړیکو په دې پړاوکې خوشال خان د مغولو سره نه بلکې یوازې داورنګزیب د سیاسي

اوټولنیزوکړنوسره په مخالفت لاس پورې کړی دی. ده ته د اورنګ ټولنیز سیاست داسلام دمبین دین داصولوسره برابر نه ښکاریده او دهغه په مسلمانی یې شک درلوده. نو ځکه یې دهغه له اطاعته لاس واخیست، په خلاف یې دوسلوال پاڅون نیت لا نه درلود. په دې هکله خوشال خان لیکي چې:

دفسا د فکـر مي نشته خدای حاضر دی
خپل ساعت بـه تیـروم عمر آخر دی

اطاعـت د اولـوالامــرو ځــکه نه کړم
خلیـفـه د زمــاني پــه ز ړه کافــر دی

پلا ر یې او واژه پــه بند وروڼه په توره
پــه آزار د مـــومـنـــانــو بـها د ر دی

دابلېس غوندي مکرونه یې په زړه کښې
پـه فریـب کې له ابلېـس ځنې ماهـردی

د چا زړه به ځـنې روغ په د نیا نه وي
دخوشال خټک چې چاودځنې خاطردی

(انتخاب خوشال خټک، ۱۳۶مخ )

داورنګزیب په هکله خوشال خان په خپلو ټولو شعرونوکې دهغه کورنی او ټولنیز سیاست څیړلی اوترنیوکې لاندې نیولې دی اوهغه یې ظالم، مغرور او دوه مخی باد شاه بللی دی. د شعرونو څخه یې دا هم څرګندیږي چې خوشال خټک تر دې وخته د مغول سره نه بلکې داورنګ سره په ټکرکې و، ځکه چې داختلاف لامل دا نه بولي چې ګوندې دی پښتون او اورنګ مغول دی بلکې لیکي چې «خلیفه دزمانې په زړه کافر دی» یانې یوازې دوخت د ټولواک په مقام کې داورنګزیب ریاکاري او ظلمونه په ګوته کوي او هغه دابلېس سره پرتله کوي اولېکي چې:

| | |
|---|---|
| که رښتـیا وایــم ابلېــس دی | ډ ک په مکر په تبلیس دی |
| ظـلـم کار دی سـتـمکار دی | نه پــه زویه نه په پـلار دی |
| ټول ارکان دده ګورګان دي | تعین شوی پــه جهــان دي |

(د خوشال ځټک کلیات، ۸۵۷ مخ )

اورزیاتوي چې:

زرنــا ســا زې زر فســاده | د م و هـــه لــه عــد لــه داده
پــه دا هـــومـــره قــبــاحت | د م و هـــه لــه شــر یــعـت
پــه دا هـــومـــره رســـوایي | د م و هـــه لــه پــا ر ســا یي
دا بـاد شــاه نه دي بــلا دی | چــې راغـلــی پـه د نیــا دی
شریعت په مخکې سپر وړي | په کې نغښتې خپل هنر وړي

(د خوشال ختک کلیات، ۸۵۸ مخ )

دخوشال خان له دې څرګندونودا پایله په لاس راځي، چې داورنګ دسیاسي کړنلارې سره د ده مخا لفت د دواړو تر منځ دهمکارۍ امکانات له منځه وړي وو، جوړ جاړی هم نه کېده، لارې دوی شوی. اورنګ په تخت ناست پا تې شو اوخوشال خان زندان ته وستول شو. که څوک د خوشال ختک سیاسي ژوند څېړي نوباید هغه د ده د ژوند د یوه شاهد په توګه هم وپېژني. په دې صورت کې هغه ادعاهم باطله کېږي چې ګوندې خوشال خان دمغولي دولت سره هغه وخت مخالف شو چې بندي يې کړ. ځکه خوشال په خپله لیکي چې:

نـه لا بـنـد نــه پـه زندان وم | چې د ده مـذ مـت خـوان وم
لــکـــه د ی د د ه عمل و | مـــا و یــلـــی لا اول و
هغه ورځ چې دی بادشا شه | کار پـــه هــر لـوري تبـاه شه
مـا هـالــه زیـرمه د ځان کړه | اقـتـضـا مـې رای دا شان کړه
چـــې د ده لـــه کــا ره تښـی | په غــره ځای ونیــوی ګــوښی
دا مـــې فــکــر دا مــې رای و | څه کــرم حکـم خو دخدای و

(د خوشال  کلیات، ۸۵۸ مخ)

لنډه داچې اول خو خو شال د مغلوغلام نه و، دهغوی سیاسي او نظامي همکار و، دوهم له مغولي دولت سره دخوشال اړیکې شخصي نه بلکې سیاسي وې او بلاخره دریم داچې د خوشال ختک څرګندوني ښيي چې دی د بند نه لا په خوا د مغلو دوروستي امپراتوراو دهغه له دولت اوسیاست سره مخالف و. حقیقت داسي دادی چې دی داورنګزیب سره د مخالفت له امله زندان ته اچول شوی دی، نه داچې دبندي کېدو نه وروسته يې دهغه سره په مخالفت لاس پورې کړی دی. وایي چې خوشال ختک شیرکاله داورنګ په زندان کې پروت و. هلته يې ډیر

څه ولېکل. داسې ښکاري چې دا لاندې کرښې يې هم دبند په وخت کې ليکلې دي:

پس له بنده دي داعزم　　دخوشال د خاطر جزم
يـا نـيولې مخ مکې ته　　يا مغـولــو سره رزم

تر اوسه پورې موږ داورنګ په حکومت اوسياست باندې دخوشال خان د نيوکو سره اشنا وو، خو په دې پاسنيو کرښو کې د« اورنګ » په ځای د« مغولو» نوم ليکل شوی دی او په خلاف يې د«رزم» نيت څرګند شوی دی چې په حقيقت کې دمغولو په وړاندې دخوشال خان په فکراو نيت کې يو بد لون راښيي او دا په دې مانا چې نورنو خوشال خان داورنګ حکومتولي نه بلکې له سره په پښتنو باندې دمغولو حکمراني تر پوښتنې لاند راولی او په وړاندې يې په سر کې د پاڅون پلانونه جوړوي. دخوشال خټک په فکر کې د دې بدلون دلامل په هکله شاعر او اديب عبدالباري جهاني ليکي چې:« د اورنګزېب له خوا د خوشال خان بې موجبه بندي کېدلو هغه ته دا وښودله چې د بېګانه په دوستي اعتماد په کار نه دی. او د يوسفزيو خانانو مړانې هغه په دې پوه کړچې خپل که دې مړ کړي لمر ته دي نه غورځوي.»(عبدالباري جهاني:خوشال خان خټک او دهغه عصر، ټول افغان،۲۰۱۵/۱/۱۵] په دې کې شک نشته چې جهاني صاحب په دې برخه کې دوچت پوهنيز صلاحيت خاوند دی او په خپلو ليکنو کې دپراخو څېړنو اوژورغورنه کاراخلې، او په دې کې هم شک نشته چې دمغلو له خوا د خوشال بند اوپه تيره بيا دخوشال په کورنۍ ديوسفزيو ننګ به دهغوی په وړاندې دخوشال په درېځ اغيزه کړې وي، خوداسې راته ښکاري چې دا يې يوازنې لاملونه نه وو. ځکه که له يوې خوا مغلو خوشال بندي کړی و نوله بلې خوا همدې مغلو نه يوازې بېرته ازاد کړ، بلکې دمقام او منصب وړانديز يې هم ورته وکړاوهمکاري يې ترې وغوښتله، تردې چې په خپله اورنګزيب « دهغه دونه قدر وکړچې په خپل اس باندې سپور يې وطن ته واستاوه.»(جهاني...همدا ليکنه] په دې توګه دخوشال خان او مغولو ترمنځ داختلاف لامل، دخوشال خان زنداني کول، له منځه ولاړ او ور سره سم بايد د د واړوخواوو ترمنځ اختلاف هم له منځه تللی وای اوخوشال دمغلودا وړاديزچې همکاري ورسره وکړي منلي وای. خو سره له دې هم خوشال خان دمغولو وړانديزونه اوغوښتنې ونه منلې بلکې د مغولي واکمنۍ په خلاف يې دوسلوال پاڅون لارې چارې سنجولې. په دې ځای کې بايد دوه ټکي له نظره ونه باسو. لومړی داچې دخوشال دبې شمېره څرګندونو له مخې دی داورنګزيب له جاري سياست سره نه جوړېده، نو ځکه يې ورسره د دوستۍ اودبيا ځلې روغې جوړې نيت هم نه درلوده. دوهم دا چې دخوشال خان دبندي کېدو سره په پښتنې سيمو کې ناآرامي او دمغولو په خلاف وسله وال پا څونونه زيات شول، خو دارنګزيب دلښکرو له خوا په ډيره بې رحمي مات شول. په دې هکله غلام محمد

غبار لیکي چې دپاخونونو په دې لړکې مغولو دیوسفزیو قبیلې له ماتې وروسته« ازمخالفین کله منارها درکابل وپیشاور وحتی در پایتخت هندوستان افراشته شد.بعدها پشتونها تحت رهبری ایمل خان وخوشال خان ختک قیام نمودند» (میر غلا محمد غبار:افغانستان درمسیر تاریخ، ۱۳۶۶، ص ۳۰۱) دا پیښې په خپل وارد یو بل هغه تاکونکې لامل کېدای شي چې دمغولو په وړاندې یې دخوشال کېنه را وپاروله، دافغان په ننګ یې توره وتړله او ویې ویل چې:

پښـتانه چې نـورخـه فکـرکا نادان دي
بې له تـورې خلاصی نشته په بل کار

مرګ زما په پوهه ښه تردا ژوندون دی
دعزت سره چې نه وي زیست روزګار

(د خوشال کلیات، ۵۵۶-۵۵۵ مخونه)

دمغلو په خلاف دپښتنو دبیلابیلو قبیلو پاڅونونو خوشال ته دهغوی دیوالي تمه هم پیدا کړه او په دې هم پوهېده چې د دې ولس د متحدې ارادې په وړاندې لوی امپراتوران هم د مقاومت توان نه لري. بابا لیکي چې:

| | |
|---|---|
| درست پښتون تر کندهاره تراټکه | سره یو دننګ په کار پټ اوآشکار |
| اولسـونــه چې سنـد وبـلــه وکا | پاد شاهان ورته سجود کاندي اختیار |

(د خوشال ختک کلیات، ۵۵۵ مخ )

دا هغه لاملونه وو چې خوشال ختک یې دافغان په ننګ دمغول سره په جنګ کړاو په دې جنګ کې یې په اورنګزیب دا جهان یو څه تنګ کړ. نو ځکه مورږ هغه دبند نه وروسته« د مغولو پر ضد د یوه داسي باتور مېړه په حیث پېژنوچې د نامه د یادولو سره یې د پښتنو سترګو ته د قلم ژبه او رنګ دونه نه درېږی لکه د توري شرنګ چې یې غوږونو ته رسېږی»(جهاني...همدالیکنه)

# څلورم فصل

## د خوشال سیاسي او ټولنیز نظریات

### الف ـ له ټولواکۍ او تلواکۍ نارضایتي؟

د مغولوپه دولتي دستګا کې دخوشال خان دنده نظامي او هم سیاسي وه. نظا مې په دې مانا چې دی د دوه زره کسیز لښکر مشر یا په عسکري ژبه قومندان واوسیاسي ځکه چې خوشال د خټک قبیلې خان او د مغولو په دربارکې یې دهغې نمایندګي کوله. ده د خټکواو د مغولو د شاهي دربار ترمنځ اړیکې ساتل او تنظیمول. د پښتنو د ځینوسیمود مالیې راټولولو د نده هم ور په غاړه وه. د وخت دواکمن دود اوسیاسي شرایطو له مخې په دواړو د ندو کې د خپل اولوالامر دامر اوحکم تابع و. البته د ښلا ښلو موضوع ګانو په هکله به د سلا او مشورې امکانات موجود وو، خو وروستې پرېکړه د بادشاه مطلق حق واو هیڅوک یې په وړاندې نشو دریدلی، دا ځکه چې د خوشال خان زمانه د مطلقې باد شاهۍ زمانه وه. په مطلقه باد شاهۍ کې د باد شاه واک او ځواک ته حد نه ټاکل کېږي. په دولت کې د قواووترمنځ بېلتون(تفکېک) او خپلواکۍ وجود نه لري. باد شاه د ټولو دولتي ارګانونو په سر کې ځای لري، ترهرڅه او هرچا لوړ، خپلواک او ټولواک دی. د خپل رعیت او حتی دهغو قوانینو په وړاندې هم مسئولېت نه لري چې پخپله یې جوړاوجاري کړي وي. باد شاهان د تاریخ په اوږدو کې دقومي مشرانو اوروحانیونو اویا داشرافو اواعیانو له خوا ټاکل شوی دي خو ښېرته له د ندې نه دي ایستل شوی او د ژوند تر پایه پورې باد شاهان پاتې شوی دي. داسې هم پیښ شوی دي چې دلته یا هلته د بادشا کوم مخالف له ناراضو لښکرجوړکړي اودهغه په وړاندې راپورته شي اودا مقام په زورورڅخه ونیسي.
رښتیا دادی چې بادشاهي له سره مېراثي هم وي، له پلارنه وزوی ته په مېراث ور پاتې کېږي. په تیره ښا په ختیځ کې داسې هم پیښېږي چې بادشاه له خپلو ښلا ښلو مېر منو نه ډیرزامن دنیا ته راو ړي. د مېراث په لیږدونه کې هغه وخت لانجې را منځ ته کېږي چې هره مور هڅه کوي چې ددې زوی د پلار ځای ناست شي، تاج په سر کړي او په تخت کښیني. په دې ډول د وروڼو ترمنځ دپلار په مېراث سیالۍ پیل کېږي، وسله والې نښتې ترې جوړېږي، وینې تویئږي او په

پای کې تاج او تخت دزوروور ورور په برخه کیږي. اورنګزیب له همدې لارې باد شاه شو. په مطلقه باد شاهۍ کې دحق سرچینه د بادشاه اراده او پریکړه ده، خیر اوشر، د سر اومال فنا اوبقا د باد شاه په مهراویاقهرپورې اړه درلوده اودواړه په چټکې یو په بل اوښتل. خوشال ختک د شاهانو په سر کې داروانې لوبې تر کره کتنې لاندې نیولې دي او پایله یې راته په دې ډول بیان کړې ده:

که په خپله د خپل ځان په بــد و نه یې
د بــا د شــاه په مهر مینه غره مه شه
باد شاهان چې چاته مخ په بدې کاندي

دمارانو په غار مه منډه لاسونه
زوروور په لــږ ګناه وهي سرونه
وسنـد ونو ته تږل نه شي بند ونه

(منتخابات خوشال ختېک، ۸۲ مخ )

د باد شاه مینه لنډ مهاله ده، تل نه پاتېږي او ډیر زر په غضب بدلیږي، بیانو په لږه ګناه هم دانسان سر پرې کیږي او یا په دار ځوړول کیږي. خوشال خان په ټول دولت کې دا سې موسسه، کوم قانون یا وثیقه نه وینې چې دبادشاه دټولواکۍ اودا نساني حقوقو په وړاندې دهغه د بیباکۍ په مخکې خنډ شي. د بخښنې او عدل غوښتنې بله مرجع هم نشته اودا چې دولس ټول برخلیک دباد شاه په نیت او ارادې پورې تړلی دی نوځکه دخوشال ختېک په نظر:

با د شــاهــا نو لـره ترس د زړه با یـده دي
مـرو ت، غـور رسي، عـد ل واحسان

ځوک به چـا لـره په د ا د ا و په فریاد ځي
چې په ظلم راضي من شول باد شاهان

(د خوشال ختک کلیات، ۵۸۳-۵۸۲ مخونه )

د منځنیو پیړیو دتورو تیارو په دې وروستۍ برخه کې دولسونو پراخې پرګنې په دې نه پوهېدلې چې هر انسان، بېله دې چې دنده، قشر، طبقه او یایې نژاد اوعقیده په نظر کې ونیول شي د بنستیزوانساني حقوقو خاوند دی، ازاد دنیا ته راغلی او باید ازاد پاتې شي، ځان او مال یې د تیري په وړاندې وساتل شي اوترڅو چې یې ګناه ثا بته نه وي بېګناه هم وګڼل شي. نه دا فکر اوعقیده وه او نه د ګناه کار او بېګناه د مالومولو له پاره کومه بې پرې اوخپلواکه موسسه وه. واک، زور، اجرا، عقل او قضاوت دا ټول د بادشاه په وجود کې سره راټول

شوی وو. دهرچا او هر شي برخلیک دهغه په خوی ،عادت او قهرپا شفقت پورې تړلي وو، نو ځکه خوشال خان لیکي چې:

بادشاهان چې ستمنا ک شي    په خلـل د خلکو ژواک شي
بادشاهان چې بې خبـر شي    کار د ملـک واړه ابتر شي

(د خوشال خان کلیات،.۸۵۷ مخ)

که له یوي خوا د بادشاه ظلم، عیاشي، بي تمېزي او د ملک له حاله بې خبري ولس اورعیت د ډول ډول رنځونو، ربړونو او ستونځو سره مخامخ کوي، نوله بلې خوادی هم په ولس کې ګرانښت او اعتبار له لاسه ور کوي اودا کارد ده ( بادشاه ) له پاره بدې پایلې له ځان سره لري. سربېره پردې پرله پسې بې عدالتي، ظلمونه، فسادونه، ستم اوبې تمېزي خوبیا دځپل شوی ولس غوسه اوغضب هم راپاروي، ناآرامی رامنځ ته کېږي اود بادشاه په وړاندې پاڅون هم ځني جوړېږي، چې ځني وخت ځپل کېږي او کله کله بیا یکي مطلق ټولواک دتاج اوتخت، دزور اوزرو سره یو ځای، سرهم له لاسه ورکوي، نوځکه خوشال خټک لیکي چې:

بادشاهان چې بې تمېز شي    چې عزیز وي نا عزیز شي
بادشاهان چې ناحق جـن شي    اور یې پـورې په لمن شي

(د خوشال خټک کلیات،.۸۵۷ مخ)

وینو چې خوشال خټک دانسان په وړاندې دزورزیاتي، په تیره بیاپه ولس باندې دشاهانو اوحاکمانود ظلم اوستم سره سخت مخالف و. د ده سیاسي فکر په عدل، انصاف او دانسانانو تر منځ دحقوقي برابری په بنسټ بناو. د مستبدې ټولواکۍ په شان تلواکۍ سره هم مخالف و. دده په نظر نه ښایي چې ټولواک دې تلواک هم وي یانې د ژوند تراخري سلګۍ پورې دې په واک کې پا تې شي. ځکه ځومره چې دټولواک دواک موده اوږدېږي، په همغه اندازه ځان ترې ورکېږي، انساني اوصاف یې کمزوري کېږي اود فرعون په لار روانېږي. د خوشال په اند په تلواکۍ مېن ټولواکان په خپل شخصیت باورنه لري، بې مقامه ځان ورته بې ارزښته او هیڅ ښکارې، خپل بخت، حیثیت، ارزښت اوعزت په تاج اوتخت پورې تړي اوله ډاره یې له لاسه نه ورکوي. خوشال خټک لیکي چې:

هر احمق چې په دنیا صاحب دجاه شي

بیا ترې ځان ایستلی نه شي جاه چا شي

په ویل د مـرسـلا نو نــه ګروهیــږي
د فرعـون او د نمرود غوندې ګمراه شي

(د خوشال خټک خان کلیات،۶۳۲مخ )

زما د موندنو له مخې خوشال خان د شاهي نظام سره مخالفت نه دي ښودلی بلکې په نظام کې د ننه د ظلم، فساد، بې عدالتی، تلواکۍ او استبداد سره مخالف و، ترديې چې د ظلم او فساد نه د بېوزلو د ساتنې په غرض په مستبدانواومفسدانود شراوشور جوړول هم روا ګڼي او لیکي چې:

ځنګل ته اور راوړه، حکم ته زورراوړه
لښکر څو ډیرلږې لاهومره نورراوړه

دا د ودهـش کـړه غـریبنـواز ا وســـه
چې مـفسدان دي پرې شروشور راوړه

(د خوشال خټک کلیات،۴۰۳ مخ )

په هرصورت خوشال د شاهي نظام سیاسي جوړښت ته زیان نه رسوي، خو په نظام کې واک او اختیار په هغه چا لوروي چې عقل، ایمان، عدل اوزړورتیا ولري اویا د دې صفتونودخپلولو له پاره هلې ځلې کوي. دی ټولواکي داصلاح وړبولي او په وړاندې یې په سیاسي عمل یانې په انقلاب لاس نه پورې کوي او پرځای یې دافکارود روښانولواو ښوونیزه لار غوره کوي چې دهمدې برخې په دوهم جز(ب ) کې تر بحث لاندې نیول کېږي.

ب ــ د مطلق نظام په ځای د مطلق ټولواک اصلاح کول:

خوشال خان په بشري ټولنه کې د حق اوعدالت د لارې یو مخکښ او نه ستومانیدونکۍ مبارزو، ظلم اواستبداد یې نه منل او تل د بېوزلواوکمزورو ترخنګ ولاړو. په رعیت او ولس باندې د مطلق ټولواک او د نورو زورواکانود زور اوزیاتي سره کلک مخالف و، په کمزورواوبې وزلو یې دزورورو زورغنده. خوسره له دې هم داسې راته ښکاري چې ده د مطلقي ټولواکۍ په خلاف دانقلابي پاڅون او د دې نظام د ورانولو نیت هم نه درلود، ځکه په لیکنو

کې یې د باد شاه دواک اوځواک څخه د یوڅه راکمولواو په نورو د ولتي مؤسسو اویاارګانونوباندې دهغه د ویشلواویا لږترلږه د دې واک او ځواک د محدودولو په هکله کوم څه په نظر نه دي راغلي. د خوشال خټک د ژوند په دوران ( ۱۶۸۹-۱۶۱۳م ) کې د مطلق ټولواک د واک اوځواک د کمولویا محدودولو فکرنه یوازې په اسلامي هیوادونو، بلکې په اروپا کې هم لا نه و پیدا شوی. په دې وخت کې انګریز توماس هابس (۱۶۷۶-۱۵۸۸م) داروپا د لویوپوهانو اوفیلسوفانوپه ډ له کې د مطلقې ټولواکۍ پیژندل شوی تیوریسن (متفکر) و. هابس په دې عقیده و چې د ټولنې طبعي حالت له ډار، ناآرامې او ځان غوښتنې ډ ک دی. دا حالت هغه وخت پای ته رسیږي چې دولت جوړ شي ، یانې داچې د ټولنیز تړون له لارې د ټولو واک یوه، ترهرڅا اوهرڅه مستقل او خپلواک( شخص) ته، وسپارل شي، په دې تړون کې باید ټول انسانان په خپله خوښه، د تل له پاره« دخپل برخلیک د ټاکلو» او له « ځانه د د فاع کولو حق او اختیار» همدې، همېشني مستقل شخص ته ورکړي. اودی به یې په عوض کې دوی په یواو بل باندې دزور اوزیاتي څخه ساتي. داټولنیز تړون په حقوقي لحاظ دراتلونکي ټولواک په ګټه تر سره کیږي. داچې دی په خپله په دې تړون کې برخه نه لري یانې په هغه کې یې ګډون نه دی کړی، نو ځکه دا ټولنیز تړون، تړون کوونکو ته دټولواک په وړاندې دمقاومت اویا دهغه سره د مخالفت او هم د دې تړون د لغو کولو حق، نه ور کوي. د ټولواک د نسکورولو هڅه لوی خیانت دی، خو که چېرې رانسکور شو، نو رعیت به دهغه دځای ناستي په ګټه په همداسې یو بل ټولنیز تړون لاس پورې کوي.(الماني ویکیپیډیا. توماس هابس] دهابس داڅرګندونې ښیي چې په دې زمانه کې داروپا وتلی پوه او فیلسوف په ټولنه کې دامن او نظم دساتلو له پاره مطلقه ټولوا کې تر ټولو ښه وسیله ګڼې، خودهابس له زمانې کم زیات یوه پیړۍ او د خوشال خان له زمانې نیمه پیړۍ وروسته فرانسوي پوه مانتسکېو (۱۷۵۵-۱۶۸۹م) په درو برخو د دولتي واک د ویشلو وړاندیز کوي. د ده په نظر چرته او ترڅو چې د قانون جوړونې، اجرایي اوقضایي واک د یوه کس اویا د یوه ارګان د مامورینوپه انحصار کې وي، په هغه ځای او هغه وخت کې به ازادي نه وي. تجربې راښیي چې هر انسان چې دواک او ځواک خاوندوي، له دې واک اوځواک څخه د ځان په ګټه او د نورو په زیان د ناوړه ګټې اخیستو هوس هم لري. ظلم، بېعدالتي، فسادونه او نور ټولنیزرنځونه د قدرت د انحصار نه سرچېنه اخلي او ازادي له همدې لارې تر پښو لاندې کیږي. « نوځکه اړینه ده چې دواکمن اوځواکمن واک او ځواک ته حد وټا کل شي، دهغه له انحصاره را وباسل او وویشل شي. په هر دولت کې د

قدرت درې ډولونه شته: قانون جوړونه، اجرایه او قضایه. تر هغه چې دا درې واړه ځواکونه په بشپړه توګه دیوه بل نه بېل او خپلواک نشي خپلواکې نشته.» ( الماني ویکیپیډیا: مانتسکېو] دا درې واړه ارګانونه بشپړه خپلواکې لري، یو بل کنترولوي، خو دیوه بل په چارو کې دلاس وهنې حق نه لري. په درې ارګانونو دواک ویش په ۱۷۸۷م کال کې دامریکا متحده ایالاتو او په ۱۷۹۱م کال کې د فرانسې په اساسي قانون کې ځای په ځای شو.

لکه څنګه چې دمخه وویل شو دمانتسکېو زمانه د خوشال خان زمانه نه وه او دمانتسکېو کلتوري سیمې د خوشال خټک دکلتوري سیمې سره هم ډېر توپیردرلود. خوشال خان په اسلامي سیمه کې دنیاته راغلی او لوی شوی دی. دی یو سپیڅلی مسلمان واو داسلامي عنعنې سره سم یې داسلام مسلمان پادشاه ته داولوالامر په سترګه کتل اوپه دې فکر و:

چې ترس دخدای لري مرګ یې په یاد وي
زړه بــه یـې کـلـه پـه ظلـم ښـا د وي

تل به یې مـټ وي په ښـوښـو چـا رو
مخ به یې هر کله په عد ل وداد وي

(د خوشال خان کلیات، ۴۶۴مخ)

خوشال خان په بشري ټولنه کې عدل اوبې عدالتي، ازادي یا بنده ګي د ټولواک په سپیڅلې عقیدې او ازادې ارا دې پورې تړي. ربښتینی مسلمان په چا ظلم نه کوي، هیڅوک هم په چاباندې زورزیاتي ته نه پرېږدي او دخپل نا محدود واک اوځواک څخه دخدای (ج) د رضا له پاره دهغه دمخلوق په خدمت کې کار اخلي، حق اوعدالت ساتي، په سر او مال باندې د تیري مخه نیسي او شپه اوورځ دملت د سوکالۍ اوارامۍ له پاره هلې ځلې کوي. د خوشال خټک په نظر د ټولواک عقیدوی سپیڅلتیا او کړه وړه دده په سپاه اورعیت باندې روزنېزې اغیزې لرې. دوی په خپل ټولنیز ژوند کې ټولواک ته د نمونې په سترګه ګوري، سلوک او کړه وړه یې خپلوي او لاریې تعقیبوي. دی لیکي:

| | |
|---|---|
| چې سلطان دخدای فرمان وړي | نور به حکم دسلطان وړي |
| رعـیـت وي کــه سـپــا وي | په خـصـلت دخپل پاچا وي |
| هــر سـلــوک چې دملـوک وي | دعـالـم هـغـه سلـوک وي |

(د خوشال خان کلیات، ۸۷۰مخ)

خوشال خان سیاسي او ټولنیز ثبات، په ټولنه کې ارامي، د ټولنې د ښېلا ښېلو ټولنیزو پړوکونو تر منځ هماهنګي د سلطان په شخصیت او جاري سیاست پورې تړي. که ټولواک په ایمان پاک وي، په رښتیا یو سپېڅلی مسلمان وي یانې دحق او عدالت په لور روان وي، نو په رعیت کې باور اودراناوی ترلاسه کوي، دنیکو اعمالو له لارې په ټول ملک او ولس کې دنیکۍ تخم کري او ټول رعیت دځان په شان کوي، نو ځکه ټولواک دخپل رعیت د ټولنیز سلوک په روزنه او پالنه کې هم لوی رول لوبوي. وینو چې خوشال خان دټولنیزو اصلا حاتویانې په ټولنه کې د حق او عدالت د تطبیق له پاره سیاسي لار نه غوره کوي او دا په دې مانا چې د دولت جوړښت او د دولتي واک او ځواک تر کېب په ځای پرېږدي او دټولواک واک اواختیار نه محدودوي. د ی په دې برخه کې دښوونې اوروزنې له لارې پر مخ ځي او ټولواکانو ته درعیت په وړاندې دهغوی مسولیت ور په ګوته کوي، دجاري سیاست او کړو وړو دیني اودنیاوي پایلې ورته ښانوي او ورښیي چې:

په هرکسب کې چې یې حبیب الله یې
که له خدایـه لــه رســوله نه أګاه یې
په محشر به له تا عدل ایمان غواړي
که د تخت د پاسه ناست دملک باچا یې

(منتخاب خوشال خټک، ۱۲۳مخ)

دخوشال خان په نظر ټولواک د حق، عدل اوکرم تر څنګ باید هوښیار د پوهې خاوند اوزیار کښ هم وي. دښواو بدواود حق اوباطل ترمنځ توپیر په پوهه پیژندل کېږي، دعمل لار او په دې لار کې لوړې اوژورې په پوهه رڼا کېږي، دکړو وړو په بهیر کې دزغم، صبراوحوصلې ارزښت په پوهه جوتېږي. لنډه دا چې د د ین او دنیا ټولې چارې په علم سنبالیږي. پوهه اوهوښیاري هم له اسمانه نه رالویږي بلکې په زیار او هلو ځلو تر لاسه کېږي اوهم په کار اوزیار په عمل کې پیاده کېږي. حکومت کول یاسلطنت کول او په دې چاره کې پر مختګ کول اوبري ته رسیدل دټولواک په عملي هلو ځلو او دهغه په کاري وړتیا پورې هم اړه لري. که ټولواک علم اود کار وړتیا ونه لري نوهر څه له لاسه ورکوي.خوشال خټک په دې هکله لیکي:

چې کاهلان دي، چې احمقان دي
د ولـت به با یـلي کـه بـا د شاها ن دي
د ولــت د د یـن د د نـیا د چا دی
چې هوهښیاران دي په کار چسپان دي

(د خوشال خان کلیات،.۴۶۸ مخ )

د ین او دنیا دواړه په پوهه هوښیارۍ او نه ستومانیدونکو هلو ځلو تر لاسه کیږي او هم ساتل کیږي. داچې تولواک په خپله بادشاهۍ کې دوسله والو ځواکونو سردار، سرلښکراویا په اوسنۍ اصطلاح اعلی سرقومندان هم دی، نوځنې نورې تمې هم ترې کیږي. هغه دا چې باید مېړنی یا زړور، د تمیز څښتن اوربښتیا ویونکي هم وي. دسرلښکر دشخصیت دا ځانګړتیاوي دلښکر باور تر لاسه کوي، لښکر اوسر لښکر سره یو ځای اویو موټی کوي او له دې لارې بري ته درسیدو امکانات پراخوي.نوځکه:

سـردار ته بـویـه دا یـوڅـو کاره چې مېړنی وي زما عزیزه
دادودهش لري، دین ودانش لري نه بې راستې وي نه بې تمېزه

(د خوشال خان کلیات،.۴۱۹مخ)

ځکه چې:

مـدار په ښه سـرداردي نـورڅـه مـه وایـه ای ځوانه
چې مېر دلښکر مرد وي ګرانه چـار شـي پـرې اسانه
کـه صبـر کـه همت دی فتـح یـوسـي تـر میـدانـه

(د خوشال خان کلیات،.۷۱۲ مخ )

که بادشاه، سلطان، امېریا سردار په پورته بیان شوو ځانګړتیاوو سنبال وي، نوسپاه اورعیت به یې نیکمرغه وي، زور، زیاتی او آزار به نه وي، سراو مال به په امن کې وي اوحق اوعدالت به په ملک حکومت کوي. داسې راته ښکاري چې خوشال ختک په انسان باندې دښوونې او روزنې په اغیزو له حده زیات باورلري نو ځکه د قدرت په مطلقیت ټاکونکي نیوکې نه کوي او په ځای یې دمطلق قدرت خاوند ته داسلامي عدالت او انساني فرهنګ درس ورکوي او ورښیي چې دا لار نه یوازې رعیت ته بلکې دقدرت خاوند ته هم ګټه رسوي. ځکه چې زور زیاتی، اوظلم او ببعدالتي خامخا درعیت نارضایتي له ځان سره راوړي او کله ناکله تاج اوتخت هم ګواښوي. خوشال بابا لیکي:

ملوک چې عدل، عقل کرم لري انده بې کم وي له چا څه غم لري

چې دا ېې نه وي، دځان غليم دی ځان به پخپله عالم ته ګرم لري

ملوک چې عدل او کرم پرېږ دي، ظلم او بېعدالتي پيل کړي، په عياشي، عيش اوعشرت لاس پوري کړي، رعيت او ملت ته شا کړي، هغه ازاروي اوځوروي نو په دې کړنو په خپل رعيت اوملت کې د ځان دښمنان پيدا کوي او خپله بېغمي په خپل لاس په غم بدلوي، ګډ وډې او ناآرامي را پاروي. خوشال خان ليکي چې:

يو تـازه د ولـت مـونـد لی بل ځواني دريم شراب
چې دا هسې څوک حاکم شي عـا لـمـونه کا خراب

(د خوشال خان کليات،.٧٢٣ مخ)

د خوشال خټک په نظر هغه څوک چې دحکومت کولو پوهنيز اواخلاقي شرايط نه لري نودپاچا کېد لواو پاچا پاتې کېدلو حق هم نه لري. په دې صورت کې رعيت حق لري چې دحاکم په وړاندې په پاڅون لاس پوري کړي اوکلک باور لري چې دولس ترون باد شاهان او امپراتوران ماتولې اوله تخته راغور ځولې شي.

ولسونه چې سند وبله وکا بادشاهان ورته سجود کاندي اختيار

(د خوشال خان کليات،.٥٥٥مخ)

د خوشال خان په هغو ليکنو کې چې زما لاس ته راغلي دي، هغه څه په نظر رانه غلل چې دنسکور شوي بادشاه په ځای دهغه دځای ناستي دټاکلو بهير، لارې ګودرې اومشروعيت بنودل شوی وي، نو ځکه خوشال خان په خپله زمانه کې په اخلاقي لحاظ يانې په حق او عدالت پالنه او دهر ډول ظلم اواستبداد په غندنه کې بې جوړه شخصيت تير شوی دی او په سياسي لحاظ يانې د دولتي دستګا جوړښت په ريفورم او اصلاح کولو کې دخپل عصر شاعر او اديب پا تې شوی دی. دی په عمل کې هم داورنګزيب دظلم او استبداد په ضد ودريده او هم وجنګيده، خو دمستبد بادشاه په ضد، نه دوخت د سياسي نظام په ضد. خوشال خټک نه يوازې دبادشاهانوکړه وړه ترڅيرنې لاندې نيولي دي او دهغوی په هکله يې خپل انديښني خپرې کړې دي بلکې دهغه وخت دټولنيز نظام پايې يانې خانې

اوخانان یې هم له نظره نه دي ایستلي. د خانۍ نظام یوازې په ځمکه ولاړ نه و، خانان دخپل قوم یا خپلي سیمې او حکومتي ارګانونو ترمنځ داړیکود جوړونکي، ساتونکي اویا د دې اړیکو د ورانونکو په توګه په قوم اوسیمه کې دپام وړ سیاسي رول هم لو با وه. په دې برخه کې هم دخوشال په لیکنو کې دخانۍ سره مخالفت په نظر نه دي راغلی، خوخاني دهرچا کار نه ګڼي او په نظر یې خان باید ځني ځانګړتیاوې ولري. خوشال ختک لیکي چې:

خانان هغه دي چې پخپل نام دي — نه په د نیـا د ي نـه پـخپـل کام دي
چې په کوم توکي دنـام بنیګڼه وي — په هغه فکر کې په صبح وشام وي

(د خوشال خان کلیات،.۴۷۳ مخ)

دخوشال خان په نظر خان هغه څوک دی او تر هغه وخت پورې خان پاتې کېدلی شي چې د قوم خوښه تر خپلي خوښې، دقوم ګټه ترخپلې ګټې اود قوم نیکمرغي تر خپلي نیکمرغۍ وچته وګڼي. هغه چې دا کار کولې نه شي د خانۍ صفت هم ساتلی نه شي. خان دخپل نوم په فکر کې وي تل غواړي چې نیک نوم وګټي. ښه نوم په ښو او نیکو کړو یاني قوم ته په ښو خد متو تر لاسه کیږي، نو ځکه خان شپه او ورځ د قوم په خدمت کې لګیا وي. وینوچې خوشال خان دلته هم دخان یا د خانۍ له نظام سره مخالفت نه ښیي، خو دخان په اوږو داخلاقو، انسان پالنې، قوم پالنې اونورو انساني مکلفیتونو دروند بار ږدي. خان به یا دابار په خپلو اوږو وړي او یابه دخانۍ وړتیاوځانګړتیا له لاسه ور کوي.

## ج ـ په بشري ټولنه کې انساني حقوق:

د خوشال ختک زمانه، دمنځنیو پیړیو وروستۍ برخه، د مطلقو ټولواکانو، امیرانواو امپراتورانو زمانه وه. په دې وخت کې دانساني حقوقو په کله یو هنیزې څیړنې، لیکنې اویا څرګندونې په سیاسي لحاظ هم ساده او اسان کار نه و. دانساني حقوقو، د انسانانو ترمنځ دوروری اوبرابرۍ په هکله زمزمه دشاهانواو امپراتورانو په غوږوښه نه لګیده. خو خوشال خان د پراخ اوژور پوهنیز ځواک ترڅنګ دانسان سره د ژورې خواخوږۍ، زړورتیا او رښتینولۍ خاوند هم و. څه به یې چې په زړه و،هغه به یې په خوله و، څه به یې چې لیدل یا اوریدل، او یا څه چې یې کول، هغسې به یې ویل او هم لیکل. دی د منځنیو پیړیو دمطلق استبداد په تورو شپو کې هم په دې عقیده و چې:

رښــتیا کــړه لــه هبــچــانــه مه ویریږه
رښتیا سړی له هــرې بلا خلاص کا

شب ګرد دي چې یې دارشي له عسسه
خونیان دي چې به ویره دقصاص کا

(د خوشال خټک کلیات، ۶۶۰ مخ)

خوشال خټک نه د توروشپو سړی واونه د تورو تیارو سړی و، هغه بې پروا په سپین ډګردحقیقت په موندلو او د حق په خپرولو لګیاو. رښتیا دادی چې دانسان په هکله د ده د پوهي اومعرفت سرچینه دیني ارشادات دي او دهمدې ارشاداتو په رڼا کې انسان دځان او جهان او په دې جهان کې دخپل مقام پیژندلو ته هڅوي اوښیي چې:

جهــا نــونــه څــه لــږ نــه دي　　تــه یې نــه وینــي نــا دانه
ګـــوره څــو دي هسې مځکې　　ګوره څــو هسې اسمانه
واړه ځای دي ستا په زړه کې　　ای تر عرش لویه انسانه
أیینـــه د زړه صــیـقل کړه　　چـــې یې ووینــي ای جانه
کـــه د ی دا نـــنــدا ره وشي　　جــدا نــه یــې لــه سبحانه
(د خوشال کلیات، ۷۰۶مخ)

هغه څه چې انسان یې د جهان د نورو موجوداتو څخه رابېل او له هغوی یې لوړکړی اودې لوړ مقام ته یې وچت کړی دی، دادی چې خپل خالق یې دعقل، فکر، مینې، وینا کولو اود نظر د څرګندولو وس ور کړی دی. دانسان د همدې ځانګړتیا او امتیاز د ارزښت په بنسټ د ده پت، عزت او یا انساني کرامت جوړشوی دی. خوشال خټک راښیي چې:

ســړي ښا روي دي که تــه بې وینې　　پــه تن په غــوښې په هــډ په وینې
فرق له ښاروي لري په ګویا یې کې　　په رای په عقل په شناخت په مینې

(د خوشال خټک کلیات، ۵۱۹ مخ)

په جهان کې دانسا د دې وچت مقام ارزښت یاني پت او انساني کرامت، بهرني عوامل نه لري، نه چا ور کړي او نه یې ترې اخیستلی شي، نه یې په خپلو هلو ځلو تر لاسه کړي او نه یې له لاسه ورکولې شي. پت دانسان له پیدایښت سره ترکیب شوی دی، دهغه دایمي ملګری دی اوور څخه نه بېلیږي. ژبني، نژادي،

عقیدوي سرحدونه اوتوپیرونه او په همدې ډول ټولنیزې طبقي اوقشرونه، مرتبې یا مقامونه نه پیژني. نوځکه هغه مقام چې انسان یې په جهان، په جهاني موجودا توکې، لري له سره له هغه سیاسي او یا ټولنیز مقام او مرتبې سره ټو پیر لري چې په ټولنه کې یې تر لاسه کوي. په ټولنه کې ترلاسه شوی مقام بدلون مني یانې لوړیږي او ټیټیږي اویا بېخي له منځه ځي او ورکیږي، خوپت او انساني کرامت دهر انسان دایمي ملګری دی او نه ترې جلا کیږي. نوځکه:

سړي په اصل سره یو شان دي — که چو هړي دي که با د شاهان دي
فرق بې په فعل په ښه هنر وشو — ځکه دوی هسې سره شان شان دي

(د خوشال خټک کلیات، ۴۸۴ مخ )

لنډه داچې پت او انساني کرامت په جهان کې دبشریت هویت، ماهیت اودانسانیت اصل او جوهر ښیي چې هر انسان یې لري اود ډ ول ډ ول وګړو نه یو بشریت جوړوي. د پت اوعزت ساتنه او ورته درناوی دامانا لري چې هیڅوک حق اواجازه نه لري چې دانسان روحي اوجسمي سلامتیا ته زیان ورسوي اویا یې وګواښي، انسان باید له هر ډول سپکاوي، ربړوني او ځوروني نه په امن کې وي. پت اوانساني کرامت د انسانانو ترمنځ دحقوقي برابرئ او د نورو بشري حقوقو بنسټ او یا سرچېنه دی نوځکه خوشال خان د انسان دا لوړ مقام نه یوازې څیړلی او تشریح کړی دی، بلکې هغه یې تر سلطنت لوړ او د ژوند سره برابر بللی اوپه ساتنه او درنا وي یې لازیات ټینګارهم کړی دی. بابا وایي چې:

دایوه وینا د ز ړه په غـوږو واوری
چې بهــتره داورنګ تــرسلطنت دی

سردي درومي مآل دي درومي پت دي نه ځي
د سړي د چارو کل خوبي په پت دی

(انتخاب خوشال خټک...۳۴ مخ)

دا وینا دخوشال خټک دزړه له تل نه راوتلې ده، نوځکه یې ټینګار کړي دی چې د زړه په غوږو دې واوریدل شي او دانسان دا وچت مقام یاني پت او عزت دې وساتل شي. خوشال خټک په خپلو ستر ګو لیدلي دي اوهم یې په دې باب ډیر څه لوستلي دي چې دتاریخ په اوږدو کې دانسانیت مقام ته داړتیا وړ پاملرنه نه ده شوې. انسان دانسان په وړاندې زور کارولی دی، یوبل یې وژلی دی او د یوه

بل پت او انساني کرامت یې تر پښو لاندې کړی دی او دا چارې لا په جهان کې روانې دي. انساني کرامت او دانسان پت او عزت هغه وخت خوندي وي چې په ټولنه کې ظلم، استبداد، زور اوزورواکې نه وي. نو په دې صورت کې به ژوند هم عادي وي. ژوند په خوشال خټک ډیر ګران و، ورسره یې مینه درلوده اوورڅخه یې ډیر خوند اخیسته، خو بې پته او بې عزته ژوند یې نه خوښیده اوویل یې چې:

مرګ زما په پوهه ښه تر دا ژوندون دی
د عزت سره چې نه وي زیست روز ګار
همېــشه به په جهان کې ژوند ون نه وي
د خـوشــال خـټک بـه پـا تې شي یا د ګار

(د خوشال خټک کلیات،.۵۵۶ مح)

وینوچې خوشال خټک دتاریخ له هغه لویواومخکښنو شخصیتونو څخه دی چې دانسان دا لوړ مقام او دهغه پت او کرامت یې پیژنده، ورته یې د رڼاوی درلود او د پتمن ژوند له پاره یې پر له پسې یو هنیزې اوعملي مبارزې کړې دي. شعار یې دا و چې یا به په پت او عزت کې ژوند کوي او که داسې نه وي نو ژوند به د پت اوعزت نه قربانوي. لږ څه وړاندې مو وویل چې پت او انساني کرامت دانسان هویت اوماهیت جوړوي، له نورو مخلوقاتو یې را بېلوي، په عالم کې تر ټولو لوړ مقام ورکوي اوپه دې تکي کې هر انسان د بل انسان سره برابروي او د نورو انساني حقوقو بنسټ جوړوي چې یو یې هم دانسان فردي ازا دي ده. خوشال خټک فردي ازادي یا خپل واک دهر انسان حق ګڼي او ارزښت یې دژوند سره پر تله کوي او لیکي چې:

نوکر ژوندی نه دی کار یې دمړه وي
خپل زړه یې نه وي دصاحب په زړه وي

چــې ورته حکــم دخپــل صاحب وي
که هر څوګران وي هم یې په وړه وي

(د خوشال خټک کلیات، ۵۰۰ مخ )

د صاحب او نوکراویا په اوسني وخت کې دکار ورکونکي او کار رانیونکي ترمنځ اړیکي ټولنیزې اړیکې دي اوله ټولنیز ژوند سره تړلي دي. د صاحب او

نوکر ترمنځ په اړیکو دخوشال خان دنیوکې موخه دا نه ده چې دااړیکې وشړوي او یا یې دټولنیز ژوند څخه ور کې کړي. د صاحب او نوکر یا دکار ورکونکي او کار رانیونکي ترمنځ اړیکې په حقیقت کې یوه ټولنیزه ماملة ده او د دې ماملې په جوړولو کې باید دواړه خواوي بشپړه ازاد او خپلواک وي. د کار د شرایطو په تعریف او ټاکنه کې باید په هیڅ اړخ هغه څه تحمیل نه شي چې په خپله خوښه یې نه مني او د کار په بهیر کې هغه څه تري ونه غوښتل شي چې د کار دشرایطو په تعریف او ټاکنه کې نه وي راغلي، ځکه چې دازادې ما نا دا نه ده چې سړی هرهغه څه وکړي چې زړه یې غواړي، بلکې دا ده چې هغه څه ته مجبور نه شي چې نه یې غواړي. نوکر هغه وخت د ژوندیو په مثال کیږي چې د خپلواکۍ دې پړاو ته ورسیږي. د خوشال خان په نظر که صاحب او نوکر یا صاحب اونفرد یو بل مشروعې ګټې په پام کې ونیسي او درناوی یې وکړي نو دا کار به د دواړو اړخونو په ګټه تمام شي. صاحب باید د نوکر یا نفر د ژند اړتیاوو او انساني حقوقو ته پوره پاملرنه وکړي او نوکر یا نفر هم باید په خپل وار دورسپارل شوې دندې په اجرا کې له صداقت او فني مهارت څخه کار واخلي. په دې صورت کې دواړه ګټه کوي او کنه نودواړه یې بایلي. خوشال بابا لیکي:

چې صاحب نفر پرور نه وي هم هیڅ
په نفرکې چې هنر نه وي هم هیڅ

(منتخباب خوشال خټک، ۲۹ مخ )

خوشال خان نه یوازې دخپلواکۍ انساني ارزښت راښیي بلکې په دې مو هم پوهوي چې ازادي او په خپله دخپل برخلیک د ټاکلو حق خوشې نه ترلاسه کیږي، نو ځکه یې د« مردی» او «همت » سره تړي یانې دا چې غضب شوې ازادي په خپله خوښه بیرته نه ورکول کیږي بلکې په « مردی » او«همت»ګټل کیږي او په اوږدو او ستونځمنو هلو ځلو ترلاسه کیږي. دی وایي چې:

| | |
|---|---|
| خسیس چې مال لري پري خاد به نه شي | بنده بنده دی آزاد به نه شي |
| چــې همـتـنا ک د ي هــغـه آ زا د دي | آزاد آزاد دي عباد به نه شي |

(د خوشال خټک کلیات، ۴۷۳ مخ)

په مال او شتمني څوک له بنده ګی نه ازادیږی، په همت د ازادی نعمت تر لاسه کیږي او همتناک تل ازاد پا تې کیږي. خوشال خان په دې عقیده دی چې که

همت نه وي، ازادي نشته او چې ازادي نه وي نو په غلامۍ کې مردي نشته. دی ليکي چې:

د مرد چې صبر چې استقلال نه وي
چې غم پرې راشي پکــې خوشا ل نه وي

مر د ي بــې هيـڅ د ه زما پــه پوهه
که بې په جاه ودولت څوک سيــال نه وي

(د خوشال خټک کليات، ۵۰۰ مخ)

ازادي بېل بېل ډولونه او ډېر تعريفونه لري چې دلته ترې تيريږو، اوکنه له موضوع لرې کيږو، خو هغه ازادي چې خوشال خان يې په خپلو شعرونو کې يادوی د فکر او بيان ازادي ده. دی د فکرازادي دانسانيت سره تړي ياني دانسان ابدي حق اوطبعي اړتياېې ګڼي اوپه خپله له دې ازادۍ ډ يرخوند اخلي. له بلې خواداسې ښکاري چې د ده په زمانه کې اوهم ترهغې وړاندې دخوشال خان داستاد په ګډون چا د فکراو بيان ازادۍ په انساني حق، ارزښت او اهمېت چندان عقيده نه درلوده. د زماني حاکم دود او شعاردا و چې خبره په زړه کې او خوله پټه ساته. خو خوشال خان په دې وخت کې هم نه خبره په زړه کې ساتلی شوه او نه چا د ده خوله بندولی اود قلم مخه نيولي شوه. ده په يوازني صورت د مطلقې تولواکۍ په تورو تيارو کې هم د فکراوبيان ازادۍ دضرورت په هکله انساني وجدان ته دا پيغام رساوه چې:

راز د زړه ننه ساته نه شي په زړه کې
په ساتــه که يې اســتاد وماته پند کړ

يو په حال او په ماضي کې هسي نه و
چې ښکاره يې د خبرو راته خوند کړ

(د خوشال خټک کليات، ۵۶۳ مخ)

خوشال خټک دخبرو اوبيان ازا دۍ په خوند، تولنيز ارزښت او مانا پوهېده، په دې لار کې يې خنډونو او ممانعتونو پروا نه درلوده. څه چې يې په زړه راتلل، په غوږو اوريدل او ياپې په سترګولېدل، هغه يې په خوله ويل او په قلم يې ليکل، له هيچا يې هيڅ نه پټول. د ده په عقيده د انسان دفکري محکومېت او کمزورتيا

لامل یوازې تولنیز جبر یانې د فرد له وجوده بهر زور، زورواکې اوټولواکې نه دي. ده ددې محکومېت لاملونه دهغوی ترڅنګ د فرد په ذهن اورواني حالت کې هم ترڅیرنې لاندې نیولې اومېندلې دي. اوهام او خرافات، زیان رسونکې رسمونه، رواجونه اوعنعنات د فرد ذهن ته ور ننوزي، هلته ځای په ځای کېږي، د باور وږ ګرځي او تر دې چې مقدسات ترې جوړېږي. په دې ډول په عقل او فکر مسلط شي او بیا یې ازادۍ ته نه پرېږدي. خوشال خټک دعارف اوعالم ژبه هغه څه ګڼي چې دانسان عقل او فکرفعالیت ته هڅوي، له اوهامواوخرافاتو څخه یې ازادوې او دخپلواک فعالیت توان ور بخښي. خوتر څو چې دعقل اومعرفت ژبه تړلې وي، تر هغو به اوهام اوخرافات په بشري ټولنه حکومت کوي او خلک به دعلم په ځای په ستوري اوپال تکیه لري. نوځکه خوشال خان لیکي چې:

| | |
|---|---|
| د عارف ژبه یې بند کړه له مقاله | عــالمان پــه قیل وقال لري تکیه |
| دانــا بــوده تکیه ګوره د وګړي | چې په ستوري یاپه پال لري تکیه |

(منتخباب خوشال خټک، ۱۰۱ مخ)

ربښتیا دا دی: هغه ولسونه چې د فکر اوبیان ازاد ي لري دعمل ازادي هم ترلاسه کولې شي اوهغه څوک چې د فکر کولو اوڅه ویلو وس او ازادي لري، دڅه کولو وس هم ترلاسه کوي. خو دفکر اوبیان ازادۍ د تر لاسه کولو لاراوږه، پیچلې او له ستونځو ډکه لاروه اولاده. له یوې خوا په ټولنه مسلط اوهام او خرافات او له بلې خوا دازادۍ غاصبان، هغه زورواکان چې ټولواکې اوزورواکې د ځان مسلم حق ګڼي، د نورو دازادۍ حق تر پښو لاندې کوي او دازادۍ غوښتونکې ژوند هم له ګواښ سره مخامخ کوي. خو څوک چې د ځان ساتنې له پاره تر ازادۍ تیریږي هم ځان او هم ازادي له لاسه ور کوي، ځکه چې ټول ژوند به په غلامۍ کې تیروي اوهغه څوک چې بیا دازادۍ په طلب کې وي نو ضرور به خپل مرام تر لاسه کوي او په ننګ مېن خوشال لیکي چې:

| | |
|---|---|
| په طلـب کې که سستي نه وي باورکړه | د ژوندون اوبه به بیامومې په کام |
| چــې د بـل تـر لاســه ورغــی د بـل شو | مرد به خپل لري دخپل فکر زمام |

(د خوشال خټک کلیات، ۵۷۳ مخ)

خوشال خان په دې ښه پوهېده چې د فکر او بیان ازادي، چې دانسان بنسټیز حق دی، چا ته وړیا په لاس نه ورځي، بلکې باید په کلکه وغوښتل شي او دې مرام

ته درسیدو له پاره پرله پسې مبارزه دژوند یوه برخه وګڼل شي. د خوشال خان د څر ګندونو څخه داسې ښکاري چې دی په ټولنه کې دانسا دبنسټیزوحقوقو د تحقق له پاره هم دسیاسي لارو چارو په لټه کې نه و، یانې د ټولنې د سیاسي نظام سره یې غرض نه درلود بلکې په انساني عقل او دهغه په ښوونه او روزنه یې ډ ډه لګوله. علم او پوهه کولې شي چې هر انسان په دې قانع کړي چې د فکر اوبیان ازادي دهر انسان ازلي او ابدي حق او طبعي غوښتنه ده او له دې ازادي دانسان بې برخې کول دانساني حق او طبعیت په ضد عمل دی. د بشر د بنسټیزو حقوقو د پیژندنې اوپه دې برخه کې د ترلاسه شوی معرفت د خپرونې په تاریخي لړکې د خوشال خټک مفکوره او په خپلو شعرونو کې دهغې خپرول تاریخي لاسته راوړنه ګڼل کیږي چې په بنسټ یې د بشر داساسي حقوقوپه هکله پوهنیز فکر وده وکړه، پراخ شواو دنړۍ په ځینو برخوکې یې پراخو پر ګنو ته لار پیدا کړه او دازدې غوښتونکو خوځښتونو په سیاسي اجنډا کې یې مهم مقام تر لاسه کړ.

# پنځم فصل

## خوشال خان او علم

### الف ــ د خوشال خان زده کړې:

دلته تر ټولو د مخه باید وویل شي چې دانسان پوهه مطلقه نه ده، بلکې نسبي یا تاریخي ده. مانا داچې انسان دمور له نسه په بې پیله، بې پایه اود تل له پاره ثابته یانې مطلقه پوهه سنبال دې نړۍ ته نه راځي، بلکې د ځمکې په سر زده کړه پیل کوي، د خپلو هلوځلواود چاپیریال د شرایطوسره سم یې یوه حد ته رسوي. وایې چې ډیرو پخوانیو زمانو کې دزده کړو له پاره ځانګړومدرسو یانورو مؤسیسو وجود نه درلود او په لیک اولوست هم څوک نه پو هیدل. کوچنیانو ژبه او نورکړه وړه د لویانو څخه د تقلید له لارې زده کول. دوخت په تیریدودغړیزې ژبې ترڅنګ د لیک ژبه را پیدا شوه او د زده کړې له پاره هم ځانګړې مؤسیسې اومدرسې جوړې شوې، چې اساسي یا یوازنۍ دنده یې دځوان نسل ښوونه او روزنه وه. په دې توګه د مؤ سیسې زده کړه په کورنۍ او ټولنه کې دعادي عملي

ژوند دتقلید نه راګوښې اوکتابي شوه. د تعلیمي مؤسیسو ښوونکي اوزده کوونکي د جسمي – تولېدي چارونه لاس په سراو يوازې په زده کړو اوښوونو مشغول شول. دې ټولنیز بدلون د پوهې د پرمختګ، خپرېدو او دلويو لويو پو هانو دجوړولو سره ډېره مرسته وکړه. دوخت په تیریدو سره د زده کړې دې لومړنیو مؤسیسو، تعلیمي نظامونو یاتعلیمي سیستمونو ته وده وکړه. دزده کړو وخت او بهیر دلومړنیو زده کړو څخه بیا د پوهنځیو ترزده کړو پورې په بېلا بېلو، یو په بل پورې تړلو پړاونو، وويشل شو. په تعليمي نصاب او دمتن او مېتود په ټاکنه کې انقلابي بدلونونه رامنځ ته شول او دعلم بېلابېلې څانګې یوه په بله پسې د فلسفې له چتره راووتلې اوپه پوهنځیواوپوهنتونونوکې دزده کړې اوښوونې د پاره د مستقلو پوهنیزو څانګو په توګه وپيژندل شوی. دبشري ټولنې په معنوي برخه کې د کاردې ویش دعلومو وده او پر مختګ چټک کړل او داتلسمې پیړۍ په دوهمه نیمايي برخه کې علم د تکنلوژۍ یانې د صنعتي محصولاتود پلان اوتولېد پوهې او ښوونې ته وچت شو. دې پیښې د ټولنیز ژوند په چټک پر مختګ کې دعلم، تعلیمي مؤسسو اوپه ټوله کې د تعلیمي نظام ارزښت او اهمیت نورهم لوړ کړ، کمي پراختیا او کېفي پر مختګ ته یې پاملرنه زیاته شوه اوپوهنتونونه د نړۍ په ځینو هیوادونو کې په زده کړو او ښوونو سربېره د پوهنیزو څېړنو په لويو مرکزونوهم بدل شول، د پوهې څخه نه

ماتیدونکې ځواک جوړشواو داقتصادي پر مختګ، ټولنیزې سوکالې او د ملتونو د سرلوړۍ بې مثله او بې پایه سرچېنه وګرځیده. تکنالوژۍ ته د ساینس او پوهې وچتیدل اوبیا په ساینسي او پوهنیزو پلټنو کې د معاصرې تکنالوژۍ نه کار اخیستل د بشري پوهې پرمختګ ډ یر چټک کړ، ژورتیایې مېکروالیکترونیک، ننوتکنالوژۍ او مالیکولار بېولوژي او پراختیایې له ځمکې بهر سپوږمۍ اوستوروته هم ورسیده او ور سره سم دانسان ډيرې د ندې تخنیک ته وروسپارل شوی. دا پر مختګونه په تعلیمي نظامونوباندې بې اغیزې پاتې نه شول. په خپله د پوهې پر مختګ (ژورتیا او پر مختیا) او په ټولنیز ژوند کې دنوي تخنیک او نوي تکنالوژۍ نه کار اخیستل نوي ټولنیزې اواقتصادي اړیکې، د کار نوي ځایونه او نوي کسبونه اومسلکونه او ور سره سم د نووکدرونو دروزنې اړتیا راپیدا کوي. دې نوو پوښتنو ته د سم ځواب ور کولو له پاره د تعلیمي سیستمونو په بهرنې جوړښت ( بېلا بېلو پړاوونو) څانګو، مسلکونو، دهغوی په تعلیمي نصابونو او دیدکتیک ( دزده کړې او ښوونو متن او مېتود) کې اصلاحات وشول او هم کېږي.

د خوشال خان په زمانه( ۱۶۱۳- ۱۶۸۹م) کې دې ډول ښونځیو اوتعلیمي نظامونو نه یوازې دخوشال په ټاټوبې بلکې د نړۍ په لویه برخه کې وجود نه درلود. دهغه وخت ښوونېزې او روزنېزې مؤسیسې د زده کوونکو د سن اوسویې له مخې په بېلا بېلو ټولګیو نه وې ویشل شوې او په لوړو پړاوونو کې یې هم ځانګړې اختصاصي او مسلکي ځانګې نه در لودې. د نوي تعلیمي نظام نظري طرحه په ارو پا کې د لومړي ځل له پاره چکي عالم جان اموس کامېنیوس (۱۶۷۰-۱۵۹۲م ) وړاندې کړه چې له مخې یې د نورو اصلا حاتو تر څنګ ښوونځي او تعلیمي مؤسیسې دزده کوونکو د سن او سویې له مخې په ټولګیو وویشل شوې، د لومړنیو، منځنیو او لوړو زده کړوتر منځ اړیکې تنظیم او په دې توګه دزده کړو دبېلا بېلواویوله بله مستقلو مؤسیسو په ځای تعلیمي نظامونه یا سیستمونه جوړ شول. ور پسې دهمدې طرحې په بنسټ د نړۍ په بېلا لو سیمو او هیوادونو کې نوي ښوونېز او روزنېز سیستمونه را منځ ته شول. زموږ په هیواد کې د لومړي ځل له پاره امېر شیر علي خان دخپل حکومت په دوره(۱۸۶۸- ۱۸۷۸م) کې دوه دا ډول نوي ښوونځي جوړکړل چې یو یې ملکي او بل یې نظامي و. ددې ښوونځیو جوړول دامېر شیرعلي خان دهغه فرهنګي اصلاحاتو یوه برخه وه چې دسید جمالالدین افغاني په هڅونه او مشوره یې تر سره کولې.( وګورۍ، مېر غلام محمد غبار:افغانستان در مسیر تاریخ، جلد اول ودوم، چاپ سوم، سال۱۳۶۶ صفحات ۵۹۲ و۵۹۵)

دخوشال خان دژوند په وخت کې د مغولي امپراتورۍ په اسلامي برخه کې دا د نن ورځې ښوونځي او پوهنځي هم نه وو. د نورې اسلامي نړۍ په شان د لته هم جوماتونه اودېني مدرسې دزده کړې او ښووني اصلي مرکزونه ول. وایې چې شاهانو په در بارونو کې د خپلو اولادونو د ښوونې روزنې له پاره ښوونکي ګمارل او د در بارنه د باندې هم ځای ځای خصوصي زده کړې او ښوونې تر سره کېدې.

دې لیکنې ته د تیارې په بهیر کې په دې پوه شوم چې خوشال خان زده کړې او تعلیم ته د خپل پلار شهبازخان له خواهڅول شوی دی. شهباز خان تل په دې سوچ کې و چې زوی به یې څنګه د پوهې سره اشنا او په علومو سنبال شي. خوشال خان لیکي چې:

د ما پلار په ګور یې نور شه — له اولاده یې غم دور شه
بې سبــــقــه خــــوا ننــده و — د هــــر حــسر یـابنـد ه و

بنــه ســړی د ده قــرين و ‏ ‏ خـوانــده يې همـنشـين و
د سبــق پــه قــد ر پوه و ‏ ‏ همــيشــه پــه د انـد وه و
چې که زويه مې دانـا شي ‏ ‏ د د انـش ســره اشــنا شي

(د خوشال کليات، ۷۷۱-۷۷۰ مخونه)

د خوشال خان دا ځرګندونې ښيي چې پلار يې زده کړو ته هڅولې او استاد ته دزده کړو له پاره کښينولې دی، خو دا نه ده مالومه چې ده له استاد نه کتابي زده کړې په څو کلنۍ کې اوچېرته، په خصوصي ډول په خپل کور کې، په مدرسه اويايه جومات کې پيل اوپه کوم ځای کې يې پای ته ورسولې؟ استاد اويا استادان يې څوک وو؟ ترڅوکلنۍ پورې يې داستاد اويا استادانو نه زده کړې کولې او څه وخت يې مستقلې څيړنې، لوستنې او ليکنې پيل کړې ؟ ايا د زده کړو له پاره يې نورو ځايو ته هم سفرونه کړي دي؟ دې پو ښتنو ته دځواب ور کولو له پاره دلته او هلته يو څه ځرګندونې شوی دي، خو څه نا څه تولې يې په حد س او ګمان ولاړې دي. ما په دې هکله باورې سرچېنې ونه مېند لې او که د مسلک د خاوندانو په مرسته مې تر لاسه کړې نو لومړی به د زړه له کومې مننه ترې وکړم او ور پسې به داليکنه له سره تر غور لاندې ونيسم. خوشال خان په « اخلاقنامه » کې د «حسب حال » تر سرليک لاندې په يوه شعر کې ليکلي دي چې:

چې مې کال زياتي ترلس شه ‏ ‏ را پيـدا د څـه هــوس شــه
يـوه جـن وه پــه مـکـتب کـې ‏ ‏ شــبـچــراغه وه په شب کې
پــرې زمــا د زړه وه مينـه ‏ ‏ ګـډه مينـه مـې پــه وينـه
پـه اخــلاص کــه عــاشـقي کا ‏ ‏ ترې بــه وركــه فاسـقي کا
نــه مي کـشف چاتـه راز کړ ‏ ‏ نه ښکاره مې سوزاوساز کړ
د استــا د مــهــر د عــا وه ‏ ‏ کــه دعـشــق د درد عطا وه
کــه د پـلا ر هـغـه جـفا وه ‏ ‏ چــې يې تـل له ما غوغا وه
په څو ورځې سواد خوان شوم ‏ ‏ خـوا نـنـده دهــر داستان شوم

(د خوشال خان کليات، ۷۷۱ ــ ۷۷۲ مخونه )

مکتب او مدرسه دواړه عربي ټکي دي چې د ښوونې اوزده کړې مؤسيسه په ګوته کوي. د خوشال خان د دې شعر نه دا ښکاري چې ګوندي ده په مکتب يا مدرسه کې زده کړه کړې ده او جلۍ يې هم هلته ليدلې ده او دا هم راښيي چې

په هغه وخت کې جونو او هلکانو په ګډ ښوونځي کې زده کړې کولې،خو دا نه ده مالومه چې ټولګي يې هم سره شريک ول او که نه دجونو ټولګي بېل او دهلکانوبېل ول. اودا چې خوشال خټک تر لس کلنې وروسته په څو ورځو کې سواد زده کړې دی ښيي چې په لس کلنۍ کې يې په زده کړو پيل کړي دی. په جوماتونو او مدرسو کې دزده کړې او ښوونې تعليمي نصاب ټاکونکي برخه د ديني متنونولکه صرف، نحو، فقه، حديث، تفسير، عقايد او نورو څخه جوړه شوی وه ، درسي کتابونه په عربي او پارسي ژبو ول اوپارسي ژبه د مغولودرباري ژبه هم وه، سره له دې هم خوشال خان په ښتو ژبه دومره مسلط شو چې تر اوسه د دې ژبې د نظم او نثر بې ساری سرلښکرګڼل کېږي. له بلې خوا د ده پوهه هم دهغه وخت په تعليمي نصاب اودينې علومو محدوده پاتې نه شوه، بلکې پښتو ژبه يې له يوي خوا دوخت دټولومروجو علوموڅخه ډکه اوله بلې خوا يې دا ژبه په نظم اونثر کې نورو ژبو سره سيالۍ ته وچته کړه. خوشال خان د پراخې او ژورې پوهې خاوند واو په دې پو هيده چې انسان د ډيروزياتو زده کړو وس اواستعداد لرې، خودا وس اواستعداد بايد په کار واچوي. که ظرفيت او استعداد سره کلک نيت، همت او پرله پسې هلې ځلې اوزحمت ملګري شي، نومراد حاصليږي او سړی موخې ته رسيږي. داسې ښکاري چې خوشال خټک د خپل فعال او خلاق ژوند تجربې راټولې کړي، هغه يې ارزولې او دې نتيجې ته رسيدلی دی چې:

په اول وصلت دعشق په توره درومه
دعاشق سړي تنې پورې سرنشته

چې غوپه پسې وهې په لاس به درشي
چا وې دا چې په درياب کې ګوهر نشته

(انتخابات خوشال خټک، ۲۶ مخ)

په دې کې شک نشته چې خوشال خټک دعلم او معرفت عاشق و. ده په پوهه کې ډيرې ديني او دنياوي ښيګڼې ليدلې. پوهه دخوشال په نظر دانسان ظاهري جمال نه بلکې دهغه باطني کمال جوړوي، نوځکه يې په دې ګوهر پسې په لويو لويو دربابونو کې هم پرله پسې غوپې وهلې او دپوهې په تر لاسه کولو او خپرولو کې يې خپلې هلې ځلې دژوند تر پايه پور ې جاري ساتلې.

ب - علم د د یني فریضې په توګه:

دخوشال خټک نه راپاتې لیکنې او څیړنې راښیي چې هغه یو صادق مسلمان او د کلک ایمان خاوند او وتلی دیني عالم و. ده پوهې ته تر هر څه د مخه دالهي امر اودیني فرض په سترګه کتلي دي او هر مسلمان او مسلمانه یې د دې فرض په ادا کولو مکلف ګڼلي دي. زه په دې ځای کې دیوه ټکي یادول لازم ګڼم او هغه داچې په کوچنیتوب کې مې ځوکاله دخپل کلي د ملا امام څخه زده کړې کړي دي. له هغه وخته تر دې ورځې پورې مې په جوماتونو، فاتحو اوجنازو کې، په ګڼو وعظونو اومسلو کې دهیڅ ملا امام له خولې دا نه دي اوریدلي چې علم په هروخت او هر ځای کې په هر مسلمان او هرې مسلمانې فرض دی. دامې دښوونځي دښوونکو له خولې هم نه دي اوریدلي او دښوونځي په درسي کتابونو کې مې هم نه دي لوستلي. په ۲۰۰۱ مېلادي کال کې د « خوږې خبرې » تر عنوان لاندې دعبدالهادي ملاخیل په قلم لیکل شوې رساله لاسته راغله. زه محترم ملا خیل نه پیژنم، په رساله باندې یې دښاغلي محمد آصف صمېم له سریزې داسې ښکارې چې دعبدالهادي ملاخیل دکورنۍ او ټبر ډېر اویاتول غړي ملایان اودیني عالمان تیر شوی وو او دي، خود ده د پښتو ژبې دسبک څخه – موږ خو لا پرېږده – چې د دې ژبې شاعران او ادیبان هم یوڅه زده کولی شي، مطلبونه یې په خوږه اوروانه پښتو بیان کړي او ژباړلي دي. ده په خپله رساله کې دعلم په هکله داسلام پیغمبر حضرت محمد(ص) مبارک حدیثونه هم ژباړلي دي چې دلته یې په ترتیب یو په بل پسې رانقلوم:

۱ - « دعلم زده کړه په هر مسلمان نر او ښځه باندې فرض ده»

۲ - « چاچې دعلم لار خپله کړه هغه دجنت لار ونیوله»

۳ - « چا چې دعلم دزده کړې په لار کې ژوند له لاسه ور کړ هغه شهید دي»

۴ - له مهد (زانګو ) نه تر لحد (قبر) پورې دعلم زده کړه وکړي».

(عبدالهادی ملاخیل: خوږې خبرې، ۸ مخ)

په لومړي حدیث کې دعلم په زده کړه ټینګار شوی او هغه په دواړو جنسونو یانې نر او ښځه یوشان او بې له کوم توپیره فرض ګڼل شوی دی. په دوهم اودریم حد یث کې دزده کړې ثواب ښودل شوی دی اوښیي چې دزده کړې له پاره

ښوونځي ته په تګ څوک کافر کیږي نه بلکې فرض اداکیږي او که دچا ژوند دعلم په زده کړه کې تیر شي نو جنت یې ځای کیږي. د محترم ملاخیل په کتاب کې مې دعلم په هکله همدا څلور حدیثونه ومېندل، خوغوښتل مې چې په دې برخه کې دخپل هیواد دنوروديني‌پوهانودلیکنو او څیړنو نه هم خبرشم او خپل مالومات یو څه پراخ او ژور کړم، نو مې دګوګل له لارې دانټرنیټ پاڼو ته مخه کړه، خو متاسفانه چې څه مې پیدا نه کړل او تش لاس ترې را ووتم. بیا مې لټوونکي ماشین ( ګوګل) ته د « مقام علم در دین مبین اسلام» سر لیک دېټې په توګه ور کړچې په پایله کې یې بې شمېره لیکنې او څیړنې دانټرنیټ په پاڼو کې را ښکاره شوې. په دې لیکنو کې چې ټولې یې په ایراني پارسي لیکل شوې دي اودا سې ښکاري چې ټولې یې ایراني دینپوها نو لیکلي دي، هڅه شوې ده چې داسلام په مبین دین کې د مبارکو آیاتونواوحدیثونو له مخې دعلم ضرورت،ارزښت، مقام او دهغه دیني اودنیوي ګټې را څر کندې کړي. په ځینو لیکنو کې څلوېښت حد یثونه رانقل او په پارسي ژباړل شوي دي چې دیوه پښتو ژباړنه داده:« علم زده کړی که په چین کې وي هم». دا مبارک حدیثونه راښیې چې علم په اسلام کې دهر ډول قید اوشرط نه ازاد فرض او یو مطلق ضرورت دی. داسلام په پاک دین کې جنس دعلم دزده کړې مخه نشي نیولې ځکه په دواړو جنسونو یانې نر او ښځه فرض دي. دعلم زده کړه دزمان له قیده هم ازاده ده یانې دانسان دعمر په کوم ټاکلي پړاو پورې نه دي تړل شوی بلکې په هر مسلمان باندې دد ه په ټول عمر کې له زانګو تر ګور پورې فرض دی. په همدې توګه دعلم زده کړه په کوم ځانګړی ځای پورې هم نه ده تړل شوی. هر مسلمان مکلف دی چې دپوهې تر لاسه کولو له پاره دامکان او ضرورت په صورت کې دخپل کور، کلي او حتی دخپل هیواد نه ووځي او دنړۍ نورو هیوادونوته سفرونه وکړي. په دې او نوروپاکو حد یثونو کې علم په دیني او دنیا وي علومو هم نه دي ویشل شوی بلکې د علم ټکې په عام مفهوم کارول شوی دی. دحضرت محمد مصطفی (ص) دژوند په وخت کې نه داسلام مبین دین چین ته رسید لی و او نه خلاصه، منیه او هدایه لیکل شوی وو، خوچینایي پوهانو او دصنعت ماهرانود پخوا نیوزمانوراهسې په نړۍ کې شهرت درلود. لنډه دا چې علم داسلام دپیغمبر حضرت محمد ( ص ) په قول په هر مسلمان – نر اوښځه – هروخت او په هر ځای کې فرض دی. خوشال ختک دا فرض تربل هرچا ښه ادا کړی دی او د پښتون په تاریخ کې یې تر بل هرچا زیات علم کړي دی اودا فرض یې د ټولو ملایانو اود دین دنورو ټیکه دارانو پرتله ډیراو په ډیر خواږه، ساده اوروان شعر کې راښودلی او خپور کړي دی. خوشال بابا په ټینګار راښیې چې:

زده کول دعلم فرض دي | په مېړو په ښځو فرض دي
صد رحمت په هغه باندي | چــې طلــب دعــلـم کاندي
پیــغــمــبر د ي فــرمایلي | ده تــر پــا کــي خولې ایستلي
عــلــم واړه عــبا دت دی | څــو چــې کیږي سعادت دی

(د خوشال کلیات، ۹۹۸ مخ)

علم داسلام په مبین دین کې هدف نه دی بلکې وسیله ده. علم د دیني اودنیوي عمل لار ښوونه کوي او دعمل ارزښت ټاکي. په یوه حدیث شریف کې راغلي دي چې« لږ عمل چې په علم بنا وي ګټه لري او ډیر عمل چې په جهل ولاړ وي بې ګټې دی». ( حوزه، انترنیت] خوشال خان دخپلې زماني علوم نه یوازې زده کړي ، ارزولي او پر مخ بېولي دي بلکې په دیني او دنیاوي چارو کې یې دهغوی ګټې دپېنتوژبې په نظم او نثر کې تر بل هرچا ښې او په تفصیل بیان کړې دي اوله دې لارې یې پښتانه دعلم زده کړې ته رابللي او هڅولي دي. دي را ته لیکي:

چــې په عـلــم څوک آباد وي | غم یې نشته تل به ښاد وي
خدای په عـلــم پیژانده شي | په دانش ابلیس رانده شي
عــلــم تــا په طاعــت پوه کا | عــلــم تا په حرمــت پوه کا
عــلــم تــا په ټـولو بــر کا | د د نیــا د ا نــا یــې د رکا
حق ناحق زده کړي په علم | در ښــکاره شي عدل، ظلم
په دنیا چې تور اوسپین دی | واړه عــلــم وتــه مبیــن دی
عــلــم دیــن دی هم د نیا دی | د بــا د شــاه هــم دګــدا دی
چې فقــیر وي علم زده کا | خدای یې لــویــه مرتبه کا
په هر نیک، په بد اشنا شي | د د نیــا، د دین باد شاه شي
پــو هـــه واړه عنــایت دی | غــوره لار دعـبــا د ت دی
غـــوره پــو هـــه ده وماته | له طــاعـت لــه عـبـا د ا ته

(د خوشال خان کلیات، ۷۷۹-۷۷۶ مخونه)

دعلم سره مخالفت جهل دی. علم هرڅه راښیي، په ژوند او بشري ټولنه کې مو په ښو اوبدو، روا او ناروا،حق اوناحق او عدل اوظلم پوهوي او دطبعیت له

رازه مو خبروي، ژوند ته لوړ انساني معیارونه جوړوي، دټولنیزو ستونځواو طبېعي آفتونو سره په مقابله کې دانسان وس او ځواک

وچتوي، خو جهل مو له دې هرڅه بې خبره ساتي. جهل دخدای له امره سرکشي ده، په ټولنیز ژوند کې د ظلمت، وحشت، بربریت او ور سره سم د ذلت او بېوزلی سرچېنه ده. خوشال خان په علم کې دیني او دنیاو ښادي او دانسان ځواکمني ویني او په دې عقیده دی چې په علم هم دشیطان طلسم ماتیدلی شي او هم دفرعونیانو دقدرت لوړ برجونه رانسکوریدلی شي. نو ځکه په تینګار وایي چې:

| | |
|---|---|
| کـه د نـفـس په نغـوته د رومې | تابه زر کاندي رسـوا |
| چه ارواح پرې خوښي مومي | هغه چار ګـنـه اعـلا |
| مـټ په علـم کـړه چې علـم | هم اژدا د ه هم عصا |
| یـا پـه علم کې لـذ ت د ی | یا په دعشق کې دمولا |

(انتخابات خوشال، ۱۰ مخ )

دلته د دې ټکي یادول لا زم ګنم چي دخوشال خان په زمانه بشري پوهې نه دنن په شان پر مختګ کړي واو نه د ټولنیز ژوند په بنسټیزو برخو ( کرنه، صنعت اوعامه خدماتو ) کې کار ول کېده. علم دصنعتي محصولاتو دپلان او تولېد سطحې ته نه و اوچت شوی. دکسبونو اوحرفو دزده کړې له پاره دنن په شان حرفوي ښوونځي او پو هنځي نه وو جوړ شوی. دکسبونو او حرفو زده کړې اوله یوه نسل څخه وبل نسل ته دهغوی پر له پسي لیږدول په عملي تجروبو بنا وو. کوچنیانو او ځوانکېو دلویانو او مشرانو نه مروج کسبونه او حرفي دتقلید له لارې زده کول. دا کسبونه ټول جسمي کسبونه وو، بزګرانو، دلاسي صنعت کارګرانو او په ټولنه کې نورو کسبګرانو په مدرسوکې دکتابي زده کړو سره سروکار نه درلود او دمدرسوښوونکي او زده کوونکي ښا په خپل وارجسمي کارونواو کسبونو ته نه ور نږدې کېدل. دجسمي او فکري چارو په همدې توګه د علم او اقتصادي کسبونو تر منځ لوی واټن پروت و. سره له دې هم خوشال په همدې زمانه کې دفردي او ټولنیز ژوند په سمون کې دعلم په رول ټینګار کړي دی اوهغه یې دانسان ځانګړتوب ګڼلی دی. دی لیکي چې:

شـنـاخـت، ا د ب، عـلـم سـرېـو لره بـویه
په دادری ټوکه ځار وي نه دي اشنا

چــه پــه زړه کې بې د عــقـل چراغ بل شي
ورځ او شپــه وي په هـغـه باندې رڼا

(منتخابات خوشال خټک،١١ مخ )

انسان دعلم دزده کړې له لارې دشپې له تیارو څخه راوتلی شي او دورځې رڼا په سترګو لیدلی شي او په دې واقعیت هم پو هیدلی شي چې:

هوښیاربه چست و چالاک بېدار وي په هره چا ر به ژر خــبر دار وي
دېر به عمــل لــري لــړې خــبرې په هر زمان به بې نظر په کار وي

(د خوشال خان کلیات،٥٠٣ مخ )

پوه او هوښیار انسان له یوې خوا په فردي او ټولنیز ژوند کې دعمل، کار اوزیار په رول او ارزښت پوهیږي اوله بلې خوا په خپل طبعي اوټولنیزچاپیریال کې پراته امکانات او مشکلات او دهغوی سره دچلند لارې اوچارې هم ښې پیژندلی او ترې دځان او بشریت په ګټه کار اخیستلی شي. خونا پوهي مو له هرڅه بې خبره ساتي، دکور، کهول او دټول هیواد نه مو دبې وسی او بې وزلۍ دایمي اډه جوړوي. خوشال خټک مودې واقیت ته پام راګرځوي چې:

کاڼي لعــل د بــد خشان، کیــا کیمیــا ده
چــې یې نه پیــژني تــه ګناه د چا

چې بادشاه یې ستمګرشي خلک خوارشي
خدای دې نه کا ستمګر بادشاه دچا

(د خوشال خټک کلیات،٩-٨ مخونه )

یوازې په علومو، فنونو، حرفو اوکسبون سمبال ولس کولی شي چې له یوې خوا دخپل هیواد دطبیعي زیرمو نه ګټه واخلي، په ټوله کې دټولنې اقتصادي سطحه وچته کړي او له بلې خوا دټولنې نه دظلم او ستم جرړې وباسي. په دې توګه خوشال خان په علم کې د دیني فرض تر څنګ دبسیا، هوسا او پتمن ژوند سرچینه هم ویني او دژوند تر ټولو ارزښتناکې پانګې په سترګه ورته ګوري. نوځکه لیکي چې:

نه سرداري ورکا، نه زرداري ورکا　　نه لـوي ملکونــه اوبه جاري ورکا
چې له ازله خدای څوک نمنځلي وي　　هغه سرېو ته خدای هوښیارې ورکا

(د خوشال ختک کلیات، ۲۷۷ مخ)

سرداري اومادي شتمني یوچاته په مېراث هم ورپاتې کېږي، ډیرځله په ناروا لارو هم تر لاسه کېږي نوځکه شتمني اوسرداري دیو چا تولنیز اوسیاسي مقام ښیي، خو دهغه دشخصیت نماینده ګي نه کوي د شخصیت د ودې په څرنګوالي یې کومه اغیزه نه لري اودهغه په جوړښت اوترکیب کې هم کوم ځای نه لري. دمقام او شتمنۍ سره دانسان ترون مېخانیکي دی او دوام یې حتمي نه دی، یوله بله بېرته بېلیدلی اود شتمن سردارنه چې له سره بې علمه و ی یو بې وزله انسان هم جوړېدلی شي. خوپوهه اوهوښیاري چې انسان یې په کار اوزیار ترلاسه کوي دهغه دشخصیت په جوړونه او وده کې ارزښتناک رول لوبوي، انساني صفت او ماهیت یې ځواکمن کوي، ورڅخه نه بېلیږي اوورسره دایمي ملګرتیا کوي.

خوشال خان وایې:

چې کاهلان دي، چې احمقان دي　　د ولـت به یا یـلي کـه یـا د شاها ن دي
د ولــت د د ین د د نـیا د چا دی　　چې هوهښیاران دي په کار چسپان دي

(د خوشال ختک کلیات، ۴۶۸ مخ)

اوزیاتوي چې:

احمق که هر څـود نیا د ولت لري　　د ولـت بـه څـه کا چې حما قت لري
که ډیر نادار وي شکر دي کاندي　　که خوی یې ښه وي علم حکمت لري

(د خوشال ختک کلیات، ۴۵۵ مخ)

دخوشال ختک په نظر دعلم په زده کړه فرض ادا کېږي او دعلم په زور د نیا ابا دیږي، علم هم دین دی او هم دنیا ده او دخوشال عقیده داده چې:

یا ترس دخدای دی یا هوښیاري ده　　دین ود نیا لره چې کامګاري ده
هغه چې دالري پرې مې سلام دی　　په دواړه کونه یې رستګاري ده
(د خوشال ختک کلیات، ۴۳۶ مخ)

خوشال بابا پوهه او هوښياري دښه نيت او دخلکو سره دخواخوږۍ په شان دانسان يو لوړ صفت بولي  دعمر تر ټولو ښه محصول يې ګڼي اود دې صفتونو خاوندان داسې ستايي:

سخ د هغه دی چې ښه يې نيت دی          نيکخواه دخلکو په ښه خصلت دی
تل يې په علم په طاعت مېت دی          حـــا صل د عمر، علـم طاعت دی

(د خوشال خټک کليات، ۴۴۶ مخ)

ښه نيت او دخلکو نيکخواهي چې دعلم او عمل سره يو ځای شي دښيګڼو سرچېنه ترې جوړېږي او څوک چې دا صفتونه لري خوشال خان يې دمېوه لرونکي ونې سره پر تله کوي اولېکي:

چې علم وکړي عزيزه زويه          فهم په علم په عمل بويه
کمکېه ونه بارداره ښـــه ده          نه پلنه ونـــه بې باره لويه
(د خوشال خټک کليات،۴۰۲ مخ)

خوشال خان علم دانسان په ټولنيز ژوند کې د ډول ډول رنځونو در مل ګڼي اونا پوهۍ ته بيا دهمدې رنځونو دسرچېنې په ستر ګه ګوري نوځکه جهل او جاهلان په کلکه غندي اوپه پوهه او هنر سنبال انسان ته، که هر څوک وي په زړه کې ځای ور کوي او ليکي چې:

هنر چې نه لرې که مې پسر دی          که څوک يې ياد کا درد مې دسر دی
کـه بېـګانه وي چـې يـګـا نه وي          يـا مـې لـيـمه دي يــا مې ځيګر دی
(د خوشال خټک کليات،۴۵۴ مخ)

خوشال خټک دا « ېګانه » ياني دفن، پوهې او هنر مخکښ انسانان « ښه مېړونه » بولي. داښه مېړونه نه يوازې خدای نمځلي دي بلکې دبشريت او بشري ټولنې له پاره هم تر بل هرڅه لوړ ارزښت لري ا وخوشال په دې لاندې کرښو کې دهغوی داسې ارمان کوي:

هم مې د ولـت شته هم مې ملکونه
هم مې ځوانان دي هم لوی لوی غرونه

دا واړه هيڅ دي په نوم حساب دي

چــې پـکــې نشــتــه ښــه ښــه مــړونه

(د خوشال خټک کلیات، ۴۳۶ مخ )

ښه مېړونه یاني دښه نیت خاوندان، دخلکو خیرخواهان او په پوهه، فن او هنر سنبال انسانان دخوشال خټک په خیال او فکر کې لوړ مقام لري، ځکه چې داسي مېړونه دبشري ټولنې دپر مختګ، سوکالي عدالت اووروروولی لار پرانیزي، دخدای د مخلوق خدمت د لوی پرور دګار په دربار کې عبادت ګڼي. که داحقیقت هر څومره تکرار شي په ځای دی چې دافغان ولس دتیرو اواوسنیو ناخوالیو تر ټولو بنسټیز لامل بې علمي او په ځینو ډلو ټپلو کې دعلم سره مطلقه دښمني ده. که چېرې مو له سره دخوشال په لار حرکت کړی وای، که چېرې مو له سره دخوشال خبرو ته یو څه غوږ نیولی وای، که چېرې مو دابن سینا بلخي په شان پوهانو علمي میراث پاللی وای او که چېرې مودعالم اسلام له پاره دسید جمالدین افغاني په سیاسي، اقتصاد ي او ټولنیزو افکارویو څه ځان پوه کړی او په کلکه دهغه ملا تړ کړي وای او که چېرې مو معارف پالونکي پاچا غازي امان الله خان په دي ګناه له ملکه نه وای شړلی چې ښونځي یې جوړول او دعصري علومو دزده کړې له پاره یې جونه او هلکان بهرنیو هیوادو ته لیږل، نو دا احتمال رامنځ ته کېدای شو چې دعلمي زده کړوبهیرمودعلومو په ځینو څانګوکې په ملي کچه مستقلو څیړنو ته وچت شي، دژوند په ځینو برخو کې په خپلو پښوودریږو، دنورو له احتیاج نه ازاد شو، ورسره سیال شو اوخپلواکي او ملي غرور وساتلی شو. که چېرې مو دعلم لار نیولې وای نو اوس به مو دا حالت نه درلود چې لرو یې. خوشال خان ټینګار کړي دی چې نا پو هي بې وزلي ده، بل ته احتیاج دی او پایله یې غلامي ده، نوځکه دنا پوهی په ضد جهاد دبې وزلی اوغلامی په ضد جهاد دی اوداجهاد په هر مسلمان فرض دی.

## ج ــ د خوشال خټک په فکر کې د عالمانو ځای:

په تیر بحث کې مو ولېدل چې خوشال خټک علم ته د فرض په سترګه ګوري اوزده کړه یې ترعباداتو لوړه بولي. دی په علم کې د دین او د نیا له پاره بې شمېره ښیګڼېویني خو دعالم مقام یوازې دهغه په علم پورې نه تړي اوځنې نور، د شخصیت د ټاکنې له پاره، مهم معیارونه هم لري. دی لومړی دعالم، نیمه عالم او دهغه چا تر منځ توپیر کوي چې له سره علم نه لري اوخوشې ځان عالم ګڼي. خوشال خان د ژوند د تجروبو او د ډیرو زده کړو اوڅیړنو له مخې په دې هم پوهېږي چې علم د سړي‌مو له لارې د چا مغزو ته نه ننوزي بلکې دوخت په

بهیرکي ترځانګړوشرایطو ( استاد، اودرسي وسایل ) لاندې د پرله پسي هڅو ( استاد ته غوږ نیولو، لوستنو، لیکنو اوڅیړنو) له لارې تر لاسه کېږي او هر پوه انسان چې دزده کړې د بهیر یوځه بریالی تجروبه لري، په دې هم پوهېږي چې دعلم زده کړه پای نه لري، ځکه چې نه یوازې دعلم موضوع جهان شموله ده بلکې بشري پوهه هم ورځ تربله بدلیږي، ژوريږي، پراخيږي او نوي نوي علمي څانګې رامنځ ته کيږي. یوازې په علم کې ور ننوتلی پوه انسان په دې راز پوهيږي چې علم نه تمامېږي او د زده کړې بهیر پای ته نه رسیږي. عالم خپل علم مطلق نه ګڼي، هغه نسبي کوي او په موضو پورې يې تړي. تش په نامه عالم په دې راز نه پوهيږي. دی داخپل نیمګړی او کمزوری فکردعلومو مجموعه بولي او دهغه د مطلقې لوړتیا دعوه کوي. په دې هکله خوشال خان لیکي چې:

که عـقل ورک شي له دې جهانه هیــڅ پاتي نه شي ای زما جانه
هیڅوک به نه وایي چې زه نادان یم هر یو به ښه ګڼي ځان له لقمانه

(د خوشال ختک کلیات،۴۲۷ مخ)

دعقل اوپوهې نه بې برخې وګړي ځان تر لقمان پوه ګڼي او خپله پوهه ورته جهان شموله او مطلقه ښکاري، نه په ځان کې کوم عیب اونه په خپله پوهه او تجروبه کې کومه نیګړتیا ویني. د ده هر څه ښه او بشپړه دي، د چا نه د زده کړې اویا د بل انسان مشورې ته اړتیا له سره نه احساسوي. خوشال ختک دا ځانګړتیا د حماقت تر ټولو سمه نښه ګڼي او دعالم اوبې علمه ترمنځ د توپیر کولو ښه معیار يې بولي. دی لیکي:

هوښیار به هر چېرې محتاج د پند وي
پنـد به په ده با ند ې بهتر تر قند وي

نا دا ن به هیڅ چېرې د پنــد پروا نه کا
پند به په ده با ندې د خنظل خوند وي

(د خوشال ختک کلیات،۵۰۴ مخ )

او زیاتوي چې:

هـوښیـار چې واوري دپند خبرې وربانـدې لګي لکه شکرې
نادان د خرونو په شمارحساب دي د پند خبرې په خرو نغرې

(د خوشال خټک کليات، ۵۲۸ مخ)

يوه بله ډله چې د خوشال خټک نه خوښيږي اوترې سرټکوي هغه د نيمه عالمانو ډله ده. داډله په خپل فن او مسلک کې داړتيا وړ مالومات اوتجروبه نه لري. څوک چې د ټولنيزژوند په کومه برخه کې دعالم رول لوبوي با يد په هغه برخه کې لازم مالومات او تجروبه هم ولري اوکه نه د علم اوعمل څخه يې د ښيګڼې په ځای بدي او د ګټې په ځای زيان را منځ ته کيږي. خوشال خان ليکي چې:

نيــم مــلا، بــلا د د ين ا و د ا يــمان دی
نيــم طبيب خطره د تن دی، هم دځان دی

(د خوشال خټک کليات، ۹۳۵ مخ )

د خوشال خټک دا څرګندونې ښيي چې دی، هرچاته چې دعلم دعوه کوي، دعالم په سترګه نه ګوري.عالم هغه څوک دی چې په خپل فن او مسلک کې خپله پوهه او تجروبه دمهارت کچې ته وچته کړي او د خپل علم له کاروني څخه مطلوبه پايله تر لاسه کړي. دې ډول عالم ته عالم ويل کيږي خود خوشال خټک په نظر فضيلت يوازې په علم نه ترلاسه کيږي. لکه څنګه چې هرسړی يوازې په سپينه پګړۍ ملاشاګل کېدلی نه شي نو په هم دې ډول هر ملا يا کوم بل عالم هم يوازې په علم مکرم يا فاضل کېدلی نه شي. په دې برخه کې زموږ ديني پوهان اوملا صاحبان بل نظر لري. دوی ځان ته علمآ کرام وايي اوهغه تر ساده او بې علمه مؤمنانو څو درجې لوړ ګڼي . دبېلګې په توګه د مولوي صاحب رياض الله ساجد يوه ليکنه په ۲۰۱۰/۳۱/۷ نيټه په روهي ويپاڼه کې خپره شوی ده. که څه هم د ليکنې سرليک يې « په اسلام کې دعلم اهميت دی» خو ټوله ليکنه يې په اسلام کې دعلمأ کرام په مقام او منزلت راڅرخولی ده. دی دعلامه ابن عباس له قوله ليکي:« چې علمأ په نورو مؤمنانواوه سوه درجې بهتري او فضيلت لري اود دوه درجو تر منځ پنځه سوه کاله په مزل فاصله موجوده ده». د مولوي صاحب جاهد ليکنه داهم ښيي چې مورنۍ ژبه يې پښتو ده، خوښکارې چې د ډيرو نورو پښتنو ديني عالمانوپه شان لانه دي خبرچې خوشال خټک دوتلي ديني عالم په توګه په فقه او اسلامي اخلاقو کې په پښتو ژبه راته ډير څه ليکلي او هم يې له نورو ژبورا ژباړلي دي. که ويې لولي نوله يوي خوا به داسلام په مبين دين کې دعالمانودمقام په هکله دباور وړ مالومات تر لاسه کړي او له بلې خوا به دمولوي

عبدالهادي ملاخیل په شان خپله مورنۍ ژبه - پښتو- په خپل ګرامري چوکاټ برابره ولیکي.
په اسلام کې دعالم دمقام په هکله هم مولوي صاحب ملاخیل دمولوي صاحب جاهد پر تله یو څه ژور فکر کوي. دی دعالم مقام یوازې په علم پورې نه بلکې دهغه دعلم اوعمل ترمنځ په یوالي پورې تړي او په دې عقیده دی چې:« کوم عالم چې په خپل علم عمل کړي د خلکو مقتدا او لار ښود ګڼل شوی او چې دعمل په ډګر کې پاتې راغلی دخلکو دانزجاراو کرکې سبب ګرځید لی.....زموږ مجاهد اولس چې دروسانو او دهغوی دګوډاګیانو نه په بې دریغه سرښند نې اوځان تیریدنې سره دایمان په ډاډ دخپلواکۍ جګړه وګټله..... نو ومو لیدل چې دسیاست ځینو لوبغاړودمسلمان ملت دهیلو اوارزوګانو پر مرۍ چاړه راکښله او دغه ټول ویاړونه یې په تیرو څلورو کلونوکې دقدرت په سرد نارواجګړو په قمار کې بایلودل او ان چې دهیواد ځمکنۍ بشپړتیا او ملي یوالی یې هم له ګواښ سره مخامخ کړ، زموږ ستونځه داوه چې سیاسي او پوځي مشرانو مو چې څه ویل عمل یې پرې ونه کاوه». ( عبدالهادي ملاخیل. خوږې خبرې، د ز-ح مخونه)

قدرمن ملاخیل صاحب دافغانستان دتاریخ ترټولو تریخ اوغمناک واقعیت (په نوي یمو کلونو کې دقدرت په سر دجهادي بانډونو تر منځ جګړې) په ډیپلوماتیکو نزاکتونو کې نغښتی بیان کړي دی اود ژبې د صراحت نه یې ځان ساتلی دی. حقیقت دادی چې دوخت دبانډونو لیډرانو ځانونه نه یوازې سیاسي او نظامي لیډران بلکې تر ټولو دمخه دیني رهبران او داسلام تر ټولو مستحق وارثان اومدافعان بلل خو په عمل کې، لکه ځنکه موچې ولیدل، بېرحمه قاتلان دایمان اووجدان نه بې برخې لوټماران راووتل چې په ناموسونو باند تیري ته یې هم دغنیمت مال په سترګه کتل. دا نه وایم چې دا لیډران عالمان نه وو، دوی عالمان وو، خو په عمل کې یې دعلم او عقیدې سره پرېکړه کړې وه او د نمرودپه لار روان وو. اوس نو پوښتنه داده چې ایاداسلام په پاک دین کې، چې دحق او عدالت دین دی، د قاتلانو او لوټمارانو لیډران له هغو مؤمنانو څخه چې ددوی دوحشتونو قرباني شول« اوه سوه درجې بهتري اوفضیلت لري»؟ حقیقت دادی چې داسلامي احکامو له مخې لوټمار که لوي عالم هم وي لوټمار دی، فاسق فاسق دی او قاتل قاتل دی، نه تر چا بهتردی او نه ا فضل دی. وایې چې شیطان هم اوږده بمبلي ږیره او ډیرعلم لري، خو دعلم نه دخیراو ښیګڼې له پاره کار نه اخلي بلکې شر او فتنې اچوي، نوځکه پاک او عادل خدای پرې ابدي لعنت کړی او له جنته یې شړلی دی. له دې امله خوشال خټک علم تر هر څه د مخه د اخلاقي اوانساني

اعمالو سره تړي او له عالم څخه غواړي چې دانسان اوبشري ټولنې په وړاندې خپل اخلاقي اووجداني مسؤليتونه او مکلفيتونه په کلکه وپيژني او که نه نو:

چې شيطان غوندې رانده شي څوک بې څه کا
کــه هــر څو ور سره علم وهنر ډير وي

( منتخابات خوشال خټک،۱۲۸ مخ )

علم له سره دعالم د نيت، ارادې او موخې نه ازا دي نه لري. داپه عالم په پورې اړه لري چې خپل علم د کومې موخې له پاره کاروي. نوځکه خوشال خان په دې برخه کې علم د يوې تيرې (تيزې) چاړې سره پر تله کوي چې جراح يې د ناروغيو د در ملې اوجلاد يې دسرونو غوڅولو له پاره کاروي. دی په دې هکله ليکي چې:

څوک چې بد ذات ته علم وهنر ورکا
جنګي رهزن ته توره خنجر ورکا

(منتخابات خوشال خټک،۷۳ مخ)

هرعالم چې دخدای مخلوق ته شراوزيان رسوي فضيلت نه بلکې دخدای لعنت ترلاسه کوي. خوشال خان دعالم څخه نه يوازې دخدای مخلوق په وړاندې دمسؤليت ژور احساس بلکې په خپل کاراوبار کې رښتينولي، زړورتيا او شهامت هم غواړي، دزوررورو اوزورواکانو په وړاندې به هم پټه خوله نه پاتې کيږي، رښتيا به وايي او دحق په لار کې به له هيچا نه ډاريږي او که نه نو:

د تحصيل او د ترتيل (۱) بــلا په ده شه
چې ملا دحـق ګـويې په کار ساکت دی

چې کـــردار يې دګـفـتـارموافق نه وي
هميـشه د دروغجـن په ګيره ډت(۲) دی

(د خوشال خټک کليات،۲۲۸-۲۲۷ مخونه)

(۱) په ښه اوازتلاوت (۲) ديو چا دسپکاوي له پاره کارول دکيږي

د خوشال خان په نظرهغه عالم چې علم يوازې دځان دظاهري ښې دسينګارولو له پاره زده کوي اويا دومره څه زده کوي چې يوازې د ځان ظاهرې ښه په سينګار کړي اووښيې چې ګوندې عالم دی، علم د خير اوشر او د حق او باطل تر منځ دتوپير کولو وسيلې په تو ګه نه پيژني او د خير په لار کې ترې عملي کار نه اخلي، د زهرجن مارحيثيت لري، يوازې چېچل کوي او بس زيان رسوي. ښه او فاضل عالم هغه دی چې علم يې له ظاهري ښې تير شي، باطن ته ورسيږي او په زړه کې يې ځای ونيسي او ځپل خصلت، عملي سلوک او ټول کړه وړه، د تر لاسه کړي علم په اصولو برابر کړي، علم اوعمل سره وتړي. دی په دې هکله ليکي چې:

مار وي هغه علم چې په تن دچا لګيږي
يار وي هغه علم چې وزړه وته رسيږي
درست تحصيل حاصل کړه چې خصلت دې نه بدليږي
خر يې کتابونه په تا لښلي روانيږي
هيڅ دی هغه علم چې خالي دی له اعماله

(د خوشال خټک کليات، ۷۳۶ مخ)

خوشال خان دعلم اوعمل يا د علمي نظراوعمل ترمنځ اړيکې په ډيرغورڅيړي اولکه چې مو ولېدل ډيرارزښت ورکوي خو په دې عقيده هم دي چې که علمي نظر دعمل نه ګوښې وي، په حالت کې کوم بد لون نه راولي. دعمل او نظر ترمنځ سم توپير هم دادی، چې نظر که هرڅومره علمي هم وي، په واقعيت کې بدلون نه را منځ ته کوي، نوځکه ګټه هم نه رسوي. په همدې ډول بې علمه عمل، که په حالت کې بدلون هم راولي، خوښې پايلې نه لري. نو ځکه که څوک بې علمه، عالم کېداي نه شي، نوبې عمله عالم هم فاضل کېدای نه شي. له دې امله خوشال خټک دعمل سره دعلم په پيوستون ټينګار کوي او ليکي چې:

سړی چې ښه دی په ښه ګفتار ښه دی
ګفتار که ښه دی په ښه کردار ښه دی

ګفتار صورت ګڼه کردار معنی دی
چې سره يو شي، دادواړه کار ښه دی

(د خوشال ختک کليات، ۴۴۷ مخ)

اوخوشال خان بې عمله اویا په عمل کې سست واعظان دا سې مخاطب کوي:

ای چې خبرې کړې خوږې شیرینې | ولې دې ووتې عمل کې سپینې
ګفتـار سور ګل دی د انــا ر د ونې | کردار انار دی که ته یې وینې

(د خوشال ختک کلیات،۵۰۶ مخ )

لنډه دا چې خوشال خان دعالم فضیلت یوازې دهغه په علمیت پورې نه تړي. دی دعالم څخه په علم عمل کول غواړي، یو څه نفس او ګېډه تر پښو لاندې کول غواړي، انساني اخلاق اوخواخوږي غواړي، خیر رسول، حق ویل، حق پالل اوربښتینولي غواړي. هغه عالم چې دا ځانګړتیاوي لري خوشال ختک هغه د« رباني عالم » په نامه یادوی. داسې ښکاري چې د ده په زمانه کې هم درباني عالمانو شمېر لږاو دشکرانو زاهدانو، مدعي شیخانو اونفساني عالمانوډلې او ټپلې ډېرې او لویې وې. له همدې امله لیکي چې:

چې لباس کا چې تقلید کا چې ټیټال کا
راښکاره شو وار په وار دهرچا حال

که شیخان که عا لمان که زاهدان دي
له هیچا نه زړه روغ نه دي د خوشال

(د خوشال ختک کلیات، ۵۳۲ مخ)

# د خوشال په فکر پوهې ته

## دلاسرسی لار او شرایط

### الف ـ بېولوژیکي شرایط:

د خوشال ختک دخرګندونو څخه سرې دې نتیجې ته رسیدلی شي چې د ده په نظردانسان پوهه او تجروبې مېراثي نه دي بلکې کسبي دي. مانا دا چې هیڅ انسان په علم او تجروبه سنبال دنیا ته نه راځي، تر زیږیدو وروسته د خپل چاپیریال د شرایطو په چوکاټ کې زده کړه کوي او تجروبې راټولوي. ربنتیا هم

دادی چې نوی د نیا ته راغلی ماشوم نه خبرې کولی شي او نه د بل په خبرو پوهېدلی شي، د خپل فردیت او چاپیریال د پیژندلووس نه لري او یوازې د لوږې اود ضرورت د رفع کولواحساس کولې شي، نو ځکه یې ژوند له سره د چاپیریال په مرسته پورې تړلی دی. له بلې خوا خوشال خان په دې عقیده هم دی چې خالق دانسان بېولوژیکي جوړښت ته د ودې وس ورکړی دی او په هغه کې یې د معرفت ارګانونه ځای په ځای کړي دي چې له یوه نسله وبل نسل ته ورانتقالیږي یانې مېراثي دي. په دې ځای کې دهوښیارانو دا خبره د پام وړده چې: مور نابغه د نیاته نه راوړي بلکې په رورزنه نابېغه ترې جوړوي. خوشال خان په انسان باندې دا دهغه دخالق لوی احسان ګڼي چې دروزنې او ودې وړځان یې ورکړی دی اولېکي چې:

ځو دې وجود دی له سر ترپایه  چې دي موندلی دی له یوه خدایه
واړه نعمت دی که غافل نه یې  هر ځا ی ته ګوره شکر یې وایه

(منتخبات خوشال خټک، ۱۲۸ مخ)

دانسان په وجود کې د معرفت اورګانونه ځای په ځای شوي دي چې له سره دودې او پرمختګ وس او وړتیا لري. دا اورګانونه مېراثي او یا په مدرنه ژبه بېالوژیکي اویا فیزیولو ژیکي دي، په دې مانا چې یاد اورګانونه د مور او پلارنه اولاد ته ور انتقالیږي، نوځکه دهر انسان په برخه شوي دي، یانې هرانسان د معرفت په ارګانونو سنبال دی، هغه ته یې دزده کړې اود تجروبورا ټولولو وس ور کړي دی. په دې ډول هر انسان د فکري او جسمي ودې، د زده کړې او لوېېد نې، لومړی شرط یانې د معرفت ارګانونه په ځان کې لري چې خوشال خان یې انسان ته د خپل پروردګار ورکړه ګڼي او په یوه مناجات کې یې دا سې ستایي:

دهمه اشیا خا لق یې  د همه احیا را زق یې
ته باران وکړې په مځکه  ته ریحان وکړې په مځکه
رنګارنګ ګلونه واکړې  تـه د مځکې مخ زیبا کړې
عقل تا و رکړ وسرته  لیده تا و رکړه بصرته
مزه تا ورکړه دهان ته  و یل تا ور کړه زبان ته
تا سری هسي عزیزکړ  چې صاحب دې د تمېز کړ

(د خوشال ختک کلیات،.۷۵۸ مخ)

لوي ذات هر انسان ته سر، سترګي، خوله او غوږونه او له دي لارې يې د ډيرې لوړې اوپيچلې زده کړې وس او توان ورکړی دی او په دې ډول يې په عالم کې دهغه مقام وچت کړی دی. که د دې امکان نه په ګټه اخيستودعلم دزده کړې له پاره ملا وتړي له يوي خوا د هغه لوی ذات شکر ادا کولې شي او له بلې خوا په عالم جهان کې خپل مقام نورهم وچتولې شي.

که هرڅو په خــپله پـوهـه کې سـقيــم يې
د حکېم په حکم کارکــړه نور حکېــم يې

که په خوله، په غوږ، په سترګو څه زده نه کړې
نور وردرومــــه ازلــي سيــــه ګلــيم يې

د سيرت خوبي پيداکړه چي جـوهــر ده
په صورت خوږد وغوښه، وينه، ريم يې

(د خوشال ختک کليات، ۳۶۰ مخ)

دخوشال خان په نظر په سرکې مغز او غوږونه او په مخ کې سترګې او خوله هرانسان ته دزده کړې توان وروکوي او د زده کړې له لارې « دسيرت خوبي» تر لاسه کوي چې دانسانيت جوهر جوړوي.

که دا جوهر نه وي، نو د انسان انساني ځانګړتيا وي له سره کمزورې کيږي، تر دې چې دانسان څخه يوازې يو کالبوت جوړيږي. نوځکه بايد زده کړې ته ملا وتړو، د پرله پسې زده کړې له لارې علم تر لاسه کيږي او دعلم په واسطه انساني ځانګړتياوي ساتل کيږي او ځواکمني کيږي.

له بلې خوا وينو چې انسان په خالي فضا کې انفرا دي ژوند نه کوي، هغه يو ټولنيز مخلوق دی، په ټولنيزچاپيرېال کې دنيا ته راځي، په دې چاپيرېال کې لوئيږي اوروزل کيږي، په لوئيد نه او ښوونه او روزنه يې دټولنيزچاپيرېال اغيزې ښکاره ليدل کيږي. ځوشال خټک دوخت په بهير کې دانسان په لوئيدنه، زده کړه اوښونه اوروزنه دچاپيرېال داغيزو په هکله هم داسي په زړه پورې څرګندونې لري چې ورباندې بحث کول ضرور او حتمي په نظر راځي.

ب – ټولنيز چاپيرېال:

انسان په خالي فضا کې ګوښی اوانفرادي ژوند نه کوي بلکې طبيعي او ټولنيزو اړيکو راچاپير کړی دی او ترې وتلی نشي. د دې طبعي اوټولنيزو اړيکو

مجموعي ته چاپیریال وایي. په دې ځای کې د طبعیت سره دانسان اړیکي یا دهغه طبېعي چاپیریال زموږ د څیړنې موضوع نه ده. خوشال خال خټک ټولنیز چاپیریال دانسان د بشري ځواکونو دودې اوپر مختګ د ځرنګوالې شرط ګڼلی دی اوټولنیز چاپیریال بیا په خپل وار دانسانانو هغه ډ لو او ګروپونو ته وایې چې د ورته ارزښتونو،ذهنیتونواو پرنسیپونو له مخې ژوند پر مخ بیایي. په دې توګه ټولنیز چاپیریال په بېلابېلو ټولنو اوکلتورونو کې او بیا په هره ټولنه او کلتور کې د ارزښتونو، ذهنیتونو او د ژوند د پرنسیپونو له مخې لرې یا ډ یرې ځانګړتیاوې لري. دانسان ټولنیز چاپیریال د مور له غیږې پیل کیږي اود لوئیدو په بهیراو د ژوند په اوږدو کې د کوراوکهول نوروغړو، خپلوانو، دوستانو، د لوبو، زده کړو او د کار کولو ځایونو ته پراخیږي. لنډه داچې په کوم ځای کې چې انسان اوسیږي او د ژوند له پاره اړین فعالیتونه تر سره کوي، هغه ځای د ده د چاپیریال په نامه یاد یږي. په دې وروستې برخه کې مو وویل چې خوشال خټک دانسان د زده کړې او معرفت ارګانونه مېراثي ګڼي یاني د موراو پلارڅخه واولاد ته ورانتقالیږي خو د زده کړې اومعرفت ځرنګوالی، پوهه، مالومات، مهارت، قابلیت اواخلاقي ځانګړتیاوې د ټولنیز چاپیریال په ځرنګوالې پوري تړي. په پښتو ژبه کې یو متل وایي:« چې اوسي، په خوي به دې هغوی شې» او په پارسي کې وایي چې:« با ما نشینی ماشوی، بادیګ نشینی سیا شوی». خوشال خان په انسان باندې د ټولنیز چاپیریال داغزو په هکله دې متلونو ته ورته نظر لري اولیکي:

چې څه وینې، چې څه اورې، چې څه وایې
د سړي هغــه هــوا پرېوزي په زړه کې

چې صحبت دي له چا کیږي هسي ته شې
هم هغه خویونه ستا پرېوزي په زړه کې

دا نـــاشنا عا لـــم د چا پـــه فکر ګرځي
اند یښـنه خوله اشنا پرېوزي په زړه کې

(منتخابات خوشال خټک، ۱۲۵ مخ)

د خوشال خان په نظر ټولنیز چاپیریال دکوچني د تجروبو ډګردی چې اغیزې یې د حسي غړوله لارې زړه ته رسیږي اوورڅخه معرفت ترلاسه کیږي. د کوچني فردي ځانګړتیاوې، د زده کړې اندازه اوډولونه، روزنېز او اخلاقي صفتونه د

چاپیریال، تراغیزو لاندې شکل او صورت نیسي او وده کوي. خوشال خټک په دستارنامه کې لیکي چې:« دهلک زړه لکه سپینه کور کاغذ هسې دی، هر چې پرې وکاږې هغه حرف پرې پرېوزي. داشرارو د صحبت اثر پرې وشي، اشرار شي چې داخیارواثر پرې وشي ، اخیار شي. که هرڅو په فطرت کې پاک جوهر زول شوی وي، د بدانو د صحبت په تاثیر بد شي.»(عبدالرحیم بختیانی: د خوشال خان خټک په دستار نامه کې دښوونې او روزنې اړخونه، روهي ویبپاڼه ۲۰۰۸/۹/۲۳ )

د خوشال خټک د چاپیریال نظریه د جان لاک « د تجروبوي پوهېد نې » له تیورئ سره یو څه ورته والی او هم یو څو توپیرونه لري. د بېلګې په توګه جان لاک مېراثي فکر یا فکري وراثت له سره نه مني او په دې عقیده دی چې دانسان په فکر یاروح کې یوازې هغه څه ځای په ځای کېږي چې د حواسو له لارې د تجروبو په بنسټ تر لاسه کېږي. دی ټینګار کوي چې د نیا ته د کوچني د راتلو په وخت کې دهغه روح یاعقل د کاغز د «سپینې پاڼې» په شان دی چې دژوند په بهیر کې د تجروبوله مخې شکل او صورت نیسي (الماني ویکیپیډیا)

وینو چې خوشال خټک او جان لاک د واړه داخلاقو، سلوکونو او هنرونو وراثت نه مني او دانساني شخصیت وده په چاپیریال کې په عملي تجروبو پورې تړې. هیڅ مور نابېغه لور یا زوي دنیا ته راو ړلی نه شي، خو نابېغه یې روزلی شي. ددواړو تر منځ توپیر په دې کې لیدل کېږي چې جانلاک د معرفت د راټولېدو ځای روح یا عقل ګڼي په داسې حال کې چې خوشال خټک دا مقام دانسان زړه ته ور کوي او په دې ډول پوهه اومعرفت د مبنې اواخلاقوسره په یوه چوکاټ کې راولي او له پوهې څخه لویه اخلاقي اوانساني تمه لري او لیکي:

چې د خلقو نیک خواهي لرې په زړه کې
مبارک دې پاچاهي لرې په زړه کې

که دې غوږ د دانشمند په نصیحت و ي
څه عجیبه آګا هي لر ې په زړه کې

(منتخبات خوشال خټک، ۱۳۳ مخ)

د لته « د خلکونیکخواهي » او « عجیبه آګاهي » یوله بله لرې نه دي بلکې دواړه د یوه زړه په دهلیزونو کې ځای لري او سرچېنه یې هم د دانشمند نصیحت یانې تولنیز چاپیریال دی.لکه څنګه چې ښه چا پیریال دانسان دشخصیت په

جوړولو کې ګټور رول لوبوي، بد چاپیریال بیا په خپل وار د شخصیت د سمې ودې مخه نیسي، آفتونه رامنځ ته کوي او انسان د بدو او بد بختۍ په لور روانوي نوځکه خوشال خان ټینګار کوي چې:

د رتـــه وښیـم کیمیــا د سعــا د ت
د بــدانــو ســره مــه کــوه صحبت

مه بد ګوی مه بد آموز مه بد اند یش شه
که د زړه وي چې درنه رسي آفت

(د خوشال خټک کلیات، ۵۴۹ مخ )

ځکه چې:

بد سړی که په ظاهر سړی لیده شي
په باطن کې یې نور څه دي ما ر لړم دی

د بدانو په صحبت کې د ین د نیا ځي
شــک پــه دي خـــبره اونــکړې قسم دی

(منتخبات خوشال خټک، ۱۲۰ مخ )

د خوشال خان د ټولنیز چاپیریال تیورۍ په چوکاټ کې بد او بد سړیتوب دانسان سره له سره ترابده پوري تړل شوی نه ګڼل کیږي. دا په دي مانا چې په بد چاپیریال کې بد شوی انسان څخه په ښه چاپیریال کې ښه انسان هم جوړیږ لی شي. نو ځکه د دې پر ځای چې د بد انسان سره په کینه او حسد لاس پورې کړو باید هغه له بد و پاک او ازاد کړو. لار یې داده چې د بد او ناپوهه چاپیریال څخه یې ښه او پوهنیز چاپیریال ته را وبولو، د ښو او هوښیاروانسانانو سره یې ملګری کړو. دی ټینګار کوي چې:

دا پند دي هر څوک سره سـند کا
همراه چې ښه وي بد سړی ښه کا

هوښیاربه نه وي چې څوک حسد کا
همراه چــې بد وي ښــه سړی بد کــا

(د خوشال خټک کبیات،.۳۷۳ مخ)

او زیاتوي چې:

ښه خوی بد کېږي بد خوی ښه کېږي — په صحبتونو که څوک پوهېږي
نا فــه دهوګې په بوی خوش بوي شي — خنــظل شکرو سره خو ږ یږي

(د خوشال خټک کلیات، ۴۸۸ مخ )

خوشال خان په خپل کورني چاپیریال کې ترټولو د خپل پلار منندوی دی چې دی یې زده کړو ته هڅولې دی او د زده کړې له پاره یې استاذ یاساتاذانو ته کښېنولې دی. د خوشال خټک پلا ر تعلیم نه و کړی، دی په لیک او لوست نه پو هیده. له دې ښکاري چې ده د خپل زوی سره په زده کړو کې کومه مرسته نه ده کړې بلکې هغه یې یوازې زده کړو ته هڅولی دی. په ماشومتوب کي څوک د زده کړو او پوهې په ارزښت چندان نه پوهېږي، نو ځکه که چېرې مېندې او پلرونه خپل او لادونه تعلیم ته ونه هڅوي، دوی هم نه پسې ګرځي. په دې توګه د زده کړواو پوهې نه بې برخې پاتې کېږي، بې علمه او بې سواده لوییږي. حقیقت دا دې چې شهباز خان په دې ساده هڅوني خپل زوی خوشال خان دمنظمو زده کړو په لارروان کړاو خوشال خان په دې لا ر له ډیرو پړاوونو تیرشو او په علم کې هغه مقام ته ورسیده چې په پښتنو کې ډېا تر نن پورې د چا په برخه شوی نه دي.

## ج - د منظمې زده کړې او ښووني چاپیریال:

د منظمې زده کړې اوښووني بهیراو ځای هم د ټولنیز چاپیریال برخه ګڼل کېږي. خو د چاپیریال دا برخه د نوروسره ځنې توپیرونه لري. زده کړه اوښوونه د چاپیریال په نورو برخو کې په منظم ډول د کوم پلان له مخې نه ترسره کېږي. مانا دا چې ماشومان او ځوانکۍ نسل په کور، کلي اوولس کې د مور، پلاراو د کلي او ولس د نورو لویانو یا مشرانو نه د ژوند په بېلابېلو برخوکې زده کړې کوي. په ټوله کې هر چېرې او هروخت پخوانی نسل خپلې تجروبې ځوان نسل ته د منظمو زده کړواو ښوونوله

چوکاټه بهر هم ورانتقالوي او هغه په خپلو تجروبو سنبالوي، خو دابهیر د کوم پلان په بنسټ نه ترسره کېږي، نه کوم تعلیمي نصاب لري او نه مهال ویش لري. ځانګړي درسي وسا یل لکه کتاب، قلم، کاغز او په همدې ډول ځانګړی مسلکي استاذان اوځانګړی مسلکي زده کوونکي هم نه لري. په دې چاپیریال کې ځوان نسل په اصل کې د زاړه نسل څخه د تقلید له لارې زده کړه کوي. د زده کړې اوښووني منظم چاپیریال ډېا هغه وخت رامنځ ته کېږي چې زده کوونکي

یوازې او یوازي د زده کړې له پاره استاذ یا ښوونکي ته کښیني او ښوونکئ هم هغه څوک دی چې ښوونه یې مسلک اویا لږ تر لږه د مسلکونو یوه برخه وي. د منظمو زده کړو په ځینو برخوکې یوازې لوست زده کېدل. زموږ په ډ یرو جوماتونو کې تراوسه پورې د لیک ښوونه اوزده کړه نه ده رواج شوې. په ځینو برخو کې بیا لیک او لوست دواړه زده کېدل. د لیک اولوست زده کړه د منظموزده کړو او ښوونو یوه بله ځانګړتیا ده. د لیک او په تیره بیا د لوست زده کړه انسان ته دا امکان په لاس ورکوي چې ځان داستاذ نه مستقل کړي او په خپله د کتابونو د لوستلو له لارې خپله پوهه، څومره چې غواړي، پراخه او ژوره کړي. خوشال ختک د منظمې زده کړې او ښوونې د ښه تنظیم او پرمختګ له پاره په خپل وخت کې ګټورې پوهنیزې هڅې کړي دي. ده نه یوازې د زده کړې او ښوونې په دېدکتیک ( د متن او مېتود ټاکنه ) کارکړی دی بلکې له سره یې د مور په نس کې ماشوم جسمي روغتیا اوسلا متیا ته هم پام کړی دی او په دې عقیده وچې د حاملې مېر منې کړه وړه د هغې په نس کې ماشوم په جسمي روغتیا اوسلامتیا اغیزې لري. نو ځکه باید هغه څه ونه کړي چې د ماشوم ودې اوروغتیاته زیان رسوي. دی په خپل اولاد باندې د حاملې مېرمنې پاملرنې ته د روزنې او پالنې په سترګه ګوري اولېکي چې: « اولاد یازوی وی یالور ، خو چې عورتینه په فرزند ډکه شی ، نور یې تربیت لازم شی ، حامله عورتینه دې د روند بار نه اخلی تر لوړه دی نه تر پلی بادګین طعام دی نه خوری . لکه مار ، مزری ، مهیب څیزر دی په سترګونه ګوری ، چې زړه یی ورته وشی هغه څیر دی زروخوری . غم عصه ، جنګ ژړا دی نه کا ، چې په دا څیزونو کې مسطور شول که بر عکس یې وکا د فرزند زیان کولو ډار دی. »
(بختیانی خدمتګار. په دستار نامه کې ښوونېز اوروزنېز اړخونه ټول افغان ۲۰۱۰/۳/۲)

د زیږیدو یا د نیاته د راتګ سره سم ماشوم د نوي چاپیریال سره مخامخ کیږي، کورنې په تیره بیا مور او پلار ته یې نوي مسؤلیتونه ور په غاړه کیږي. په دې وخت کې د خوشال ختک سپارښتنه داده چې:« اوله خبره چې په دا دنیا د ده تر غوږ تیریږی د خدای رسول نوم دی وی . غوغا دی پری نه کا ، چرکین سړی دی هو ر ته نه وی ، هسی دی نه تفاړی چې ګرم شی ، خولی شی ، بیا زر بر منډی کا ، په دا کې با د وهی __ هغه چې وایې هلک مرګبو وواهه . مرګی نه وی ، هم دا باد زحمت وی . هلک دا اوم وی ، دنیا په ګرم په سرد هوا عادت نه وی ، مور تپاک پی وکا ، له باد یې ډیر محافظت وکا ، خو چې بر منډشی ، هوا پری اثر وکا وژاړی ، پس په څووم ورځ شین ومری . که او ړی وی ، منی وی ، سپرلی وی اصلاً دی نه پټوی ، هم هسی دې پریږدی . که بلیږدی هم

هاله دې بليږدی چې اوه اته ورځی تير شی . هم په نری ځادر دې بليږدی ، که ژمی وی د ساړه د ماړه دې په ګرمه خونه ، کوټه کې ساتی ، چې هوايې په يو شان وی . نه ډيره توده ، نه سړه معتد له هوا په هر وخت ولره بويه.» ( همدا ليکنه] وينو چې خوشال خان په دې ليکنه کې د موريه نس کې اوهم د نوي زيږيدلي ماشوم دجسمي سلامتيا اوروغتيا يا ناروغنتيا لاملونه دهغه د واقعي چاپيريال په پاکي ياچټلي، ساړه يا تودوخي، روحي فضا او نورو کې ويني او په هکله يې لازمي لارښووني کوي. په دې توګه داهځه هم کوي چې د ماشومانو د طبابت په برخه کې هم د بشر په تيره بيا د پښتون قوم فکرداوهامو اوخرافاتو ( پيريانو، ميرګيانو، تښت، دم، تاويز، زيارت او نورو) نه پاک او ازاد کړي اودعلم اوعقل په لور يې روان کړي.
خوشال ختک په دې عقيده و چې ماشوم ، که لوراو که زوي وي، په ځلور کلنۍ کې د منظمو زده کړو وړتيا ترلاسه کوي.« چې دځلورو کالونو، ځلورمياشتي، ځلور ورځې، په لوستن دې کښينوي...» (همدا ليکنه)

د دې ټکو په لوستو مې د خپل ژوند هغه شيبې رايادې شوی چې د ملا صاحب څخه د زده کړو له پاره جومات اوبياځو کاله وروسته په ښوونځي کې د ښوونکې څخه دزده کړو له پاره لومړي ټولګي ته ورننوتم. داچې تر دې د مخه مو د ملا صاحب اوهم دمعلم صاحب دڅيړو او لښتو په باب ډ ير څه اوريدلي وو، نوله ډاره مې زړه لړزيده اوژبه مې بنديده. د ژوند په اوږد و کې مې د پښتوژبې دا پخوانی متل، چې متأسفانه لا تراوسه ژوندی هم دی، اوريدلی و چې وايي:« چيرته چې ډب وي، هلته ادب وي » اوپه ښوونځي کې يوه ورځ د فارسي ژبې ښوونکي زموږ د فارسي ژبې درسي کتاب اوپرو ګرام نه بهر په توره تخته دا لاندې شعر وليک او ښه يې په يوه کړو:

تعليم مـعلم به کسی ننـګ نـدارد تيغ که به صيقل بخورد زنګ ندارد
دلګير ازآنيکه سهيلت زده سيلی سيبيکه سهيـلـش نزند رنګ ندار

دلته وينو چې په متل کې « اد ب » او په شعرکې زده کړې ته لوی ارزښت ورکړ شوی دی، خو ورسره سم « ډ ب » او« سيلی » دادب او دعلم سره داسي تړل شوي دي چې ګوندې هيڅکله يوله بله ګوښي کېدلی نه شي. رښتيا داده چې په شعر اومتل کې « ډ ب » او« سيلی » اويا په ټوله کې جسمي جزا ماشوم ته د ورزده کړې ياني د هغه د ښووني اوروزني د يوازني مېتود، د يوازنی لارې اويا حتی د ادب اومعرفت د سرچينې په توګه پيژندل شوي دي او دا هم په داسي

حال کې چې ماشوم ته جسمي جزا ورکول په خپل ذات کې هیڅ ډول اخلاقي اوعلمي بنیاد نه لري او هغه څه چې دعلم او انساني اخلاقو سره په ټکر کې وي دعلم اوادب په زده کړه کې کومه مرسته هم نه کوي. د ماشوم وهل ټکول نه یوازې دهغه داستعداد اوذکاوت د ودې او پرمختګ سره هیڅ مرسته نه کوي بلکې د ماشوم په جسمي اوروحي سلامتیا داسې تیری دی چې بد ن اوروح ته زیان رسوي. نوځکه جسمي جزا دعلم او ادب د وربښوونې، نه بلکې د ماشوم په وړاندې زور زیاتي ته د مشروعیت د ور کولواو دیوه نسل څخه وبل نسل ته د زور اوزیاتي د ور انتقالولو لارده.

خوشال خان په خپل وخت کې ښیي چې د ماشوم بدن اوروح دواړه تنکي دي، د چاپیریال د پیښو په وړاندې له ځانه اغیزناکه د فاع نشي کولې، ښه اوبد ورباندې ډیرې اغیزې شندي. نوځکه:« چې اوستاد لره ورشي په اول سبق دې وبخښل شي. معلم دې ورسره هنر کاچې آزار یې نه کا. دده په زړه دې ورسره چلیږي ».( همدا لیکنه) په دې ډول زده کوونکئ یازده کوونکې ورو ورود صمیمېت په فضا کې د زده کړې اوښووني د نوي چاپیریال سره بلدیږي، د ښوونکي او زده کوونکو ترمنځ د باور فضا جوړیږي اوزده کړو ته د زده کوونکو هڅه او هوس زیاتیږي. خوشال خټک په دې عقیده وچې:« که هلک عالی فطرت وی تر اوه کالنی پوری سواد خوان شی ».( همدالیکنه) د سواد زده کړه دعلم د زده کړې پای نه دي بلکې دهغې بنسټ دی. په دې بنسټ نوره لوړې زده کړې پیل کیږي. خوشال خټک په دې زده کړو جونه او هلکان یاني دواړه، ښځینه او نارینه جنس، مکلف ګني او په دې برخه کې د ښځینه او نارینه جنس ترمنځ کوم توبپرنه مني. زده کړې هم د جونو او هم دهلکانو حق بولي اوکورنې باید د دوا ړو سره د دې حق په ترلاسه کولو کې مرسته وکړي.
که څه هم خوشال خټک د دې پړاو زده کړې هم د جونو او هم دهلکانو حق اومکلفیت بولي اوپه دې ډول دهغو تر منځ د حقوقي توپیر سره مخالفت کوي، خودهغو تعلیمي نصابونو تر منځ توپیرڅرګند ښکاري چې ده دواړو جنسونو له پاره بېل بېل جوړ ګړي دي. دی د نارینه وو له پار په خپل نصاب کې وایې چې:« اول دې قران ولولی ، په قران کې پنج سوره او ایته الکرسی ، حدیث اقوال د مشایخانو ، علم طب دادی ولولی ، العلم علمان علم الابدان و علم الادیان ، علم نجوم واجب دی چې وکا ، له فارسی مثنوی المعنوی ، سلسله الذهب ، نفحات الانس، معارج النبوه ، شاهنامه ، سکندر نامه

، ظفر نامه دا کتابونه دی مطالعه کوی . اخلاق ناصری ، په تمام غور گلستان دی په یاد کا ، تمام عمر که د تحصیل په کار کې تیریږی سعادت دی او که نه دا هومره چې وکښل شو دا خو دی وی ، چې ددین دنیا له خبر داریٔ مایوس نه وی ، نقص یې په قابلیت کې واقع نه وی . دا خو یې مرتبه په مرتبه د علوم بخره، دا هومره چې وشی د قابلیت د دایری په خارج نه وی . چې د علم خوند بیا مومی ، د علم پایان نشته ، پخپله به ورپسی کوښښ کا ».(همدا لیکنه )

خوشال خان دهلکانو دروزنې څنې نورې ځانګړتیاوې هم په ګوته کوي اوټینګارکوي چې هلک باید ډېر ونه نازول شي ، د ساده جاموداغوستلو سره دې عادت ونیسي او په سینګار پسې دې نه ګرځي. سینګار د ښځو کاردي او د سړي سینګار هنر او کمال دی. باید د رنه ناسته او ولاړه اولوړ اخلاق زده کړي. هروخت دې په خوند ور خوراک پسې هم نه ګرځي، کله کله دې سپوره ډوډۍ هم خوري. جسمي ځواکمني اومقاومت هم باید په پام کې ونیسي، په غارمه اوساړه کې دې سرلوڅۍ او پښې لوڅۍ هم ګرځي. دا کار ورته ګټه لري. په داسې حال کې چې هلک یازوی له نازولتوب نه لرې ساتي او په عمل کې یې د زماني دسختیو او لوړو اوژورو سره اشنا کوي، دلور په روزنه کې بیا بل نظرلري او ټینګار کوي چې لور دې نازنینه وساتل شي، دهغې عصمت، عفت، شرم، ادب اوحیا ته وچت ارزښت ور کوي. د نورو علومو او هنرونو تر څنګ باید د کور د چارو اړوند مهارتونه او د ځان دسینګارولو پوهه هم زده کړي. سربېر ه پردې دښځینه زده کوونکو په تعلیمي نصاب کې ژبې او ادبیاتو ته هم د نارینه زده کوونکو دتعلیمي نصاب پرتله پراخ ځای ور کړشوی دي. دلور د ښوونې اوروزنې په هکله خوشال خټک لیکي چې:

« لکه د زوی تربیت لازم دی ، مینه پری بویه هسی په لور مینه بویه بلکه لونه لاحقداري دي . د هلک والی د تربیت کار خو لکه د زوی هسی دلور ، امالور دې نازمین ساتله شی د عصمت ، د عفت ، د شرم ، د حیا ارشاد دی ورته کیږی . په لوستن خو قران ، د مسایلو کتابونه چې د طاقت عبادت و قوف یی تمام د فرایضو د سر نتو ددین د چارو وشی ، مرغوب رنګین حکایتونه ، شیرین بیا نو نه ، اقوال د بزرګانو ، مشایخانو په یادکا، قصی افسانی هم زده کا ، هنر د شطرنج دادی هم ښه زده کا ، دستی کار لکه کښیده دا مهارت دی تمام وی د پختن ، داشتن ، د کاله داراستن د خپل ځان د ارایش ، خوشبویی د سازولو علم دادې ډېر وی . . . بزرګی دعا، بزرګ سورتونه ، د قران څو یادول شی هومره

دی په یاد کا د نظم قصاید ، غزلیات ، ادبیات دی هم لږ ډیر په یاد کا ، چې د شعر په کار کې څه خوو وقوف یې وی . د یوانونه دی نه لولی ، مګر ګلستان بوستان هر ګا چې تر نه کاله ورسیږی ، د پلار د مشرانو وروښو ، د ترونونه دې هم په ادب اوسی ، ګستاخ ویل ناست ولاړه دې نه کا ».(همدالیکنه)

په دې ځای کې خوشال خان « دخپل ځان دارایش، خوشبویې د سازولو علم » د جونو له پاره په داسې حال کې لازم ګڼی چې سینګارد مردانو کار نه ګڼي. د سینګار نه کول خود سینګار د زده کولو اړتیا هم له منځه وړي، مانا داچې نارینه وو نه سینګار کاوه او نه یې زده کاوه. په دې صورت کې د سینګار په برخه کې نارینه ماهرانو او پوهانو هم وجود نه درلو. په دې ځای کې دا پوښتنه پیدا کیږي چې جونو به« دخپل ځان د ارایش، خوشبویې د سازولوعلم » له چا زده کاوه ؟ ایا په هغه وخت د دې ښځینه ښوونکو او ماهرانو وجود درلود اوکه نه دخوشال خان مقصد داوو چې جونه دې دا هنر د مېندو او په کور او کهول کې له نورو تجربه کارو ښځو څخه زده کړي. زه ( د دې کرښو لیکونکۍ ) دې پوښتنو ته ځواب نه لرم، خودا وایم چې د خوشال خان تعلیمي نصابونه د نن ورځې تعلیمي نصابونو سره نه پرتله کېږي. باید هیرنه کړو چې دخوشال دزمانې او نن ورځې ترمنځ څه نا څه دری نیمې پیړۍ واټن پروت دی. د وخت په بهیر کې هرڅه بد لیږي، دځینو پوهنیزولاسته راوړنو دوران تیریږي، نوې پوهه اونوې پوهنیزې څانګې سر را پورته کوي اورا پیدا کیږي. په دې لړکې د خوشال خان څخه د کمپیوټري پوهې غوښتل دهوښیارانو کار نه دي، سقرات، اپلاتون او ارسطو هم د البرت انشتاین په نسبیت تیوري نه پوهېدل. موږ په ټوله کې په دې واقعیت سترګې نه شو پټولې چې خوشال ځټک په خپل وخت کې پښتون قوم له پاره بې مثله خدمتونه کړي دي. ده دپښتون په تاریخ کې د لومړي ځل له پاره په پښتوژبه دزده کړو له پاره تعلیمي پلانونه اوتعلیمي نصابونه جوړ کړي دي او له دې لارې یې دزده کړې او ښوونې په چاروکې نوی نظم راوستلی او د زده کوونکو او ښوونکو پرمخ یې د زده کړې او ښوونې لار روښانه کړې ده.

## د - خپل زیار او هلې ځلې (عمل):

خوشال ختک د بشریت مقام ته په لوړ ارزښت قایل دی. دی د یوه مسلمان په توګه د خپلې دیني عقیدې په پیروۍ انسان ته د اشرف المخلوقات په سترګه

ګوري او په دې عقیده دی چې بني ادم د پت او عزت سره د نیا ته راغلی دی، نوځکه پت اوعزت له ا نسان څخه نه بېلیدونکې اودهغه دایمي ځانګړتوب دی. له بلې خوا خوشال خان په دې عقیده دی چې لوی پرورد ګار خپل دې مخلوق یانې انسان ته د خپل شخصیت د جوړولویانې دعلومواو فنونو، هنرونواوکمالونو، د حرفو او مسلکونو او د نوروزده کړو لوی وس اوځواک ور کړی دی او کولې شي چې ځان په ډول ډول مهارتونو اوقابلیتونو سنبال کړي. دې موخې ته د رسیدو له پاره خوشال خان یوبل شرط هم په ګوته کوي اوهغه هم دانسان خپل عمل، خپل کار او خپل زیار اوخپلې هلې ځلې دي. په پښتو ژبه کې دې متل:« خپل عمل دلارې مل دی». خپل ارزښت له لا سه نه ورکوي. موږ په تیربحث کې زده کړو ته دلاس رسی او د شخصیت په وده اوجوړونه کې د چاپیریال په رول وغږیدواو راښکاره شوه چې خوشال خان دانسان دشخصیت دودې څرنګواالی په چاپیرال پورې تړي یانې هغه تر ډیره د ټولنیز چاپیریال محصول بولي خو هیڅکله د چآپیریال دا رول مطلق نه ګڼي. چاپیریالي شرایط د شخیت په وده، د زده کړو په څرنکوالې، دهغوی په کېفیت او کمېت لویه اغیزه شندي، خو دانسان د فعالیت، دهغه دخپلو هلوځلواوزیار اوزحمت ضرورت له منځه نه وړي. ددې ټکو مانا داده چې انسان دخپل ټولنیزچاپیریال په چوکاټ کې او دهغه په مرسته په خپل عمل، کار اوزیار زده کړه کوي اود خپل ځان په جوړولو کې خپله د نده تر سره کوي. په ډیرو ښو او پرمختللو ټولنیزو شرایطو کې هم بې له خپل فعالیت، زیاراوزخمت څخه کومې موخې ته رسیدل د تصور وړ نه دي. انسان په خپل فعالیت یا عمل نه یوازې ځان جوړوي بلکې داجهان یا د ځان ټولنیز چاپیریال هم جوړوي یانې دا چې دانسان ټولنیز چاپیریال دهغه دکار اوزیار لاسته راونه دی. مانا داچې انسان د خپل چاپیریال غیرفعال او په خوب ویده محصول نه بلکې دهغه بېدار اوفعال محصول دی، چې نه یوازې د چاپیریال له امکانات تو ګټه ترلاسه کوي بلکې دهغه په جوړولو او پرمختک کې هم فعاله ونډه اخلي. د بېلګې په توګه د نن ورځې داځوان نسل چې په ښوونځیو کې په زده کړولګیادي اوسبا به په پوهنتونونو کې لوړې زده کړې کوي یوه ورځ په خپله دهمدې مؤسسوعلمي اواداري لار ښوونه په لاس کې نیسي، په هغوعلمي مهارتونو او قابلېتونو چې د خپلو استادانو په مرسته یې زده کړې وي، خپلې تجروبې اومالومات ورزیاتوي او د دواړو په مرسته دا علمي چآپیریال پرمخ بېایې اوکمي او کېفي وده ورکوي. خوشال خان دانسان دا بد لون راوړونکې عمل یا فعالیت د دیني او دنیوي راحت سرچېنه ګڼي او لیکي چې:

که راحت غواړې په ځا ن محنت قبول کړه
بې محنـته هیڅوک نـه مومي راحت

د عـمـل ذ خـیـره وا سـتـوه د وړانـدې
دا یـو ځـو ورځـې ژوند ون دی غنیمت

(د خوشال خټک کلیات، ۵۵۰ مخ )

د خوشال خان په نظر دانسان کړه وړه یاعمل بېلابېل ډولونه لري خو دی یې ترهرڅه د مخه په اخلاقي لحاظ په ښه کار یا ښه عمل او بد کار یا بد عمل ویشي. د ښه عمل پایله ځان اوبل انسان ته ګټه رسول دي، د ځان اود بل د زیان مخه نیول دي او د بد کار پایله بیا په خپل وار ځان یا بل ته زیان رسول اوتر دې چې د ځان اویا د بل بربادول دي. نوځکه تینګار کوي چې هرانسان باید په نیک نیت نیک عمل وکړي، نیکي د ژوند عادت وګرځوي او له بدو ځان وساتي. دی لیکي چې:

دهر چا قد ر پخـپل همت دی — دهرې چارې مدار په نیت دی
د نیکو فعل دځان راحت دی — د بد و فعل دځا ن زحـمت دی

(د خوشال خټک کلیات،.۴۴۵ مخ )

خوشال خټک د بشري ټولنې او دانسان د فردي شخصیت په وده، جوړونه یانې په علومو، هنرونواو کسبونو د ځان په سنبالونه کې نه یوازې دانسان کاراوعمل ته زیات ارزښت ورکوي بلکې موخې ته د رسید و لارې چارې هم راښیي. دالارې د نن ورځې دښوونیزې او روزنیزې پوهې په چوکاټ کې رامنځ ته شوي درسي مېتودونه لکه تشریح، لیکچر، پروژې اونور نه دي بلکې په تر ډیر حده د ولسونود تاریخي تجروبواو فردي فعالیتونو څخه تر لاسه شوې کلتوري مقولې دي چې د ژوند په بېلا بېلو چاروکې موخې ته د رسیدو له پاره په کاریدلی شي او د زده کړې اوښوونې په برخه کې هم په ځان باندې د با ورد پیدا کیدو سره په زړه پورې مرسته کولی شي.

خوشال خان تر ټولو د مخه ټینګار کوي چې هر کارباید په خپل لازم وخت کې پیل شي. که د چارې د پیل وخت په نظر کې ونیول شي نو ډیره ګټه ترې تر لاسه کېږي، ځکه چې وخت نه ضایع کېږي او په دې توګه په دې چاره کې برې ته درسیدو لار اسانه کېږي. که کار په خپل لازم وخت کې پیل نه شي، د پیل

وخت يي تر شا واچول شي نو په دې صورت کې د کار د سرته رسولو له پاره د ټاکل شوي وخت یوه برخه ضایع کېږي او دا چې هره چاره د وخت په بهير کې تر سره کېږي نود دې چارې د تر سره کولو وخت لنډيږي، تر سره کول يې سخت اويا ناممکن  کېږي، پایله یې ناکا مې ده او برى نه تر لاسه کېږي. د بېلګي په توګه دافغانستان په تعلیمي نظام کې د بکولريا د ترلاسه کولو له پاره په ۱۲کالو کې ۱۲ ټولګیزه لیسه ټاکل شوى ده. ماشومان په شپږ کلنى کې په لومړي ټولګي کې شامليږي او د بري په صورت ګې په ۱۸ کلنی کې فارغيږي. که څوک غواړي چې ماشوم يې بايد په ۱۸ کلنی کې بکولوريا تر لاسه کړي نو يوشرط يې دادى چې په شپږ کلنى کې يې په ښوونځي کې شامل کړي. په هره اندازه چې په ښوونځي کې د ماشوم شاملول ځنډوي په همغه اندازه يې په ۱۸ کلنى کې بکولريا ته دلاس رسى امکان راټيټوي اويا ترديې چې هغه له سره ناممکن کوي. نوځکه خوشال ختک ټينګار کوي چې:

څوک په خپل پټي کرل کا داغزيو      چا په خپل پټي ګلونه دي کرلي
پسينه کرنه هـومـره فـــايد ه نـه کا      چې په وخت کرنه کا برى آخلي
چې محنت په ځان قبول کا راحت مومي   رنج دګنج سره دادواړه دي ترلي

(منتخبات  خوشال ختک، ۱۳۹ مخ )

خوشال خان نه يوازې په لازم او ټاکلي وخت کې د کار په پيل ټينګار کوي بلکې داهم راښيي چې د کارهره برخې بايد په خپل وخت پای ته ورسيږي، يانې بايد د يوي ورځې کار وبلې ورځې، داونى او د مياشتې کار بلې اونى اومياشتې ته ونه ځنډول شي. که چېرې د کار هره برخه په خپل وخت ترسره نه کړو نو ترې ښه پايله تر لاسه کولې نه شو او ټاکلي موخې ته رسيدلى نه شو. دی وايي چې:

کړل دي ويل دي دواړه اوان لري
چې وخت يې تير شي افسوس ارمان لري

چې کار د نن ورځ پرېږدي سبا ته
هوښــيا ر به نه وي دا خوى نا د ا ن لري
(د خوشال ختک کلیات،.۴۹۲ مخ )

خوشال خان دانسان هغه عقلي اوجسمي اينرژی، چې په مرسته يې يو کار، د بېلګې په توګه په رياضي کې د ليسانس ترلاسه کول، په خپل وخت پيل او په

ټاکلي وخت کې پای ته رسوي، همت بولي او همت ته بيا په خپل وارتر سروزرو ډير ارزښت ور کوي اوانسان ته د لوی پروردګار تر ټولو ښه نعمت ګڼي اولېکي:

چې بې ورکا چاته خدای شکردي کاندي
په جهان کې لويه برخه دهمت د ی
(منتخبات خوشال خټک،.۳۴ مخ )

ځکه چې انسان دهمت په مټ اوښه خصلت له ځان څخه داسې ښه اولوی شخصيت جوړولی شي چې ډيرې لويې او پيچلي چارې هم سرته رسولی شي. حقيقت دادی چې خوشال خان ښه خصلت او همت دانسان داخلاقي شهامت او مسلکي لياقت او مهارت سرچينه ګڼي اولېکي چې:

که بد يې ښه به شي په ښه خصلت
وفا له هرچا کړه جفا له هرچا وړه
که کم يې لوي به شي په لوي همت
د ين او د نيا غواړه په ښه صحت

(د خوشال خټک کليات،.۵۲۲ مخ )

همت ياني کار اوفعاليت د شخصيت د جوړېدنی لامل دی او په کار اوزيارکې ښه لياقت، وچت مهارت، قابليت اوښه خصلت د لوی اوهسک شخصيت نماينده ګي کوي او ځوک چې دا ځانګړتياوي لري په حقيقت کې داامکان ترلاسه کوي چې بل چاته داحتياج، تمې اوهيلې ياني د ذلت ژوند نه ځان وساتي، خپل کور په خپلو مټوښاداوابادکړي، خپل پت او عزت وساتي اوازاد اوسر لوړی ژوند ولري. نو ځکه خوشال خان ټينګار کوي چې ګدايي به نه کوي اوپه سختو ستونځو کې به هم همت له لاسه نه ورکوي. خوشال بابا ليکي چې:

که دارو په خواست موندل شي مه يې اخله
که دې مرګوته نږدې کا ندي زحمت

که اسما ن دي د مزري پــه خوله کې ورکا
د مزري په خوله کې مه پرېږده همت

( دخوشال خټک کليات،.۵۵۰ مخ )

هو، ګدايي هيڅوک له ګدايې نه ازادوي بلکې په ژوندکې ګدايي او غلامي دايمي کوي. هغه څه چې مو له ګدايی اوبې وی سی ازادوي، د همت په برکت، په هدف برابر زيار اوزحمت تر لاسه شوی پوهه ده، حکمت دی، په کسب اوکار کې مهارت او قابليت دی. نوځکه خوشال خټک دهمت په ساتلو ټينګار کوي او

دهمت سره ژوند ازاد او د پت اوعزت ژوند ګڼي. همت نه یوازې د خوشال خټک په فکر اونظر کې لوی ارزښت او لوړ مقام لري بلکې تر ټولو دمخه د ده دعملي ژوند بنیاد جوړوي. خوشال خان دوتلي پوه، شاعر، ادیب، او افسرپه توګه خپل شخصیت په لښکرواو پلټنونه بلکې دهمت په وزرو جوړکړی دی، چې دې مقام ته رسیدلی دی اوپه حق وایې چې:

په اسمان باندې پیره کړم د همت پــه پــروبــا ل
دخپل خدای منت راباندی چې بې رانه کړبل خیال
بخــارابخــښـم هــغــه یم پــه د یــد ن دیــوه خــال

(منتخبات خوشال خټک، ۶۵ مخ )

خوشال خان دهمت جسمي او معنوي اینرژي په هر انسان کې ویني، خوداسې راته ښکاري چې د دې اینرژې فعالول اوکارول په« طلب » یاني مطلب ته د رسیدو له پاره هڅو پورې تړي. د بېلګي په توګه که څوک د ازاد، بسیاو په خپلو مټو متکي ژوند په طلب کې وي او دې ډول ژوند ته د رسېدو کلکه اوربښتینې اراده لري نوخامخا به د همت نه کاراخلي. که په ژوند کې طلب او هدف نه وي، همت نه را بېداریږي اوهمت چې پکې نه وي، ټول ژوندون بې مالګې کیږي، اړتیا او بې وسي یې په نصیب شي، سیالي ا و ازادي له لاسه ور کړي، غلامۍ ته تسلمیږي. بې وسي، ناهیلي اوغلامي د ژوند مزه له منځه وړي. د سوکالۍ اوازادۍ طلب یا په کلکه غوښتل د بې وسۍ اوغلامۍ ځنځیرونه ماتوي اوهر انسان سیالۍ او سوکالۍ ته هڅوي او رسوي. نو ځکه خوشال خټک راښیي چې:

په طلب کې که سستي نه وي باورکړه
د ژوندون اوبه به بیا مومې په کام

(د خوشال خټک کلیات،.۵۷۳ مخ)

خوشال خټک په نړۍ کې راته خیالي ژوند نه جوړوي بلکې په واقعي دنیا کې واقعتیونه په ګوته کوي اوراښیي چې هر کاراوهره چاره له ځان سره ډیرې یا لږې ستونځې لري اوستونځې له سره د ژوند یوه برخه جوړوي. دا د انسان له ارادې وتلی قانون دی چې، که څوک ژوند کوي، نود ژوند ستونځې به زغمي. خوشال خټک لیکي لیکي چې:

که دې راحت دی که دې محنت دی     که دې رحمت دی که دې زحمت دی
که خا ندې خانده، که ژاړې ژاړه     دا به دې تل وي که دې صورت دی

(د خوشال خټک کلیات،.۴۵۰ مخ )

راحت د ژوند دایمي یار نه دی، په ژوند کې ستونځې اولانجې هم سر را پورته کوي. بې ستونځوژوند یوازې یو خیال یا ارمان دی. ستونځې اولانجې له سره هغه وخت ورکېږي چې ژوند پای ته ورسیږي. نو ځکه د ژوند یوه مانا د ربړو اوستونځوسره مبارزه هم ده. د ستونځو سره د مخامخ کېدو په په صورت کې مو خوشال خال خان « صبر » ته هڅوي. صبرد خوشال خټک په قاموس کې تم کېدل، په ځای د ریدل اویالاس په زنه کښیناستل او له کاره لاس په سر کېدل نه دي. صبر دهمت د منځپانګې یوه برخه ده، په کار اوعمل کې حوصله ده، زغم دی، په ستونځو باندې بري ته درسیدو له پاره د تد بېرنیولواود کارد نوو مېتودونود مېند لواو کارولو یوفرصت دی. اوښیي چې همت بې موخې ځغاسته نه ده، د دیوال سره د سرجنګول هم نه دی. همت دغور او تد بېر له مخې دهدف په لور هڅه ده اود وخت په بهیرکې دعقل په بنسټ بناشوی عمل دی چې د خوشال په عقیده ډیرې ستونځې له منځه وړلی شي اوحتی په ظاهره ناممکنې چارې ممکن کولی شي اوداړ راکوي چې:

صبر دزړه راوړه، راستي دادواړه     همت په کار دی له خدایه غواړه
که کام د فتح وظفر بیانه مومې     تا وان دې وا ړه ز مـا پـه غـاړه

(د خوشال خټک کلیات، ۴۲۱ مخ )

خوشال خان په زده کړوکې بري ته درسیده له پاره د ډ یرو پخوانیو زمانو راهسې کارول شوی او له ازموینې تیر شوی مېتود هم په ګوته کوي. دا مېتود دمشق او تمرین مېتود دی. مشق اوتمرین په زده کړو کې مېتودېک تکراري عمل ته وایي. د دې مېتود موخه نه یوازې د انسان د شته( موجود ) جسمي اوفکري ځواک، مهارتونو او قابلېتونو ساتل، دهغوی د کمزورتیا، ضایع کېدو او ورکېدو مخنیوی دی، بلکې دهغوی نورغښتلتوب یانې زیاته وده او پر مختګ هم دی. مشق او تمرین که له یوي خوا اوږد تاریخ لري، نو له بلې خواد انسان د ژوند په بېلا بېلو پړاوونو کې، د کوچني د ساده کړنو، کښیناستل، خاپوړې، د ریدو او منډو څخه رانیولې، بېاتر لوړو او پیچلو پوهنیزواوهنري مسلکونو په

زده کړه او ورپسې داستاذۍ درجې ته په رسیدوکې ارزښتناک رول لوبوي. نوځکه خوشال خان ټینګار کوي چې:

غشي چې ډير ولي ښه تيرانداز شي
چې مشق دخط کړي وخط ته ساز شي

کار د محنت د ی د مشقت دی
ورو ورو په هر هر هنر ممتاز شي

(د خوشال خټک کلیات،.۴۹۰ مخ)

د خوشال خان په روزنيزه فلسفه کې محنت او مشقت یانې زیار او زحمت دعلم اومعرفت اود کسب اوکمال په زده کړه کې تر هرڅه لوړ مقام لري، زده کړه فرض بولي، دعبادت نه يې لوړه ګڼي او په هغه کې ديني اودنیاوي سوکالي او سرلوړي ويني. دا نه یوازې د خوشال عقیده وه، بلکې دهغه دژوند عملي لار هم وه چې، د خوشال خان نه يې دعلومو اوکمالونو سردار جوړ کړ اوزه يې د دې ليکنې په پای کې دې ته راوباللم چې په دې هکله پښتنو ته دهمزه شینوارې هغه پیغام یو ځل بیا تکرار کړم، چې په سریزه کې مې رانقل کړي و. همزه وایي چې:

وروځې لیمه زلفې بانه پښتانه
لږ مي نظر ته هر کلی و وا یه
زلفې کمڅې کمڅې ښکلا کنمه
خدای ګو چې خپل مرام ته ورسیږي

ځنګه يو ځای شول پښتانه پښتانه
رتلي نه د ي مېلمانه پښتانه
ولې دي وي خواره واره پښتانه
که د خوشال په لاره تله پښتانه

(د حمزه شینواري کلیات(غزلي): دانش خپرونه، پېښور ۱۳۸۹ ل ش کال ۳۳۵ مخ)

# دین او دنیا د رحمان بابا

## په دیوان کې

«زما په اند، د انسان غټ مشکل دا دی چې د خپل انسانیت په زور هغومره نه پوهیږي، لکه په خپل ځناورتوب چې پوهیږ؟ ښایي له دې امله به رحمان بابا (۱۶۶۳تر۱۷۳۹) زموږ دیو مزاجه انسانانو دیومزاجی ته کلک پام کړي وي او له دې امله به یې انسان مزاجي ته رابللی یو. ښوواند رښا ګل اریوبزي په دې لیکنه کې د رحمان بابا بشري مقام ته کره کتنه کړې ده.

اریوبزي د رحمان بابا مقام او د هغه له نظره د انسان انساني ماهیت (عدالت) په بریالیتوب سره راسپړلی دی. زه له ښوواند رښا ګل نه د زړه له کومي مننه کوم چې د رحمان بابا د بشر دوستی په ګلبڼ کې یې زما غوندې د «نري»، «لنډي» او په هیڅ ځای کې د «نه ځای کیدونکي» عاجز انسان برخه په خپله بریالی لیکنه کې کړې ده»

(رحمت ربي فکرځیرکیار، امریکا)

غوښتل مې چې دبابا په دیوان کې د دین او دنیا تر منځ داړیکو په هکله د خپل نظر د ځر ګندولو نه مخکې د دی دیوان په ارزښت یو څه ولیکم، خو فکر مې وکړ چې دا کار څوک کولې شي؟ مګر یو بل بابا۔ دغزل بابا۔ همزه شینواری ده لیکلي دی چې:

ننداره د نندارچي دسترګو تور شوه
تورد سترګوننداره دهرچشمان دی

هر بلبل یي د بقا سندری و ا یي
د پښتو د باغ مالیار عبدالرحمان دی

همزه څومره خوشبختی د پښتنو    ده
چې په لاس یې درحما بابا دیوان دی

بڼ او بوستان دشنو شنو چمنونو، ډول ډول ونو او سرو زېړو ګلونو نه جوړ شوی وي او خان غنی خان یې تر کېب په دې ډ ول بېانوي:

باغ کې څوک ګلاب شي څوک شي سرو څوک ورخاړی
څــو ک د  منځ غــنچه شي څــوک  کبل د غاړی  غاړی

زما شخصی اټکل خو دادی چې د رحمان بابا د یوان د پښتو ژبې د شعراوادب په بڼ کې همدا د منځ غنچه ده، چې یې رنګ هسې یې خوند دی، چې یې ما نا هسې یې ښکلاده، چې یې خیال هسې یې ارمان دی، داد رحمان بابا دیوان دی، چې د پښتني کلتور یوه پاکه آینه ده او د دې ملت دهویت تلپا تی نښا نه ده. زموږ ویاړخودادی چې په دې د یوان کې هم د ین شته، هم ایمان شته، هم دعشق هغه جهان شته، چې پکې له اسما نه څه اوچت دانسان هسې مقام شته. د رحمان بابا دیوان دانساني خوا خوږې، شعري او ادبي هنراود فکري ځواکمنۍ یوه بې سارې بېلګه ده. دنورو قابلیتو نو او مها رتونو په شان شعري هنر او فکري یا پو هنیزه ځواکمني هم مېراثي نه دي، کسبي دی. مانا یې داده چې مور نا بغه دنیا ته نه راوړی بلکې روزی یې.

هرانسان دهغه ځاګړي استعداد په بنسټ چې لوي پر وردګار یې په بېو لو ژیکي جوړښت کې ځای په ځای کړي دی، د چا پیر یال(کورنۍ، مدرسه یا ښونځي او نور) په مرسته او د خپل زیار او همت په برکت د هنرونو، مهارتونو اود پوهنیزې ځوا کمنۍ لوړی کچې ته رسید لی شي.

وایي چې د رحمان بابا کورنۍ چا پیر یال بېوزله و، دی په یوه غریبه کورنۍ کې د نیا ته را غلی دی.  بېوزله کورنۍ چې ډ یرې یې د لیک او لوست له زده کړې هم بې برخې وي، دخپل اولاد سره د زده کړې او پو هید نې په بهیر کې دلا زمې مرستې توان نه لري. دا په دې مانا چې نه د خپل کوچني سره د لیک او لوست او د مد رسې د کتابونو په زده کړه کې کومه مرسته کولې شي او نه کوم کورنۍ ښونځۍ استخدامولې شي. په دې صو رت کې د کوچني زده کونکي د مټو بار درنیږی. داسې ښکاري چې کوچني عبدالرحمان دا بار یوازې په خپلو مټو وړی دی او د خپل لوړ همت او پر له پسې زیار او زحمت په برکت یې د ادبي او شعري مهارت او د پوهې او عرفان هغو لوړو څوکو ته ځان رسولی

دی چي له امله یې په پښتون ټبر کې د بابا لقب ګټلی دی. ده هندي ژبه زده کړې وه او د دې ژبې ادب او هندي فلسفی ته یې لار مېند لی وه. دعربي ژبې زده کړه خو د بابا لپاره ځکه حتمي وه چې نه یوازې د د ینې پوهې ژبه وه او ده بلکې دادب ښکلا او نورو پو هنیزو زیرمو له مخې د نړۍ په دې برخه کې یوه شتمنه ژبه هم وه چې زده کړه یې اسلامي پو ها نو او د هغوی په ډله کې د رحمان بابا لپاره هم ضرور وه. ده د فارسی ژبې د سترو شاعرانو او فیلسوفانو لیکنې په غور لوستلي او سره په تله کړي یې دي. په خپل یوه شعر کې یې د سنا یې نوم را وړی دی او هغه یې د ځان سیال ګڼلی دی. رحمان بابا لیکلي دی چې:

کــه دا ستــا وصــا ل دریا دی
زه مـــا هـی یـم د ر یـا یي

د ا ګما ن په رحـمان مه کړه
چــې بــې تــا بــه و پـا یي

پــه پښــتو کې رحمان ووي
پــه فـا رســی کې سنـا یي

رحمان بابا نه یوازې په پښتو ویلي او لیکلي دي بلکې د پښتني پوهانو اوشاعرانو لیکنې یې لوستلي او تر کره کتنې لاندې هم نیولي دی. ده په خپلو شعرونو کې د پښتو ژبې لویو شاعرا نو او پوهانو د مثا ل په توګه د خوشال خټک نومونه هم یاد کړیدي. بابا لیکي چې:

د چمـن ګلــونه واړه ترې قربان شي
محـبوبا چې د چمن په ګلوپښې ږدي
د ا غزل پـه حا یشه ولـیکه رحمانه
د خوشـال د ببـاز پـانې به وریـږدي

د د ومره زیاتو ژبو زده کول، اوږدې او پرله پسې لوستنې ، څیړنې او لیکنې ښیې چې بابا د ځینو د ګمان په خلاف دې جهان ته نه وه شا کړې بلکې د هغه په راز باندې د پو هیدو له پاره یې ملا کلکه تړې وه. دی د د نیا په هکله د خپلو څیړنو نه وروسته دې پایلی ته رسیدلی دی چې:

دا جهــان دی خــدای لـه عشـقه پیداکړي
د جـمله وو مـخلــو قـا تــو پــلا ر دی دا

ترعـشق غوره بل څه کار په د نیـا نشته
تـر همه کا رونو غـو ر ه کـا ر دی دا

بېلــه عشــقه روز ګارونــه واړه پوچ دي
که روزګاردی خو بهتر روز ګار دی دا

وايي چې عشق داسماني پربښتي یوه شغله ده، د مینې څرک دی، محبت دی او په محبت کې یو سرکښه صداقت دی، چې یو ځل زړه ته ورسیږي، تل ترتله پا تې کیږي، له قیسه جوړ مجنون کړي په بېد یاکې سر ګردان، ګرځي ګرځي نه ودریږی، بیا چې پرځي هم خوځیږي په ارما د خپل جانان، له عشقه نه صبریږي دا د مینې لیونیان، لیونی تل پا تې شوی که مجنون دی، که فرهاد دی، که منصور دی، که رحمان، قرباني یې سر لوړي ده، په عشق کې د جانان، له داره نه ویریږي.

لیــونتــوب له لیو نیو تـلو نی نه دی
که یې راج په خونــه ورشي که تــاراج

که یې سرلکه منصورغوندې په دارشي
دغــه دار دی و رحمان وتــه مــعــراج

عشق عیش او عشرت نه دي، عشق هوا او هوس نه دي او عا شق هم کوم بوالهوس نه دي، عشق د نفس غلامې نه ده، دریا زاهدي نه ده او د ذکات او سخات مریدي هم نه ده. عشق لوړ خیالونه ،مینه، ارما نونه، له صداقت سره تړي اود انسانیت رنګینې افسا نې تري جوړوي. خوهوا اوهوس خیال او ارما ن نه پیژنی، له زړونود مینې ریښې اوبا سي، انساني وجدان نفسي غوښتنو ته تسلیموي، محبت تر وحشت او سرلوړي ترعیاشې قربانوي او سړی د وحشت په لورروانوي. نو ځکه دبابا پیغام دادی چې د عشق لاره جدا اود هوس لاره جدا ده نو:

بــوالهــوس دی عــاشقــی تـه هوس نه کا
دا دروغ دی چې زر دوز شي بوریا باب

دا چې د بابا په عقيده دا دنيا له عشقه پيدا دنيا ده او په عشق بنا دنيا ده او دا چې دا دنيا د ادم او د حوا دنيا ده نو دا دنيا له عيبه پاکه او صفا دنيا ده. له دنيا کومه بدي نه را پورته کېږي نو ځکه درحمان بابا له خوا داسې ستايل کېږي:

ښه ده ښه ده دا د نيا
چې تو ښه ده د عقبا

په دنيا کې بدي نشته
کـه بدي نه وي له تا

لوي پرورد ګار چې انسان په دې جهان کې پيدا کړي دی، نو هم يې د کړنې(عمل) توان او هم يې اختيار ور کړي دی. که انسان پاتې انسان شي او دخير په لور روان شي، په دنيا به عشق حا کم وي، د ک له مينې به جهان شي. او يا به دا لاره پرېـږدي چې دشيطان  په لار روان شي، ور نه جوړ يو تور شيطان شي، بې خبر له انسا نيت، له مينې محبت، له خوا خوږۍ او صداقت دغضب  يو قهرمان شي، بې ارمان اوبې ايمانه چې انسان شي،  يو وحشت شي، يو ظلمت او بربر يت شي، حاکما چې ظالمان شي او وحشيان شي، دمينې دنيا ورانه شي او وران دعشق جهان شي، دا دنيا يو جهنم شي او ستی پکې انسان شي.نو ځکه بابا وايي چې:

پــه سبـب د ظـا لما نــو حـا کما نو
ګوراوکوراوپيښاوردرۍ واړه يودي

بد عمل نه يوازې دعشق له جهانه يو وحشي نظام جوړوي، بلکې بد عمله په بد عمل خپل شخصيت او حتی خپل انسا نی هويت هم تخريبوي، انساني ځانګړتياوې کمزورې کوي. مينه او  محبت ، انصاف او عدالت، ورورولي او خوا خوږي خپل ځای کينې او ظلمونو، لوټمارې ، اختلاس او فسا دونو ته پرېږدي. په دې لاره چې څوک ځي د ين او ايمان خوشي کوي، له انسانيت سره اړيکې شلوي او رحمان بابا يې په دې ټکو يادوی:

تر هغه لا نيکو کار بېګانــه ښه د ی
چې بـد کـا رشي د چا زويــه يالمسی

ای رحمانه چې بد فهم بد کـردار شي

را تـه وا یـه سپی بهتر دی که سړی

ځکه چې:

هومره زیان له خوړاوخرسه نه رسیږي
لکـه ځوک په اد مېانو کې بد خوی شي

سـړي هـوښ چې د سړي لـه تنه پا ځي
د سـړیـو په جـامه کې خـر بشوی شي

رحمان بابا د د نیا ټکي هم دنړۍ (جهان) او هم دشخصي شتمنۍ او ملکېت په مانا کاروي. په دوهم صورت کې هم د د نیا ځرنګوالی یانې ښه والی او بدوالی دانسان په هغو کړو پورې تړي چې له امله یې دنیا ( شتمني ) تر لا سه کوي. هغه دنیا چې په زور او په ظلمونو، په غضب، لوټمارۍ او په جنګونو، په سود، ریا، غلا او نورو فساد ونو تر لاسه کیږي، له دبن سره په تضاد کې واقع کیږي. حرامه د نیا له یوه جیبه وبل جیب ته او له یوي خزاني بلې خزانې ته ځي او راځي خو ملي شتمنۍ او ټولنیزي سوکالۍ ته ګټه نه رسوي او یوازې دغه یاهغه لوټمار د همدی د نیا په زورله ځانه فرعون جوړوي، دغرور او د وحشت په نیلي سپورشي بې وزله ځوروي، څه بې رحمه یو جلاد شي، نیغ نیغ کیږي او چړې را پـړکوي، د ژوند مانا یې داده چې وینه تویوي او سرونه پرېکوي. دا وحشي چې حکمران شي سړیتوب پای ته رسیږي، دایمان نخښۍ شي ورکې له دبن سره پرېکړه کیږي. در حمان چې نه خوښیږي، همدا وحشي د نیا ده چې له دبن سره نه جوړېږی. بابا په دي هکله لیکي چې:

د نیـا بــده د هغــو ده
چې یې کسب وي ر یـا

یـا یې کسـب د ریــا وي
یـا یې و ګـټـی پـه غـلا

یـا یې ټـوله کړي په ظلم
یـا د خـمـرو پـه سـو دا

یـا يي ور کـا پـه شر ابو
یا يي و ر کـا پــه ز نـا

یا نا حـق خونونه کــاندي
یــا مـالونه خوري د چا

عبـاد ت کا په ځان فرض
د پـا د شــا د ا مــر ا

حـق بـا طل کا با طل حق
پــه سبـب د رو ر یـــا

نـه يي ویـره وي له خدایه
نـــه يي شـر م نـه حـیا

د یـوي کـیـدی لــپا ر ه
هـزار خو نـي کـا بیـد یا

همیـشـه يي لـه سـتمــه
خــلـقــه و ي پـه غـوغا

ګـوش وهـوش يي هرګزنه وي
د مـظـلو مـو پــه ژړا

د فرعون پـــه خیر ناست وي
بي پـروا او کـبر یــا

زور، ستم یا غلا، لوټماري، سود،جواري او ریا چې دچا کسب او هنر شي او دا عمل دلارې مل شي، شپه او ورځ چې تکراریږي، سرپټوب مخ په زوال شي، ننګ غیرت نه لیدل کیږي، دعمل دغه پایله ده، کوم شخصیت چې تخریب کیږي، سترګې سپیني شي، حیا شرم ورکیږي، دعمل دغه جزاده، دا انسا چې وحشي کیږي. نو ځکه رحما بابا وایي چې:

د وست دښمن دسرې واړه خپل عمل دی
هم په دا مقداريې اجرمـوی په مـوی شي

هـره ونـه چي کـره پـه هغـه لـور د ه
عـا قبت يې پرېواته پـه هغه سـوی شي

رحمان بابا په دې عقیده دی چې خدای ( ج ) انسان ته د ښو او بدو چارو وس ورکړی دی، خو په ښو چارو يې ګمارلی او له بد و يې منع کړی دی.هغه څوک چې دالهی امر په خلاف په بد عمل یانی دانسان په ځورونه دنیا راټولوي، په حقیقت کې په حرامه دنیا پسې ځي، دین ته شا کوي او په دې ډول دین په دنیا بدلوي. نو ځکه بابا دا پوښتنه کوي چې:

بـد لــوي پـه د نيــا د يــن او ايمـا ن و لي
نــه پو هېـږی پــه خپل سـود وپه زيان ولې

در بخښلی خــدا ی دهرې چارې توان دی
په ډير توان کې خپل سربولې نا توان ولې

د دې په ځای چې د ین پرېږدې او د د نیا د را ټولولو لپاره په زور، ریا اویا په کوم بل فساد لګیا شي ښه به دا وي چې د خدای درکړي توان نه کار واخلی او په ایمان لا س پورې کړي، کوم کسب او حرفه زده کړي، یو څه زیا ر شي، مشغول په کارشي، څه تناکې شي لاسونه، یو څه پوهه او لیا قت شي او دا ننګ شي هم غیرت شي، چې مهار کړې دشتې غرونه، سندونه، دریا بونه. هغه دنیا چې له دې لارې حاصلیږي، یو څه خیریې چا ته رسي، عبا دت کې حسابیږي اودا دنیا درحمان بابا له خوا داسې ستایل کیږي:

مـذ مت د د نيـا مــکــره
واو ره پنــد کــره دا وينـا

د دنيا په بـــازارکېږي
د هغــه جهــان سودا

په دنيا کې ډيرحکمت دی
ور شــه وپــو ښتـه حکما

د نيـا کښـت د اخـرت دی
د ا خــبـــر ه د ه ر ښتــبا

د د نیا طا لبان ډ یر دي
که یې څوک مومي له چا

و لـې مرد پکې هغـه د ی
چې سخــي وي یا پا ر سا

پـه د نـیا کې خـطـا نشــه
کــه خـطـا نـه و ې لـه تـا

کار همه واړه موقوف دی
د سـړي پـه مدعــا

کــه د ا نـا يې و پو هیږ ه
پــه ر وا پــه نـا ر و ا

فتوا ونـیـســه پـه مخ کې
پســې مخ کــړه په تقــوا

د نیا نه دي هغه دین دی
چې له نـهـی و ی سیـو ا

نو ځکه:

مـا تــه مـلا پـه مشقـت په محنـت شه ده
نــه حـرا مــه همـبـا ني د چـا تــر مـلا

ړوند بهتردی چې څه نهویني په سترګو
نـه چې سترګې پـه پرد ي حـرام کـه وا

وینو چې رحما بابا نه یوازې د د نیا په راز با ندې د پوهېدو له پا ره زیارونه ګا للي، خیرنې، فکرونه او سو چونه یې کړي دي بلکې د د نیا پر مخ روان ژوند یې هم تر کره کتنې لا نذې نیولي دی او دی پا یلی ته رسیدلی دی چې دانسان کړه وړه د د ین او د نیا تر منځ داړیکو په څرنګوالي کې ټا کونکي اغیزې لري، د ین او د نیا سره یو کوي او یایې د یو بل په مقا بل کې دروي.

کله چې ملا وتړي راپا څي دا د نیا چې جوړوي، ښکلي کوي، نو ځان هم دا نسانیت اوچت پړاو ته هسک کوي، رضا د پاک اله حاصلوي، دا اوښکې د مظلوم چې پاکوي. که چېرى نیکې پرېږدي، په بدو کړي لا س پورې، د ابلېس په لار روان شي، یو دوزخ جوړ له جهان شي، را پیدا چې په دنیا کې ظالمان او مظلومان شي، هر ظالم وي بې ایما نه او ور نه جوړ وحشي حیوان شي، د حلا لو لار چې پرېږدی، په حرام پسې روان شي.

د ا حرامه دنیا، چې د د ین په سودا، د چا لاس ته ورغلې ده، رحمان بابا رټلې ده. بابا د بدو اعمالو پړه په نا پو هې اچوي او په دې عقید ه دی چې نا پوهي دانسان سترګې تړي، د ښو او بدو، روا او ناروا، حلالو او حرامو او بالا خره دامر او نهي تر منځ په تو پیر پرده اچوي نو خکه لیکي چې:

| | |
|---|---|
| پـه نـظـر د بـې بـصـر | لـکـه شـام هسي سهر |
| لـکـه شـام هسـي سهـر | لکه سنګ هسي ګو هر |
| لـکـه سـنـګ هسي ګوهر | لکه خاورې هسي ز ر |
| لـکـه خا و رې هسي زر | لکـه خیر هـغسـي شر |
| پـه نظـر يې معـلـو مېږي | هـمـه وا ړه بـر ا بـر |
| په صوا ب او پـه خطا کې | نه د لیـل شتـه نـه نـظر |
| نه آ ګاه پخپـل بهـبود وي | نـه آ ګاه په خپل ضـر ر |
| نه پـه عیب څـه پو هیږي | نـه پـو هیږی پـه هـنر |
| لکه تش صورت بې ر وحه | چې تصویر کـا مصـو ر |
| لکـه تـش کـد و بې مغزه | مېا ن خـا لـي و تن پر ور |

په نیکه لاره دتللو او له بدو دځان ساتلو له پاره د نیکو او بدو تر منځ په تو پیر باندې پو هیدو ته اړتیا شته ده نوځکه رحمان بابا پوهه او نیکې او پو هه او اخلاق سره تړي او هغه څوک رښتینی پوه ګڼي چې خپله پوهه دښیګڼی له پا ره کاروي، حق په ګوته کوي.خیر رسوي او د نیا روښانوي .دی لیکي چې:

عـالـمـان دي روښـنـا يـې د دې د نیـا
عـا لـمـان دي د تمـام جـهـان پیـشـوا

که څوک لارغواړي وخدای وهم رسول ته
عـالـمـا ن د ي د د ې لا رې رهـنـمـا

پوهه تر يوي اندازې نفس تر کنترول لا ندې نيولې شي، دنيکې لور په ګوته کولې شي او په زړونو کې دعشق او مينې دبقا سره مرسته کو لی شي. خوپوهه هدف نه دي، وسيله ده، خپلواکي نه لري اوکارول يې د پوه او يا دزمانې د واکمنو په ارادې پورې اړه لري. رحمان بابا هغو پوهانو او شاهانو نه کرکه کوي چې بشري پوهه د شر له پاره کاروي، نو ځکه د شاجهان او اورنګ زيب په شان شا هان د منصورپه شان نداف نه ځاروي او ليکي چې:

د اورنګ زيب او شاجهان په شان اشراف
صد قه شـه تر منصور غوندي نداف

خو په دېوان کې يې دمستبدو شا هانو او بد کا ره حاکمانو په خلاف سياسي شعارونه، يا څون يا انقلابونه نه ليدل کېږي او په ځای يې داصلاح، تنوير او ښو ونې لار غو ره کوي. دانسانانو تر منځ جنګ له سره حرام ګڼي خو په خپله د حرامو، د نفس او شيطان په ضد د جنګ يو نه ماتيدونکي سنګر دی چې کلام يې هم لښکر دی هم افسر دی، د مردانو دا هنر دی چې په زړونو کې ځای نيسی، چې دا رنګ يې اثر دی، دا د سرو ګلونو کردی، د شيطان په زړه خنجردی، د دی کلام يوه نمونه داده:

| | |
|---|---|
| کينه بــده ده بيشکه جنــګ حــرام دی | نه له نفــس وشيـطا ن سره کينه |
| د مر دا نو کار له نفس سره جنګ دی | نـه زنا ن غونڈې له نقش وننګينه |

د نفس او شيطان سره دښمنی، د انسان خواخوږي، په انسان زړه سوي، د د ه د زړه سا تنه، دانسان کرا مت، پت اوعزت ته درناوي لنډه دا چې عملي انسان دوستي د لوی پر وردګار په در بار کې بې ريا بنده ګي ده او د همدغه انسان خدمت هغه بې شانه ذات ته تر بل هر څه ښه عبا دت دی، که څوک غواړي چې په رښتيا يو سپيڅلی مسلمان شي، په پاکه لار روان شي، بې ريا او بې زواله يې ايمان شي، لاربې دادی چې خواخوږي دانسان شي. ځکه چې دانسان دزړه مقام څه اوچت دی تر اسمان، يوه به هله پرې انسان شي چې همرازه د رحمـان شي.دی ليکي:

چې يې عـرش اوکرسی لاندې دي ترسيوری
بــالا تــر د ی هســې شـا ن عـلــم د ز ړ ه

د خلـيـل تــر کـعبې لـو يــه دا کـعـبـه د ه

که ابـا د کــه څـوک ویـر ان حــرم د ز ړه

دا انسان که پوه په ځان شي، لړ څه مخه کړي وننګ ته، دنفس غلامې پرېږدي او حق ته غاړه کېږدي، دمسلمان چې پوخ ایمان شي، ورته عرش د زړه مقام شي، له ریا ځنی لاس واخلي کېنه ترک کړي، درحمن الرحیم په لارروان شي، نه ازار کړي دچا زړونه او نه دي له چا ازار شي، زړه چې زړه کې ځای پیداکړي او لعنت په تور شیطان شي، یوه د مینې دنیا جوړه شي او جوړ دعشق جهان شي، درحما ن دغه ارمان دی چې انسان ورور دانسان شي. نو ځکه ټینګار کوي چې:

ادم زاد په معنا واړه یو صورت دی    څوک چې بل ازاروي هغه ازارشي

یو صورت او دبشریت یوالی اووحدت داما نا لري چې هر انسان دانساني ماهیت له مخې دبل انسان په شان دی او توپیر بیا په دې کې را ځي چې څوک څه کوي او په کومه لار روان دی. څوک چې بل ازاروي، دا یو صورت توټی تو ټی کوي، بغض کېنه راپاروي، یو له بله جنګوي، دا انسان که لا انسان دی، غټ دېنمن هم داسلام هم دانسان دی. دا د بل ازارول په ځان لعنت ویل دی، دا دبل رضا ساتل د ځان محبوبول دی. نو ځکه بابا راښیي چې:

ګاه د نــورو رضابـویه ګاهی خپله    پـه کا ر نـه د ه همېشــه خپلـه رضـا
لـکـه ځان وهسي نورو ته نظرکړه    لکـه ستا دی هسې ځان دی دهر چا

دا دبل اویا دنورو زړه ساتل، دا دبل په زړه کې ځان ته ځای نیول، دا دنورو درناوی او دبل عزت کول، دادځان په شا ن ونورو ته کتل، دهر چا سره عدا لت، دانسا ن لوړ کرا مت، دنورو پت عزت اود حق دا ملا تړل، دانسان دا انسانیت دی په رښتیا، د مو من دا عبادت دی بې ریا. دا هم دین دی هم دنیا، هم دنیا ده هم عقبا. هم ننګ دی،هم غیرت دی، داهسې مرتبه ده بې همتا. راځه راشه یو څه ولوله غزلې دبابا:

نیک عمل هم نیک کردارهم نیک خویونه    هم جنت دی هم راحت په دادنیا
ضـد یت د سـړي عمرپــه عـذ اب کا    پـه کارنه دي ضـد یت په دادنیا
لاس پـه سرپه سیـنـه ا یښی وهرچا ته    همـدغـه د ی شـرافت پـه دادنیا
کـه بلـنـده مرتـبــه د چـا پــه کار وي    لـو ی مقام د ی عـدالت پـه دادنیا

رحمان بابا د جهان شموله فکرونو، ارمانونو اوخيالونو په پراخ افق کې هم خپل کام، کلتور، کلی اوکور هير نه کړل او پښتون ټبر ته يې يوخاص پيغام خپورکړي دی چې، ښځينه يا نارينه جنس، دښه والي يا بد والي، اود لوړتيا او يا ټيټ والي، معيار کېد لی نه شي. ستر ستر لقبونه هم دنيکو عملونه او غوره صفتونه، د پوهې او هنرونو پايله ده چې د پلار په شان هم موراو د ورور په شان هم خور، هر ستر لقب ګټلی شي. دا يو که ننګيالی شي، شي به بله ننګيالی، که چېرې يو باباشي، بله هم انا کېدلی شي، اتل پکې هغه دی چې کوم ښه لقب ګټلی شي، د بابا کله خوښيږي چې نه ننګ او نه ايمان پکې ليد لی شي. نوځکه ليکي :

چې پـه ننګ او په ناموس تر ټولو کم وي
خدای دی مور که په هغسی زويه بوره

ننـګيا لي تر برو نه ښه دي او که نه وي
نـنګيالی تـر له هم ښـه ده لــه تـر بوره

او زياتوي چې:

تر نا پـاکــو نـارينـــه وو ده بهتره    پاک دا منه پرهيزګاره ارتينه
د ديندارې ارتينی ترپوي ګوښی    صـدقـه شه سـل بې دينـه نارينه

د بابا دغه خبرې دا دننګ غيرت غزلې، موږ ته د خوشال خټک، مېرويس هوټک، احمدشاه دراني، سيد افغاني او د فخرافغان خان غفار خان نومونو ترڅنګ د نازو او رابعه بلخی، زرغونی او عايشه درانی، ملالی د مېوند او ملالی يوسفزې نومونه هم رايادوی او ښيې چې سور شال دهسکې شملې او تور وربل دپګړې ول سره سيالي کولی شي. نو ځکه خور د ورور سره په يوه مور چل کې، د زده کړې په سنګرکې څومره ښکلې ليدل کيږي، جونه دوطن مې که ملالی سره سيا لی ته هوسيـږی.

او ښيي چې سور شال دهسکې شملی او تور وربل د پګړی ول سره سيالی کولې شي.نو ځکه خور د ورور سره په يوه مر چل کې،دزده کړي په سنګرکې څومره ښکلي ليدل کيږي،جونه دوطن مې که ملالي سره سيا لی ته هوسيږی.

همداوي وروستی کرښی. نور مجبور يم چې په دې ځای کې يې پرېږدم، دا بحث دی نوره بس.څه په سر کې پاتې نه دي زما و همدغه وس. ته(ځيرکېاره] په ونه

ډیر نری یي اولړ لنډ.عینکي تل په سترګو شپه ورځ لامبي کتابو کې، په فکرونو فلسفوکې، په مانا کې شوی ډیر پنډ. په هیڅ ځای کې نه ځایېږي، له هر ځایه لیدل کیږي، دا دومره چې ځلیږی، زما یاره ځیر کېا ره داغوښتنه وه دستا، په ما حق و دبابا، که مې کړی وي ادا؟ یوه وروستې خبره واوره، چې دا د مېنې لیونیان چې دعشق په لمبو سوزي او څه رڼا یي چا ته رسی، دا دزړونو فاتحان، د د وي زړونو ته سلام، دا رحمان دی که خوشال یا پاچاخان دی، که خیام دی، که منصوردی یا مجنون دی، هیڅ نه فنا کیږي، چې په زړونو کې اوسیږي، تلپا تې یې ژوندون دی.

# د خدای د مخلوق په خد مت کې د فخرافغان ژوندون

# او

## د خدایې خد متګارو بې تاوه پا څون

### ۱ ــ له وړکتوبه د عدم تشدد ترمفکورې پورې:

پاچا خان په خپل اثر«زماژونداوجد وجهد» کې لیکلي دي چې:«په پښتنو کې ډیرلوی لوی پاچا هان او مشران پیدا شوی دي، خو هیچا په پښتنو کې اجتماعي ژوند او داجتماعي ژوند فکرنه دي پیدا کړي.»(عبدالغفار خان:زما ژوند او جد وجهد، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۲ کال،۲۷ مخ)

هو! پا چا هان یاټولوا کان، ولسمشران اوسرداران مود رلود ل، خو د ولس رینښتني خواخوږي یکې ډیر لږوو. رښتیا دادی چې دي ټولواکانواوسردارانود تاج او تخت د ګټلو اوساتلو له پاره د خپل کام نه د یوه فزیکي ځواک په توګه کار اخیستی دی، خو کله چې خپلې موخې ته رسیدلي دي هغه یې په خدای سپارلی دی. نه یې اقتصادي او ټولنیزې ودې ته پام کړی دی، نه یې د کسب اوتجارت سره بلد کړی دی او نه یې د زده کړې، ژبې او کلتورد ودې له پاره یو څه ځان خورولې دی. تردې چې شاعر او اد یب مو هم د د ر بار او د ولتي تا سساتو نه بهرپه کلواو باندوکې په خپل مسو لیت، عزم او همت خپل مقام ته رسیدلی دی، نو ځکه یې په اشعاروکې هم د د ربار اودرباریانو له ستا یلو ځان

ساتلی دی. د پښتون ولس او د هغه د د ربار یانو ترمنځ پرو ت واټن د وخت په تیریدو سره زیاتیده اودې حد ته ورسیده چې درباریان د ژبې او کلتور په برخه کې هم د خپل کام نه پردي شول، پښتو یې هیره کړه او د پښتني کلتوریا پښتنولۍ سره یې اړیکې وشلولې. د ربار له ولسه دومره پردی شو چې د دواړو تر منځ د پوها وي را پوهاوي «افهام اوتفهیم » له پاره دریمګړي«ژباړن» ته اړتیا پیدا شوه. کله چې د یوه کام ټولواک، پاچا، ولسمشراویاپه اصطلاح د ملت بابا د خپلوپخوانیوباباګانواود خپل کام په ژبه نه پو هیږی د بشرپه تاریخ کې کومه عادی پیښه نه ده. دا یوازې اویوازې زموږ په د ربماریانو پورې تړل شوی هنردی چې بېلګه یې د نړۍ د نورو هیوادوپه تاریخ کې نه لیدل کیږي، نوځکه ورته دانسان سالم عقل حیرانیږي. داسې ښکاري چې د پښتوغزل پلار، حمزه شینواری، هم دتاریخ دې بې ساری پړوکي ته په سوچ کې ډوبیږي اوحیران پا تې کیږي چې داحمد شا دراني اولاده چې د بابا په تا تو بې کې لو یېږي ولې د خپل نیکه او خپل ولس په ژبه نه پو هیږي؟ همـزه دا پو ښتنه په شعري اوادبي جما ل اوکمال سمبالوي اولیکي چې:

ستــا چې بــا نه سـمې خبـری نه کا
خود به کاږه وي چې کاږه پیدا شول

د پښتون زوی او د پښتـو نه خلاف
خـاونـده دا لـه څـه نـه څه پیدا شول

حمزه شینواری په دې پو ښتنه زموږ پاملرنه لومړي« څه » او دوهم « څه » یانی داحمد شا دراني او دهغه د بې پښتو او بې پښتونولۍ لمسیانوترمنځ تو پیر ته راګرځولې ،خو کوم نوم او لقب یې نه دی ورکړي. دې کارته ښا ډاکتررحمت ځیرکیارمتې رانغتلی دي او دا درباریان یې « داحمدشا بابا بې کماله لمسیان » بللي دي. زما په اند ډاکتر ځیرکیارد« کمال » ټکی د انساني شخصیت دسمې ودې او پرمختګ په مانا کارولی دی چې دخپلې ژبې او کلتور نه منکر او بې خبره ترې بې برخې پاتې شوي دي.دخپلې ژبې او کلتور زده کړه او په هغوی پوهېدل دهر وګړي دشخصیت او دهغه دمعنوي ودې او کمال کچه راښیي او ځوک چې ځان ترې بې برخې کوي نو دشخصیت دسالمې ودې او کمال ځای نیمګړتیا ته پاتې کیږي اوبیانو دا تشه په هیڅ شي هم نه ډکیږي. خو که چیرې دیوه کام او ولس سیاسي واکمنان ـ ټولواکان، ولسمشران، وزیران اونور خپلې ژبې او کلتور ته شا کړي نو ځوروونکي اغیزې او پا یلې یې یوازې ددې ښا

غلو دشخصیت جوړېدنې په روزنېز بهیر نه محدودېږي بلکې دکام او ولس له پاره ترې غمناکې سیاسي،کلتوري او ټولنیزې لانجې را پورته کیږي. ځکه چې واکمنان دخپلې ژبې دهیرولو سره سم دخپل کلتورنه هم بیګانه کیږي او دولس دټولیز ژوند په وړاندې دمسؤ لېت احساس هم له لاسه ورکوي، په دې توګه ژبه، کلتور او دولس ټولنیز ژوند د سیاست له پاملرنې بې برخې کیږي او د پر مختک لاریې تړل کیږي. نو ځکه پا چا خان لیکي چې: « په دنیا کې هیڅ قام بېغیرد خپلې ژبې نه ترقي نه شي کولی » (عبدالغفار خان،.۳۳۳ مخ)

د ژبې او کلتور پالل نه یوازې دیوه ولس دپر مختک مهم شرط دی بلکې د هرکام دهویت او په نړی کې د هغه داعتبارساتلوځواکمن بنسټ هم دی، نو خکه پاچاخان ټینګار کوي چې:«کوم قام ته چې خپله ژبه سپکه شي هغه سپک شي چې خبله ژبه ترې ورکه شي هغه ورک شي.»(عبدالغفار خان...۳۳۳مخ) دې خطر هغه وخت سر را پورته کړچې دپښتو ژبه له درباره وایستل شوه، د دفترونو، تعلمي موسسواواخبارونو دروازې یې پرمخ وتړل شوی، په پښتو ژبه دلیک او لوست امکانات له منځه ولاړل او دپښتنو بچیان په مورنۍ ژبه د زده کړې نه بې برخې پاتې شول. په دې توګه د پښتون ژوند د پرمختګ د سیاسي چوکاټ نه بهراوپه بدیا شو. پښتون له دې برخلیک سره په خپل هیواد افغانستان کې د پښتنو، د بې پښتو، ټولواکانو ترسیاسي مشرۍ لاندې مخامخ و، هلته په سرحدي صوبه کې لر پښتون دهند دنیمي وچې په شان دانګریزي ښکېلاک سره لاس او ګریوان و. انکریزانو دپښتنو سره دبلې هرې سیمې پرتله ډېر ظلمونه کول، نظامي زور زیاتی ډیرو، سیاسي او مد ني حقوق یې زیات تر پښو لاندې کېدل. مهم ټکی دا و چې انګریزانو دځنې ملایانو، مېاګانو اونوابانو په مرسته تر وسه هڅه کوله چې دپښتنو بچیان له زده کړې لرې وساتي. د پښتنو په سیمه کې یې د ټول هند پر تله لږ او بې کېفیته ښوونځي جوړ کړي ووچې پکې په مورنۍ (پښـــتو) ژبه د زده کړې او ښوونې اجازه نه وه. پا چا خان لیکي چې:« نورهندوستان له یې تعلیم په مورنۍ ژبه ور کولو، خو د پښتون بد قسمته قام ته یې تعلیم په پردۍ ژبه ورکولو.»(عبدالغفار خان...۳۳۳مخ] د لر پښتون دهغه وخت دژوند دځرنګوالي په هکله هندی ډیپلومات اوڅیړونکي اتر چند په خپل د« پاچاخان او دازادۍ مبارزه» تر سر لیک لاندې اثرکې لیکي چې:« دا هغه وخت و چې حکومت......د قبایلو په وړاندی جبري اقدامات تصویب کړي وو، دهغو قبایلو په وړاندی، چې د یوې سالمې ر هبرۍ نه بې برخې ووا و د بریتانویانو په وړاندې په انفرادي اوغیری منظمې مبارزې کولو سره یې ځواک اوبه کېده، دا د رکود

ورځې وي، نهیلي په دوو پښو ولاړه وه او هیلي مړې ښکاریدې.» ( اتړ چند:ـدزبېړ ژوند ژباړه ـ پاچا خان اود ازادی مبارزه،دانش خپرندویه ټولنه،۱۳۹۱ ل کال،۱۴مخ].انګریزي ښکېلاک په سرحدي صوبې (ننی پښتونخوا) کې د واک دسا تلو اوټینګولو له پاره په بې مثله وحشي کړنو لګیا و، پښتانه یې دبنسټیزوانساني حقوقو نه بې برخې کړي وو، دوینو تویول او د بې ګناه انسانانو وژل یې د ژوند عادت ګرځیدلی و.د بې ساري ظلمونو اوستمونو نه راپیدا شووغمونواو ویرونو د ژوند څیره بې خونده کړې وه او د پښتون د بخت لمرمخ په ځوړند ښکاریده.هسې خو د خپلواکۍ لیوالتیا، ننګ او زړورتیا پښتون ولس ته له نیکونوپه مېراث پا تې دی، خــو نیمګړتیا یې د ا وه او همد ا د ه چې د خپلو ځوا کونود تنظیمولواوانسجام وس یې نه درلوداو نه یې لري، نوځکه ژوند د کشمکشونو، خپلمنځي جنګونو،غمونواوربړونوسره تیروي.
خان عبد الغفار خان د همداسې حالت له منځه د یوه خواخوږي او با تد بېره انسان په توګه راپورته شو چې ځوانې یې دخپل هیواد له د نګوغرونو سره سیالی کوله، خودانسان اوخپل ولس سره د مینې په ایثار کې ترهرڅه او ترهرچا لوړاو وچت و. ده د دی له پاره د ځمکې په سر سترګې وغړولې چې د ظلم او تیری په وړاندی په مبارزه لاس پورې کړي اود خپلواکۍ، برابرۍ، پرمختک او وروری په لورد خپل هغه ولس لارښوونه وکړي چې د انګریزي تیري لاندې د ناپوهۍ اوبې وزلۍ تر څنګ په ګوندیو، تربګنیو، انتقامونو او بد بېنیو کې ورک و، بد رواجونه او خرافات یې په اوږو باروو، شغل اوکسب ته یې ډ ډه نه لګیده او په ژوند کې دکار او زیار په ارزښت ښه نه پوهېدل.

غفار خان په ۱۸۹۰ع کال کې دهشنغر په اتمانزو کلي کې زیږیدلی دی. لومړنۍ زده کړه یې دکلي په جومات کې پیل کړه او د استاذ اسما عیل په ښوونه یې قرآن کریم ختم کړ. ورپسی د پېښور ښار په یوه لومړني ښوونځي کې شامل شو په ښوونځي کې یې یوازنۍ ستونځه دا وه چې نه یې زده کړه په پښتو ژبه وه او نه یې ښوو نکي په پښتو پو هیدل. په دې هکله دی په خپله لیکي چې:« یو شیږکلن اوه کلن ما شوم ته دا ډیره ګرانه شي چې په یوه وخت کې هم پردۍ ژبه زده کړي او هم په هغه ژبه کې علم زده کړې.»(عبدالغفار خان....۲۱مخ ]. د لومړني ښوونځي د پنځه کلنۍ دورې پای ته رسولو نه وروسته په مېشن لیسه کې شامل شو.غفارخان په دې لیسه کې دښووني د کېفیت، دښوونکو دمهربانی په تیره بیا د خپل استاد وګرم او دهغه دورور ډاکتر وګرم د بېدریغه انسان پالنې نه ډیر خوښ و، تردی چې:« په ما کې د انسانیت، قام پرستۍ، وروری،

عزيزولی اووطن دوستی او دخدای دمخلوق خدمت کومه جذبه پيدا شوې ده په هغه کې زما ددې استاد وکرم ډير لاس دی.»(عبدالغفار خان...۲۸ مخ] او په بل ځای کې زياتوي چې:«زه په مشن سکول کې د هيډ ماسټر وګرم اود هغه د ورور ډاکټر وګرم نه ډير متا ثر شوی وم، دهغوی قربانيو را باندی ډير اثر کړی و، زما هم دا خيال پيدا شوی چې ددې قام او وطن خدمت مې کړای وای.»(عبدلغفار خان....۶۲ مخ)

د پاچا خان دا ارمان خو ځکه پوره شوی بولم چې د کام اود خدای مخلوق ته دخد مت اوږده، دزندانونو، ربړونو، ستونځو او کړاونونه ډکه لاريې په تدبير، حوصله، صداقت او پاک ايمان ووهله اود کام او د خدای مخلوق ته يې د خپلواکۍ ،وروری او برابرۍ لارد نور پر مختګ له پاره هواره کړه.

لا د مشن ليسی په لسم ټو لګی کې وچې سپين ږيري بارانی نومې نوکر يې په فوځ کې د خدمت له پاره وهڅاوه. بارانی کاکا به ويل چې:« د فوج ډيره ښه اودعزت نوکري ده.»( عبدالغفار خان...۶۲مخ] پاچاخان د بارانی کاکا په هڅونه فوځ ته غوښتنليک ولېږه چې د معمول غور نه وروسته ومنل شو، خو په فوځ کې يې ولېدل چې يوه انګريز دده ديوه دوست بې عزتی وکړه او دوست يې دهيڅ ډول غبرګون جرات ونه شو کړای، نو ورته ښکاره شوه چې په دې فوځ کې خو ځوک خپل پت او عزت سا تلی نشي او دخوشال خټک لمسی خو د بابا په دې پيغام سترګې پټولی نشي چې:

د ا يــوه ويـنــا د ز ړه پـــه غـــوږ و واری
چـــې بـــهـتره د اورنـــګ تـــرســلـطـنـت د ی

سردې درومي مال دې درومي پت دې نه ځي
د سـرې د چـارو کـل خــو بي پــه پـــت دی

په دې توګه خان عبدالغفارخان په انګريزي فوځ کې د نوکری نه تير شواو موريې هم په دې کې له ده « سره اتفاق و، دهغې د پرنګيانو نوکري نه خوښيده.»(عبدالغفار خان...۵۵مخ) دا پرېکړه کوم احساساتي عمل نه وبلکې په فوځ کې داستعماري ـ نژادي توپيراو بې عزتی په وړاندی سنجول شوی غبرګون او د عملي سياست په لورد فخرافغان لومړی ګام و. تردې پرېکړې وروسته ښيا د زده کړې په لټه کې شو. په ځينو ښارونواو مدرسو وګرځيده اوهغه يې ولېدل. په پای کې يې دعليګرد اسلامېه کا لج خوښ شو اوهلته يې زده کړه پيل کړه.

یوکال ووسته یې مشر ورور جبارخان چې، وروسته په ډاکترخان مشهورشواوپه لندن کې د طب په ښانګه کې په تحصل لګیا و، په یوه لیک کې دغفار خان نه وغوښتل چې د اینجنری په ښانګه کې دتحصل له پاره لند ن ته ورشي .پلار یې هم راضی شو او دتګ ټول ترتیبات یې ونیول، « خو چې مور مې لندن ته زما په تګ ځوښه نه وه نو ځکه مې دتلو اراده پرېښود له او فیصله مې وکړه چې نور سبقونه نه وایم او دقام او ملک خدمت کوم.» (عبدالغفار خان...۵۵مخ)

پاچا خان تر دې وخت پورې د زده کړو له پاره په ډیرو ښارونوګرځیدلی و، مدرسې یې لیدلې وې او د ډیروخلکو سره یې کتنې، خبرې او بحثونه کړي و، دپوهې کچه یې وچته شوی وه او تجروبې یې راټولې کړې وې. ده د سرحد او دهند دنوې و چې دلویوهیواد پالونکواودېنې پوهانو سره چې دخپلواکې له پار ه په مبارزه لګیا و هم اړیکې ټینګې کړې وې. دا نو دده په ټولنیز چاپیریال کې یو بد لون و چې پایلې یې په خپله داسې بیان کړې دي:« کله چې زما سوسایټی بد له شوه اود قام پرستو سره مې مخه شوه ماکې چې دقام پرستۍ کومه ماده وه هغه راویښه شوه. دا خبره خو ما په وړوکوالې کې په طالب العلمې کې محسوسه کړې وه، خود مخفی صاحب، مولوي عبدالعزیز صاحب او مهتمم صاحب په مجلسونو کې یې وده وکړه. خصوصاً دمخفی صاحب مجلس په ما ډیر اثر و.»( عبدالغفار خان....۷۱مخ) خان عبدالغفار خان په شل کلنۍ کې دهیواد پالونکو ملایانو سره دولس خد مت ته ملا وتړله او په دې ګډه مبارزه کې یې ډیر زر دخپل تدبیر، له ځان تیریدنی او صدا قت له مخې ددې پو ها نو پام ځانته راواړوه او د د وی تر منځ د لوړاعتبار، درښت اوګرانښت خا وند شو.

دوی د پښتنو بچیانو ته د مدرسو په جوړولو پیل وکړ، دښارونو، کلیواو بانډو په جوماتونو، دیرو او مېدانونو کې یې جلسې جوړولې تر څو چې ولس رابېدار کړي، د بدو رواجونو په بدو پایلو یې پوه کړي، پوهې او زده کړې ته یې وهڅوي، دکسبونو اوحرفو په ګټه یې وپوهوي، سیاسي شعوریې وچت کړي او د انګریزانو له غلامۍ نه د خپلواکې لار وروښیي. شریک هدف ته په ګډه مبارزه کې دمبارزو ملایانو سره دخان غفارخان ملګرتیا نوره هم ټینګه شوه، ځکه « د چاچې مقصد اونصب العین یو وي هغوی کې همېشه مینه وي، محبت وي، هغوی کې به درای اختلاف هم وي خو دا اختلا ف دهغې ډلې له پاره رحمت دی، دا نن چې تاسې په ډلو کې پرې وینی، تاسې تحقیق وکړی دهغوی مقصد او نصب العین یونه وي....ځکه چې دوی داکار دخدای اود خدای دمخلوق له پاره نه کوي، دخپل ذاتی غرض له پاره یې کوي، دنفس لارې ډیرې وي،

اودخدای لار یوه وي نو د خدای له پاره خدمت اوپرې جنبې دوه متضاد څیزونه دي.»(عبدالغفار خان...۶۷ـ۶۸مخونه)

د پروا و جنبو نه د پښتنورا ایستل، پوهي او زده کړې ته هڅول، سیاسي شعوريې لوړول، ورته مدرسي او ښوونځي جوړول، دا هغه څه وو چې انګریزان ترې ډاریدل، نوځکه یې دفخر افغان او د هغه دمخکښوملګرو زند انی کول پلانول، نورنوژوند دخدای مخلوق په خد مت کې یازندان و او یا دزندان نه بهر دمباریزې مېدان و. دایوه اوږده لړۍ وه چې نه شلید له او په دې لړۍ کې فخر افغان خان غفار خان ستړیا اوستومانې نه پیژند له. د افغانستان او ازادو قبایلو حالات یې هم ولېدل او وڅیړل. کله چې له دې سفرنه بېرته راستون شو نو په خپلو ټولو تجربو یې له سره غور وکړ اودې پایلې ته ورسیده چې.« انقلاب د منډې کار نه دی او داسې آسانه څیز نه دی، انقلاب دسړې سینې کار دی، انقلاب عمل او پوهه غواړي، انقلاب عالمان او پوهان غواړي چې دپوهې سره قام ورروزی او انقلاب ته یې اماده کړي....زه په دې نتیجې ورسیدم چې زموږ دقام نه دتجارت خوا ته توجه شته، نه زراعت خواته او نه تعلیم خواته. د بلې خوانه په رسمونواو رواجونو کې تر غوږو پورې ډوب دي. په خا نه جنګیو اخته دې. داسې قام انقلاب نه شي کولی. او دا قام له دې بلا ګانونه خلاصول په کار دی چې سیاسي شعور پکې پیدا شي، او دا کار یوه پر امنه فضا غواړي. تراوسه پورې زه په دې عقیده وم چې داټول کارونه انقلاب غواړي. تشدد راته دانقلاب نږدې او د کامیابۍ لنډه لار ښکاریده، خو دتجربې نه وروسته راته معلومه شوه چې دجنګ په وخت کې اسونه نه تیاریږی، نو ځکه مې اراده وکړه چې خپل کلي ته واپس کیږم او د عدم تشد د په بنا به کار کوم.»( عبدالغفار خان.......۱۶۸ـ۱۶۹مخونه )

د عدم تشدد یا بې تاوه پاڅون په فکري منځپانګه او بنسټ به د دی لیکنې په دوهمه برخه کې یو څه رڼا واچوو.

۲ ــ د عدم تشد د بشري منځپانګه:

پاچا خان په پښتنوکي د ناخوالیواود برتا نوي ښکېلاک په خلاف را پا څید چې په لومړي سر کې تشدد ورته دانقلاب نږدې او د کامیا بۍ لار ښکا ریده او دتجروبو نه وروسته و رته مالومه شوه چې د جنګ په وخت کې اسونه نه تیاریږی نو ځکه یې ارا ده وکړه چې خپل کلي ته راوګرځي او دعدم تشدد داصولو په بنا کارپیل کړي. دلته دپا چا خان په هد ف کې بدلون نه لیدل کیږي

خو هدف ته درسیدو لاریي د تشدد نه په عدم تشدد بدلیږي. ډاکټر ځیرکېار دا په عدم تشد د بنا شوي پا ښون« بې تاوه پاښون » بللی دی. ده تر همدې سریزې لاندې یوه درنه څیړنېزه رساله لیکلې ده او په هغې کې یې د « بې تاوه پاښون » موخې، ډولونه او دوخت او ځای دشرایطو سره برابرمېتودونه په زړه پورې تشریح کړي دي. که څوک دپاچاخان دژوند او اثارو سره لږ څه اشنا وي اود ډاکټر ځیرکېار لیکنه یې لوستلې وي نو حتما په دې پوهېږي چې بې تاوه پاښون یا عدم تشدد « تش خبری کول » یا « هیڅ نه کول » نه دي بلکې بې له « تشدده » نور هرڅه کول دي، دوینو په ځای دخولو تویول دي. تشدد خو په حقیقت کې یوازې ټوپک یا سو ټک ته لاس اچول دي، وژل، دوینو تویول، دجوړو ودانیو ورانول دي او د نورو اقتصادي، فرهنګي او ټولنیزو چارو

د پرمختګ زمېنه محدودول او یا بېخي له منځه وړل دی.پاچاخان لیکې چې« عدم تشدد یو طاقت دی، څرنګه چې تشدد یو طاقت دی.دعدم تشدد دغسی فوج دي لکه څنګه چې دتشدد دی، خو دعدم تشدد وسیله تبلېغ دی اود تشدد وسیله ټوپک دی، عدم تشدد په خلکو کې محبت پیدا کوي، همت پیداکوي او جرات پیداکوي او تشدد په خلکو کې نفرت پیداکوي، ویره پیدا کوي او بزدلي پیدا کوي.» (عبدالغفار خان.... ۳۶۱م)

عدم تشد د په حقیقت کې دپیچلوسیاسي ،ټولنیزو، روحی اوروزنېزو لانجوسره لاس او ګریوان کېدل او په دې لار کې دبې شمېره ستونځو او کړاوونو زغمل دي، ځکه چې دبې تاوه پاښون موخه د مخالف له منځه وړل، وژل، کمزوری کول اومغلوبول نه دي بلکې دشیطاني اوغیرانساني اوصافونه دانسان ازادول دي، دانسانیت سره دهغه پیوستول دي، دزورمغلوبول دي، په نیکې دبدې مخه نیول دي، دظلم، غلامی، کېنې او تعصب جرړې ایستل دی. دا نودغټو اوځواکمنو مټو، دټوپک یادسوټک ساده اوبې مانا کار نه دي، بلکې ژوره او هراړخیزه پوهه، زغم، مېنه، پوخ ایمان، زړه ورتیا، کلکه اراده، په ځان واکمني او بې پایه حوصله غواړي. دا ځکه چې دبې تاوه پاښون فکري لارلید په انسان کې د« نیکې» یا «ښیګڼې» ارثي ماده، بنسټ یا هسته وینی چې په ظالم او مجرم انسان کې هم له منځه نه ځي او په ځای پاتې کیږي. دا بنسټ په لازمه پوهه، زغم، حوصله، مېنه اومحبت او د ځانګړو مېتودونو د کارولو له مخې را بېداریږي، وده او پرمختګ کوي، ځواکمن او په « بدی » واکمن کیږي، په نفس باندی د کنترول جرات او وس پیداکوي او دفساد، ظلم او استبداد بنسټ ورانوي. په دې توګه مظلوم نه یوازې د ظالم نه بلکې ظالم هم د خپل ظلم او وحشت نه ازادوي

او انسان ته دانساني برابرۍ او ورورولۍ وچت مقام ورښیي. بې تاوه پا څون د زورزیاتي، ویرې، ستم او نفرت په ضد پاڅون دی، کوم نژاد، دین، مذهب اویا کومه بله عقیده نه بلکې زور زیاتی، ظلم، استبداداو کبنه په نښه کوي، بد کار د بد و کړنو،افکاروااوصافو دغلامۍ نه ازادوې او دانسانیت په هکله یې د همزه شینواری د دې تعریف سره اشنا کوي چې:

په یوطرف دمېن سرې دحسرت اوښکې واخله
په بل طرف ور سره تول کړه کوه قاف په تلـه

ا نســا یــت د شجا عت حیا سخا نـو م د ی
پام چې یې تول نه کړې دجنګ او د مصاف په تله

په تو لنیز ژوند کې د یوه انسان انساني ځانګړتیاووې لکه زړه ورتیا، مېنه، صداقت، سخااو انصاف د بل انسان سره په عملي خواخوږې کې سره یو ځای کېږي او د انسانیت لوړ مقام ترې جوړېږي. فخری افغان لیکي چې:« انسان چې انسان وي څومره همدرد وي او چې انسانیت ترې لاړ شي څومره بې رحمه شي.» ( عبدالغفار خان...۷۰۸م ] هو!همدردي او خواخوږي په انسان کې انسانیت ساتي، پالي او روزي او بې رحمي یې له انسانیته راګرځوي اود وحشت په لور یې هڅوي. پا چا خان په انسان کې دانسانیت دساتنې او پالنې تر ټولو ښه لار داسلام مبېن دین ګڼی چې پکې دخدای دمخلوق خدمت، دهغه سره انصاف، مینه اوعدالت دلوی پروردګار په دربارکې تر ټولو ښه عبادت دی. د اسلام پیغمبر حضرت محمد(ص) فرمایي چې:« له شرک وروسته تر ټولوناوړه ګناه داله بندګانو ځورول دی او تر ایمان وروسته تر ټولو لویه ښېګڼه داله مخلوق ته اسانتیا برابرول دی.»( عبدالها دی ملاخیل: خوږې خبرې، دانش کتابخانه،پېښاور،۱۰م )

حضرت عمر(ض) دخدای مخلوق سره په انساني چلند کې، په صداقت، خواخوږۍ، مینه او محبت کې داسلام په مبېن دین باندې دعقیدې عملي معیار وینی اوفر مایي چې:« د چا لمونځ او روژې ته نه بلکې دهغه ښومعاملو، انساني خواخوږۍ او رښتینولۍ ته ګورئ.»( عبدالهادی ملا خیل....۳۶م [ که ښه ګذاره، خواخوږي او رښتینولي نه وي نو عقیده باندې د زړه د تصدیق نښې او نښانې هم نه لیدل کېږي. په دې صورت کې د عقیدې نه وسیله جوړېږي او چې عقیده وسیلې ته را ټیټه شي نو په ریا بد لیږي، وحشت او منافقت ته لار خلاصیږي او

دتولنیز ژوند انساني بنسټ کمزوری شي اوبالاخره ورانیږي. له همدې امله خدايي خدمتګارود بې تاوه پاڅون خپله تګلاره داسې ټاکلې ده چې:« هر خدايي خد متګار به صابر وي او د زور او زیاتي مقا بله به په ښو خویونو کوي او په مینه او محبت به تیري کوونکی له بد کار نه اړوي.»
(د علومو اکا ډمي: دسولې او ازادۍ مشال، عدالت مطبعه ۱۳۸۸ لمریز کال ۱۳م)

د خدايي خدمتګارو دمنشور داپړوکي موږ ته دپښتو ژبې دشعر او اد ب په تاریخ کې دخو شال خټک دا څلوریزه را یا دوی چې:

ښــه ســړی د چا په بــد و نـظـر نــه کا
که څوک بدورسره کا ندی به ښه کا

پــه بـار دا ره ونـه تـل کا نـې و ریـږي
و رته ګــو ره چې بار داره ونه څـه کا

هرخدايي خدمتګار په خپله خوښه منلی وه چې په خپل ټولنیز، سیاسي او شخصي ژوند کې به د« بار دارې ونې » رول لوبوي او هیڅ به « د خپلې ژبې او لاس نه دخدای مخلوق ته ضرر» (د علومو اکاډ مې، ۱۳م) نه رسوي. خدايي خدمتګاري په عمل اونظر کې دهرډول بند یزاو توپیرنه لوړه وه، دهغې د نړۍ لید په منځ کې انسان و او دا نسان له پاره داسې جهان و چې له زور، تیري، ویرې، لوږې او بد ګما نۍ نه پاک او دسولې، سوکالۍ، ورورۍ، برابرۍ او مینې نه ډک وي. خان عبدالغفرخان لیکي چې:« موږ له په کار دي چې دخدای مخلوق دتکلیف او ارام فکر او خیال وساتواو څه چې کوو، نو چې اول یې په ځان وګورو، که چېرې ځان له یې خوښوو بیا په کار دی چې بل له یې هم خوښ کړواو که چیرې ځان له یې نه خوښوو، چې بل ورور له یې هم خوښ نه کړو.»(عبدالغفار خان، ۲۱۴ـ۲۱۵م) د خدای د مخلوق یه هکله دپاچاخان دا دریځ دپښتو د شعر او ادب مالیار رحمان بابا ددې غوښتنې سره سمون خوری چې:

دسړی په خاطرهرڅه هرڅه ګرځي
نــه چې و ګـنـې هـمــه واړه ر وا

لـکـه ځان هـسـی وبل وته نظر کړه
لکـه ستا دی هسـی ځان دی د هرچـا

پورتنۍ څرګندونې مو دې پایلې ته رسوي چې دبې تاوه پاڅون فلسفه دبشردفکري ودې په تاریخی لړۍ کې هغه فلسفه ده چې پکې خیال او ارمان دعقل اوفکر سره او دا ټول بیا دعمل سره یو ځای شوی دي اوټولې سیاسي هلې ځلې یې په اخلاقي بنسټ بنا شوی دي. دا په حقیقت کې هغه فلسفه ده چې که دانسانیت په تله وتلل شي نوتربل هرسیاسي او فلسفي مکتب نه درنه ده. د پاڅون بې تاوه کول « عدم تشدد » فخرافغان اوخدایي خد متګارو ته دا امکان په لاس ورکړچې دپښتني ټولنې بېلابېل اړخونه دبدلون او پرمختک په لور وخوځوي.

د دې لیکنې په دریمه برخه کې به د پاچاخان اوخدایي خدمتګارو هغه هلې ځلې وګورو چې دپښتنو بچپانود ښوونې او روزنې په برخه کې یې کړي دی.

## ۳ ـ د پښتنو بچپانو د ښوونې او روزنې له پاره مبارزه:

د پاچا خان او دخدایي خدمتګارود بې تاوه پاڅون موخه د خدای مخلوق یانې د ټول بشریت خدمت و چې سیاسي، ایتنیکي (نژادی) اومذهبي پولې یې نه پیژندلې. فخر افغان لیکي چې:« دا تحریک په دې غرض شروع شوی دی چې مظلوم د ظالم د ظلم نه خلاص کړي اوڅوک چې په دنیا کې ظلم کوي، که مسلمان دی، که هندو وي اوکه پیرنګی وي، دوی همېشه دهغه دمخالفت کولو له پاره تیار دي.» ( عبدالغفار خان...۴۳۶ ] یانې د اجمل خټک په قول:

چې نیشه داستبداد لري په سرکې ماته یودی که مغل دی که افغان

رښتیا دادی چې راجیو ګاندی دهندوستان فقید لومړي وزیرخان عبدالغفارخان سم پیژندلی دی چې«دعدم تشدد پیغام رسوونکي اودټول بشریت دازادۍ یو رښتینی عسکریې »( اتر چند....۱۵۷م ) یې بللی دی. خو پاچاخان په دې حقیقت هم تر ټولو ښه پوهېده چې دخدای په مخلوق کې د ده خپل کام د نورو پر تله د زیاتو رنځونو، ربړونو، ستونځواو محرومېتونو سره مخامخ واولاهم دی. د لته نه یوازې دانګریز وحشي ښکېلاک واکمن و بلکې لکه څنګه چې اتر چند د پاچاخان له خولې لیکلي دي: « په مور کې کورني کېنې، د سیسه جوړول، دښمنۍ، مضره دودونه، دعوې او شورش حاکم دي، پښتون چې هرڅه ترلاسه کړي دي، په مضره دودونواواعمالواوهمدا راز په شخړو یې له لاسه ورکړي دي....بله ستونځه دانتقام داخیستلو روحیه وه.»( اترچند....۲۴م ] مشهورانګریزي څیرونکی الفنستون هم انتقام، حسد، حرص او سرسختي د

پښتنوعیبونه ګڼلي دي خو له بل پلو یې دوی «د ازادۍ لیوال، خپلوملګرو ته وفادار، پرخپلو ترلاس لاندې مهربانه، مېلمه پالی، زړه ور او زخمتکش» (اټرچند....۸م) بللې دي. پاچا خان باوردرلود چې دپښتنو نیمګړتیاوې نه ددوی په خټه کې او نه یې د ټاټو بې په جیولوجیکې جوړښت کې نغښتې دي بلکې تاریخي ریښې او لاملونه لري او هغه دا چې چا په خپلو نیمګړتیاوو نه دي پوهولي، د دین او بدو رواجونو ترمنځ توپیرونه یې نه دي ورښودلي. په حقیقت کې دسمې دیني ،سیاسي او ټولنیزې ښوونې او لارښوونې نه بې برخې پاتې شوی دي. دی لیکې چې:« زما دابتدا نه داعقیده ده چې پښتون ډېر ښه قام دی، ډېرژراصلاح کېدای شي، په شرط ددې چې څوک یې پوه کړي. دا نن چې په داسې بد حا لت دی ددې وجه داده چې څوک یې غم نه خوري او نه یې پوهوي.»( عبدالغفار خان....۱۹۵م )

رښتیا دادی چې خان عبدالغفار خان په ډېر ځوان عمر کې په دې پوه شوی و چې همدا نه پوهول، نه پوهېدل، د پوهې اوسواد نه بې برخې پاتې کېدل د ربړونو، ستونځو، مصیبتونواومحرومېتونو تر ټولو لویه سر چېنه ده. په ډېرو کلیوکې دکوچنیانو دزده کړې له پاره حتی لومړنی ښوونځي هم نه وو او که کوم یو به چرته جوړ شوی و نو ملایانو به څوک نه ور پرېښود ل، نوځکه دپښتنو بچیان بې زده کړې او بې سواده لویېدل. د فخر افغان خپلواک او روښانه فکر، نرم زړه او کلکې ارادې د خپل ولس د ژوند دا بهیر زغملی نه شواولاس په زنه ورته کښیناستلی نه شو. په شل کلنی کې د بې سوادې او نا پوهې په ضد د مبارېزی عملي ډګر ته راپورته شو اود پښتنوبچیانو له پاره یې په ټول ملک کې د مدرسو په جوړولو لاس پورې کړ. لو مړۍ مدرسه یې په۱۹۱۰م کال کې د د مولوي صاحب عبدالعزیزپه ملتیا داتمانزوپه کلي کې جوړه اوپرانستله،« او دنورومدرسود جوړولو له پاره مو په نورو علاقو کې دوره شروع کړه دخلکو توجه مې دعلم طرف ته کړه اود پښتنو په زړونو کې مو دعلم دضرورت احساس پیداکړ،او دغه شان مو ورو وروپه مختلفوعلاقو کې د مدرسوجوړول شروع کړل او په لږ وخت کې موډېرې مدرسې جوړې کړې.»( عبدالغفارخان....۶۲ـ۶۳م ] پاچاخان یوځل بیا په تینګاروایې چې:« پښتون یوژوندی قام دی، دقومېت او قربانۍ ماده هم پکې شته، خوراویښول غواړي. قومونه خو تش په کف اوچف نه رابداریږي، د قومونود دژوندي کولو اوبېدارولو د پاره داسې کسان په کاردي چې بې غرضه وي، د یانتداروي او ایمانداروي او د خدای د پاره د خپل قوم خدمت ته تیار وي.» (عبدالغفارخان،.۶۳ )

د خدای له پاره د خپل کام خد متګارانو ته برتانوي استعمارچپانود سرسخت دښمن په سترګه کتل اود کړا وونو او وحشتونو نه ډ کوجیلخانوکې یې زندانې کول. په خپل هیواد ( بریټانیا ) کې یې ولسواکي وه، دپوهنیزواوتخنیکې لاسته راوړنو پرېمانی وه، خو په نورو ( مستعمره ) ملکونوکې یې بې کنتروله زورواکې چلوله او داهم ترديې چې د ماشومانود لیک او لوست د زده کړې مخه یې هم نیوله. انګریزان په دې پوه شوی ووچې د خان عبدالغفار خان خیال، فکر او اراده ترکنترول لاندې نشي راوستلی، دولس د تنویرولو اود ښوونځیو د جوړولو یې نشي منع کولې، نو په کورنۍ یې زور راوست. د صوبې چیف کمشنرسرهملټن ګرانت په خپله د پاچا خان د پلار نه په کلکه وغوښتل چې خپل زوی د مدرسود جوړولواود خلکو د بېدارولو نه منع کړي اود نورو په شان کرار کښني. پلاریې هم عبدالغفارخان ته وویل چې زویه هم ځان په مصیبت اخته کوي او هم سرکار خپه کوي. چې نور څوک یې نه کوي نوته یې څه کوي. ده په ځواب کې« ورته وویل چې ښه ده بابا چې ته وایې مه یې کوه، نه به یې کوم، ډیروخلکو خو لمونځونه هم پرېښي دي، زه به یې هم پرېږدم، خو ته به بیا ماته نه وایې چې لمونځ ولې نه کوي؟ بابا مې راته وویل چې لمونځ خو فرض دی. ما ووي بابا دا علم خو هم فرض دی. بابا وویل ښه نو څه کوه او بیا چیف کمشنر ته ورغی ورته یې وویل چې صاحب موږ ستاسې د خوشحالۍ له پاره خپل دین نشو پرېښود لی» (عبدالغفار خان، ۱۷۲م)

د ښوونځیواومدرسو په جوړولو او ساتلو کې د ترنګزو حاجی صاحب د پاچاخان سره ډیره مرسته کوله. ده په ډیو بندکې لوړې زده کړې سرته رسولې وې، لوی عالم، مشهورمبارزاوروحاني    شخصیت و. ټول عمر یې د برتانوي ښکېلاک په ضد دخپلوا کۍ له پاره مبارزه کې تیر کړ. مدرسې خو دولس په مټواومرستوجوړېدلی خودترنګزوحاجی صاحب په نامه یې ځکه یادولې چې له دې لارې یې ترېوې اندازې دملایانوخولې بندولې. خو دا مدرسې او ښوونځې په هیڅ صورت هم دانګریزانو تر سترګو نه پټید لی او پیرنګیانو د پښتنو بچېانو له پاره د زده کړې موسسې کله زغملې، نو دځینو ملایانو، مېاګانواونوابانو په ملاتړ یې بندولې، ورانولې اودهغوی استادان او مرستندویان یې جیلخانو ته اچول اوپه له انسا نیته لري جزاګانویې محکومول. پاچاخان اوملګرو یې دا ټولې ستونځې او کړاوونه زغمل، په ځان منل، خو له خپلې موخې نه راګرځیدل. دې بېتاوه پاڅون د پیرنګیانو له خوا ترل شوی مدرسې بېرته پرانستلې، ویرانې شوی یې بیر ته ابادولې اود ولس په بېدریغه مرسته یې نورې نوې نوې هم جوړولې.

د جوړوونکو او ورانوونکو تر منځ په دې سیالۍ کې زوراو وحشت د حق اوعدالت په مقابل کې پاتې راغی، ځکه چې پخواني وختونه تیروو، په پښتنوکې سیاسي شعور رابیدار شوی و اودا ولس د پوهې اوزده کړې په مانا او ارزښت پوهېدلی و، په خپلمنځي بد یو، تربګنیو اودښمنیو بري ته رسیدلی و، را پاڅیدلی و او په تش لاس، خو په سیاسي هوښیارۍ اوفو لادی اراده یې د خپلو بچیانو له پاره د پوهنی ډیوې بلولې اود زور په نیلی سپور، مکاراوتجربه کار استعماري امپراتور له دسیسواوفتنو یې ساتلې. اهرېمنی ځواک، دا دانګلیس شیطاني واک، دهغه دوزخي زندانونه،حتی ماشینګنی او غټ غټ توپونه دبې تاوه پاڅون دارادې په ماتولو او دمدرسو په له منځه وړلو کې پا تی راغی. خدايي خدمتګارود خپل ولس په ملتیا په ټوله صوبه کې دمد رسو یو جال جوړکړچې مرکزیې داتمانزو های سکول و. ځېرنوال عبدالرحیم بختیانی خدمتګارلیکي چې:« دا یو سکول نه و، دا یوه یو نیور سیټی وه، دې کې دیني، مذهبي، تاریخي او دنیاوي ټول علوم ښودل کېدل او هم پکې سیاسي شعور پیدا کېده»( دسولې او ازا دی مشال،۱۰۶م)

فخر افغان خان عبدالغفار خان د دې ښوونځیو مېو ه په خپل ژوند کې ولېده. سترسیاستوال، پوهان ادیبان او شاعران لکه ماستر عبدالکریم، خان غنی خان، عبدالروف قربان، خان ولې خان، اجمل خټک، سعادت خان اونورله دې تعلیمې مو سسیسو نه را ووتل اوځلانده مباریزېنو په توګه دازادۍ غوښتونکو په لیکو کې ودریدل. د پاملرنی ټکی خو دادی چې د دې مدرسواو ښوونځیو دجوړولو پلانونه په کومو وزارتونو یا دولتي قصرونو کې نه ترتیبېدل او مالي لګښتونه یې هم ددولتي بانکونو له خوا نه تمویل کېدل بلکې په حجرو، جوماتونو او حتی په جیلونو کې یې پلانونه جوړېدل او دانګریزي استعماري واکمنۍ دغوښتنې او ارادې په خلاف دولس په مټو او مالي مرستو په عمل کې پلي کېد ل. باید هیر نشي چې په دې مدرسو کې نه یوازې هلکانو بلکې جونو هم زده کړې پیل کړې. په دې توګه خدايي خدمتګارو دپښتني جو نو او مېر منو په ژوند کې هم نوی دوران پرانست چې ددې لیکنې په ځلورمه برخه کې به تر ځیرنې لاندې ونیول شي.

۴ـ پښتني ټولنه کې د مېرمنو د حیثیت او مقام د وچتولو له پاره مبارزه:

د پښتنو په کلتورکې د مېرمنو سره دوه ګونی چلند کیږي. په دې کلتورکې ښځه له یوې خوا ناموس دی چې ژوند اوعزت یې دسراومال په ایثارساتل کیږي

اوداساتنه « ننګ » هم بلل کيږي. که څوک د ناموس په ساتنه کې پا تې راشې اوسرياما‌ل دريغ کړي « بې ننګه » ګڼل کيږي او بې ننګي ډېره بې خونده سرتيټي ده چې دپښتنو په کلتورکې نه منل کيږي. ښځه دپښتنوپه ټولنيزژوند کې د مور، مېرمنې، خور اولورپه توګه بېل بېل رولونه لوبوي او بېل بېل مقامونه لري. دمورمقام تر ټولو لوړ دی. له بلې خوا، په ټوله کې، د ښځې مقام په دې پلاروا‌که ټولنه کې د سړي تر مقام ډېر ټيټ او د نارينه مقام دښځې ترمقام ډېر وچت ګڼل کيږي اوداهم تردی چې کله کله ښځې ته دانسان په سترګه هم نه کتل کيږي. که څه هم څه نا څه دری سوه پنځوس کاله وړاندی رحمان بابا راته ليکلي دي چې:

تـر نا پـاکــو نارينه ووده بهتره
پـاکدا منه پر هيــز ګاره ار تينه

د دېنداری ارتينی له يوي ګوښی
صد قه شه سل بې دينه نـارينه

خو بې سوادي او نا پوهي چې د پښتون ولس ترټولو خنځيراوملا ماتوونکی دښمن اودايمي مېلمه دی، دالهی احکامواودخپلوپوهانواوشاعرانو له ښوونوبې خبره ساتلی يواو د بدوراواجونو په لانجمن جال کې يې راګيرکړي يو. د دې رواجونو له مخې دخوراو لور په ودولو کې دهغې خوښې او رضاته په کتلوشرمېږو، خور او لورښوونځي ته نه پرېږدو، په دې کارهم شرمېږو، خو نه پوهېږو چې په دې عمل له فرضو منکريږو، نيغ نيغ کېږو، په دې وياړو چې د خپلې مېرمنې سره په يوه دسترخوان ډوډۍ خوړلو ته نه حاضريږو، خود کوچنۍ لوراويا خورپه سر پيسواخيستلو ته ښه خوشالېږو او په دې شرم سترګې پټوو چې خوراولورپه پيسو پلورو. رښتيا خبره دادی چې د پښتني تو لنی په ډېرو برخو کې لا تراوسه ښځې ته د خپلواک اود بنسټيزوانساني حقوقو نه برخمن انسان په توګه نه کتل کيږي. په دې نرخ او رواج کې دښځې پرتله دنارينه لوړتيا ديوه قانوني حکم په توګه منل شوې ده. د مېړ منو رواغوښتنې، ارادې، نظريې اومفکورې تر پښو لاندې کيږي، دا په حقيقت کې استعدادونه دي چې وژل کيږي او زمادا، په رواجونو کې ډوب ساده پښتون ورور، لا نه پوهېږي چې په دې سلوک يې خپل مټ کمزوری کيږي، دا ډوب شوی پښتون لا نوره هم ډوبيږی چې بې علمه او بې پوهې پاتې کيږي. فخرافغان خان غفارخان دخپل ولس د ټولنيز ژوند په منظره کې داستونځه له پامه نه وه غورځولې. د ده په عقيده کې

ښځه هم د نارينه په شان دخدا ی مخلوق دی، انسان دی اودنارينه په شان انساني حيثيت، مقام، استعداد اومنزلت لري، خو نارينه وو له خوا يې دا حق نه پيژندل کيږي او په ټېټه سترګه ورته کتل کيږي. دی ليکې چې: « زما سره د خپل قام دښځو ډيرقدراوعزت واو ډيره همدردي مې ورسره وه، ولې چې زموږ په قام کې هم لکه دنورو مشرقی قومونو په شان د ښځو قدر نه و، دوی به د سړونه کښته ګڼلی شوی.»( عبدالغفار خان....۷۵م ] د دې« ښکته ګڼل » کېدو په تاريخی بهيرکې دښځو سره هم د کمترۍ احساس پيدا شواو په خپل ځواک او حق يې باورله لاسه ورکړ اودښځو پر تله د نارينه وولوړتياپه حقيقت کې يوټولنيزارزښت وګرځيده. پاچاخان ددې احساس په پيدا کولو کې په ښځوهم تر يوي اندازې پړه اچوي او زياتوي چې:« تاسې ښځې په خپله هم ګرمې يې ځکه چې زوی ته په يوه نظرګوری او لورته په بل نظراود وړوکوالی نه دجنکو په مغزکې داخبره کينوی چې هلکان او نارينه خدای دجونو او ښځو نه بهتر او لوی پيدا کړي دي.» (عبدالغفار خان....۷۹-۷۸م،

د پاچاخان دسياسي اوټولنيزې مبارزې يوه موخه داوه چې د مېرمنود مغزنه دکمترۍ او د نارينه وو د مغز نه په مېرمنو باندې د لوړتيااحساس وباسی او د واړوجنسونوته د دوی ترمنځ دانساني او حقوقي برابرۍ اصل وروښيې. نوځکه يې ټينګارکاوه چې:« ښځه اونرد خدای په نزد يو شي دې» (عبدالغفار خان،.۷۸م)

هو، ښځه او نارينه دواړه انسانان دي، دواړه د يوه پرورد ګار بند ګان دي اودواړه يو تر بله د برابرو حقوقو خاوندان دي. جنس دا نساني شخصيت په جوړېدنه، وده اوټاکنه کې رول نه لري. د ښځې پرتله د نارينه د لوړتيا فکر« خودغرضه اوناپوهو سړيو پيداکړی دی » (عبدالغفار خان.....۷۸ م، دا فکر دېني اوعلمې ـ حقوقي بنسټ نه لري، بلکې د بدورواجونوداوږده ژوند په غيږکې روزل شوی دی. پښتانه بايد ځانونه له دې بدو رواجونونه ازادکړي او پوه شي چې دانسان ښه والی اوبدوالی « پستي اوبلندي په عمل دی، که د چاعمل پست وي، نروي او که ښځه، پکار دی چې پست وګڼل شي او که د چا عمل وچت وي، نر وي اوکه ښځه پکاردی چې په درنه سترګه ورته وکتل شي.» ( عبدال غفار خان...۷۵م) که چېری د مسلطو رواجونو او مطلقوارزښتونو په ځای دانسان عمل دهغه دشخصي وړتيا محک شي، نوښځې داامکان تر لاسه کوي، ترڅو وښيې چې دوی هم دنارينه وو په شان انساني ځواک او استعدادلري، په دې صورت کې يې په ځان د باوراحساس راژوندی کيږي او په کوراو ټولنه کې

يې مقام او حيثيت وچتيږی. د نارينه وو سره د مېرمنو انساني او حقوقي برابري د پاچاخان له پاره يوازې يوه اخلاقي اوحقوقي مو ضوع نه وه. دا چې ښځه د ټولنيز بدن نيمايې برخه ده او د ټولنيزوچارو په هيڅ برخه کې دهغوی په رول سترګې پټيدلی نشي نود ښځود فعالی ونډې نه په غيرد ژوند کاروان سم په لاره تللی نشي. پاچاخان وايي چې:« خدای خو نراوښځه د د نيا دابادولوله پاره دوه ملګري پيدا کړي دي » (عبدالغفارخان....۷۵م) دواړه د دنيا دابادولوګډاوبرابرمسولیت لري او دا په دې مانا چې دواړه د ټولنی په اقتصادي، علمي، کلتوري او سياسي چاروکې د برابرې ونډې داخستو حق اومکلفيت لري. ښځه او مېړه، خور او وروراوږه په اوږه او په ګډه خپل ملک او ټاټوبی ابادولی شي اود پرمختګ لوړې کچې ته يې رسولې شي يانی چې:« يوقام هغه وخت ترقي کولی شي چې دهغوی سره ښځې اوږه په اوږه....روانې شي.» (عبدالغفار....۴۲۵م) پاچاخان دښځې په هيواد پالنه، زوړورتيا او وښيارتيا کلک باورد رلود او په هيڅ هنرکې يې له نارينه وو کمې نه ګڼلی. د ده په فکرښځې دانګريزي ښکېلاک په ضد مبارزه کې ، د خپلواکۍ غوښتنې په جبهه کې په پوره تدبېرد خپلو وروڼو ترڅنګ دريدلی شي، که وروررننګيالی کيږي، هره خورهم ننګيالۍ اوملالۍ کېدلی شي. په تيره بيا دخدايي خدمتګارو په بې تاوه پاڅون کې چې دخپل ماهيت له مخې يو سوله ايزاو پرګنيز پاڅون دی ښځې اغيز ناک سياسي رول لوبولی شي او دولس خپلواکي غوښتونکي ِغورځنګ په نه ماتيد و نکي سنګربدلولی شي. نوځکه « دکوم قام چې ښځې بېدارې شي اودملک دازادۍ له پاره ملا وتړي، هغه قام څوک غلام ساتلی نشي اوهغه قومونه به ډيرزرمنزلته رسيږي.»(عبدالغفار خان، ۴۳۷م)

د پاچاخان داخبرې اودهغه نه ستو مانيدونکې هلې ځلې بې اغيزې او بې ځايه نه وې. پښتني خويندواومېرمنو دوخت په تيريدو سره متې راونغښتلی، د کورونونه را ووتلې او د خدايي خدمتګارو د جرګو اوجلسو سره يوځای شولې. پا چاخان دازادۍ غوښتنې په غور ځنګ کې د پښتني مېر منومبارزې له خپلې خاطرې نه دي ايستلې او په دې هکله يې ليکلي دي چې:« زه په دې ډيرخوشحاله شوم چې د هرکلي په جلسه کې به ډيرې ښځې شريکېد لې، ليکن دتنګي په جلسه کې مې چې دښځو زورولېده نوزړه مې باغ باغ شو.»(عبدالغفار خان....۴۲۵) دی دښځو بېداريدل او راپورته کېدل دقام وچتيدل بولې اوپښتنو مېرمنو ته په يوه وينا کې وايي چې:« تر کومه پورې چې تاسې ملا تړلې نه ده قام وچتيدای نشي.»

(عبدالغفار حان،.۵۳۵م) خان عبدالغفار خان په داسې وخت کې دښځو د بنسټیزو حقوقو له پاره مبارزه پیل کړې چې په پښتنو کې سړیوته د ښځوسره په یوه دستر خوان ډوډۍ خوړل شرم او عیب ښکاره کېده. د مېړه اومېرمنی، خور او وروراود لوراو زوی ترمنځ توپیر په دې قام کې منل شوی او دفولادو په شان کلک شوی رواج و او په ځنې سیمو کې لارواج پاتې شوی دی. د دې رواج دماتولو اود نارینه سره دښځې دحق او حیثیت دبرا برولو له پاره پاچا خان خپله مبارزه له همدی ځایه پیل کړه. دی لیکې چې:« له ټولو نه اول دا خبره ما محسوسه کړه او کله چې مېلما نه نه وود دوی سره به مې په یوه دسترخوان ډوډۍ خوړله، اول دارسم ما مات کړ او ورو ورو په ټولو خلکو کې د دې رواج اصلاح وشوه » ( عبدالغفار خان....۷۶م )

پاچا خان په دی باور وچې د خپلواکی، ابادۍ ،ټولنیزعدالت او برابرۍ تر ټولوډاډمنه لارزده کړه او پوهنه ده. په ټولنیز ژوند کې دجونو زده کړه دهلکانوترزده کړې لا لوړارزښت لري او دا هم ځکه چې مورنابغه دنیا ته نه راوړی بلکې روزي یې او نا بغه ترې جوړوي او داکار په پوهه سنبال مور ښه ترسره کول شئ او ټولنې ته یوه او ښه روزل شوی اولادونه وړاندې کولی شي، نوځکه یوه هلک ته ښوونه اودهغه پوهه د یوه تن زده کړه او پوهه ګڼل کیږي اود یوې جلۍ پوهې او زده کړې نه د یوې کورنی پوهه جوړېږي. په دې وخت کې په ښوونځیو کې د جونواوهلکانود زده کړې لار هواره او اسانه نه بلکې پیچلې اود خنډونونه ډکه وه. د پوهې او زده کړې په ارزښت څوک نه پوهیدل او کوچنیان له ښوونځیو لرې ساتل کېدل اوځنې ملایان خو د پوهنی او زده کړې په ضد « جهاد » کې هیڅ نه ستړي کېدل. پاچا خان وایې:« په هغه وخت کې هلکان چا تعلیم ته نه پرېښودل. دجونو تعلیم خو بالکل د کفر سره مترا د ف ګڼل کېده، ملایانو تعلیم ته څوک نه پرېښودل، زما یاددې ماچې لور سکول کې داخله کړه نورخو پرېږده چې خپله سخرګنی هم رانه خپه شوه، حالانکې داسکول د یوه خان په کور کې و، خاص د جینکو له پاره و یو قسم پراویټ (مخصوص) مدرسه وه دخا ن ټبر خپله درس ورکولو، اوس هم ډیرخانان خپلې لوڼه په سکول کې نه داخلوي. ملایانو دې ته نه کتل چې اسلام خو علم په نر او ښخو یو شان فرض کړی دی.»
(عبدالغفار خان.....۷۶ـ۷۷م)

فخرافغان دپوهې او زده کړې په دېنی او دنیاوي ارزښت ډیر ښه خبر و او په دې لار کې یې د پرتو خنډونو د له منځه وړلو له پاره نه ستو مانیدونکې هلې ځلې کولې اود خپل ولس پام یې دې ته را ګرځاوه چې نه یوازې نارینه بلکې « تر څو پورې چې ښځې نه وي روښانفکره شوی هیڅ ټولنه هم په ریښتنی توګه ترقي نه شي کولی.» ( اټرچند.....۷۸م ] ده ټینګارکاوه چې پښتنې جونه اومېرمنې به دنارینه وو سره دحق او حیثیت دبرابریدو په بهیرکې هم ملي لباس اغوندی، دپردیو کلتورونو لباسونه دپښتني مېرمنو دحیثیت او شخصیت په وده کې کوم رول نه لري، خوخپلې جامې مو خپل پښتني او اسلامي هویت ساتي او څرګندوي.

پاچاخان او خدایي خد متګارو خپل اخبار« پښتون » ته هم په کلکه سپارښتنه کړې وه چې د ښځو اود ښځو دحقوقو په هکله لیکنو ته ځانګړې پاملرنه وکړي. په دې توګه پښتني مېرمنود خپل هیواد په تاریخ کې د لومړي ځل له پاره دا امکان تر لاسه چې په خپل اخبار کې په خبله ژبه خپلې هیلی، غوښتنې او نظریې ټو لنې ته ورسوي او دژور نالیزم له لارې په ټولنیزاو کلتوري پر مختګ کې ونډه واخلی. د هیواد، خپل واکی او د زده کړې او پو هنی سره د ځوان نسل مینه هم ورځ په ورخ ډیرېد له « ماشومانو په کلو او باندو کې خپل تنظیم جوړ کړی و.جلسې او جلوسونه به یې کول یو کلي اوبل کلي ته به تلل اوزموږ جلسو اوجلوسونو کې به شریکېدل، جینکو هم سرې جامې جوړې کړې وې، نطمونه یې یاد کړي وو هغه به یې نورو ښځوته اورول، دپښتون رساله ( مجله ) یې په شوق لوستله، چې پښتون مجله به راغله نوجینکی به راجمع شوې، یوې جینی به لوستله او نورو به اوریدله، په دې ډول داخبار لوستلو شوق هم خدایي خدمتګارو پیداکړو.» (عبدالغفارخان،.۳۶۷)

په ییښتنی ټولنه کې د مېرمنی دحق اوحیثیت دراژوندی کولو په لار کې دپاچا خان او خدایي خدمتګارومباریزې او بریاوي دکار پای نه بلکې پیل او په دې لارکې ارزښتناک او تاریخی پرمختګ ګڼل کېږی. پښتني جونه او مېرمنی تراوسه پوري له ډیرو خدای ورکړو انساني حقوقو نه بې برخې پاتې دي. په دې لار کې دخدایي خدمتګارودخدمت تاریخی ارزښت په دې کې دی چې دوی دمطلقي پلارسالارۍ هغه څلور دیوالونه ونړول چې پښتني جونه اومېرمنی پکې بندی پاتې وي اوهغه یې دنارینه وو سره دحق او حیثیت دبرابری او په دې توګه دژوند دنوي پړاو په لور وهڅولې. ښځو په ټولنیزو،علمې ،کلتوري اوسیاسي

چارو لاس پورې کړاو ډېر نارينه هم په دې پوه شول چې پوهه مېړ من تر ناپوهې او سياله مېړ من تر غلامې مېرمنې کورنۍ اوټولنيزې چارې په زيات برې تري تر سره کولې شي دورور او مېړه شمله وچتولس شي او دژوند په ټولو برخو کې يې متې ځواکمنې کولې شي.

د فخر افغان په لار دا روان کاروان راوان دی ځي خپله لار وهی، له ټولو خنډونو سره سره نه ودرېږی، ملاله يوسفزۍ دوحشت له وژونکوګوابنونو کله ايرېږي، دکاروان دګډون کوونکو شمېر زياتيږي، په ټولنه او کورنۍ کې دمېرمنې مقام اوحيثيت ورځ تر بله پيژندل کيږي.داسې ښکاري چې دخدای له فرضو منکر ړيرورهم نورد دې منزل مخه نيولی نشي او خدای ورکړی حق يې نور دپخوا په شان تر پښو لاندې کولی نشي. د ښځودحق او حيثيت دراژوندي کولو سره جوخت فخر افغان او خدايي خدمتګارو زموږمورنۍ ژبه « پښتو » هم دمرګ له زندۍ ازاده کړه او دهغې غنا اوښکلا په لار کې يې نه هيريدونکې خدمتونه کړي دي چې د دې ليکنې په راتلونکې« پنځمه » برخه کې به وڅيړل شي.

### ۵ ـ د مرګ له زندی د پښتو ژبې ازادول:

ژبه دهر کام ياملت دځپلمنځي پوهاوي ـ راپوهاوي او په ټوله کې دپو هيدنې تر ټولو مهمه اواغيزناکه لار ده. انسان دژبې په واسطه او دهغې له لارې پيچلې موضوګانې پوهولی شي او په پيچلو موضوګانو پوهېدلی شي. هره ژبه زده کړه غواړي او زده کړه بېا هلې ځلې غواړي. هغه ژبه چې زده کړه يې ډېره اسانه ده او ډېروتنظيم شووهلوځلو ته اړتيا نه لري مورنۍ ژبه ده.د مورنۍ ژبې زده کړه چې ډېرځله خپله ژبه يا کورنۍ ژبه هم ګڼل کيږي دمور په غيږ کې پيل کيږي اود کوچني د لو ئيد وسره سمه پراخيږي او ژوريږي، لکه څنګه چې دمورنۍ ژبې زده کړه اسانه ده په همدې توګه په مورنۍ ژبه زده کړه هم اسانه ده. که د زده کوونکي، ښوونکي اود زده کړې دمتن ژبه يوه وي نو په متن يا موضوع باندې پوهاوی ـ راپوهاوی هم اسان او روان وي. که د زده کوونکي ژبه يوه وي، دمتن يا ښوونکې او يا د دواړو ژبه بله وي نو پوهاوی ـ راپوهاوی هم د وه او يا درې ځله ستونځمن کيږي. د دې ليکنې په لومړۍ برخه کې مو په ګوته کړه چې دپا چاخان دکوچنيتوب او ځوانې په دوره کې په ټول لراوبر افغان کې پښتو نه دمدرسې اونه د دربار ژبه وه او نه د دفتر اويا داخبار ژبه وه. دا ژبه هلته اود لته د مرګ په تلک کې بنده وه، دساه ايستلو امکان يې نه درلود،

پښتواوورسره سم د پښتون هو یت د پنا کېدو په لور روان وو. تراوسه پورې موږه ملیونو ماشومان په مورنۍ ژبه زده کړې نه بې برخې دی. فخرافغان، چې په خپل ماشومتوب کې له دې ستونځې سره مخامخ و، لیکي چې: «ماته د پیښورد سکول نه دخپل کلي سکول ښه و، ځکه د تعلیم ذریعه خوپه دواړوکې اوردو وه، خو په اتمانزوکې به استاد پښتون و، موږ به یې په پښتو ژبه پوهولی شو، او په پیښورکې د سکول استاد د پنجاب و، هغه له پښتو نه ورتله او یو شیږ کلن اوه کلن ماشوم ته دا ډیره گرانه شي چې په یو وخت هم پردۍ ژبه زده کړي او هم په هغه ژبه علم زده کړي.»( عبدالغفار خان....۲۱م ] په دې توگه فخر افغان ته د ژوند تجروبې ورښودلې وه: « چې بې دخپلې مورنی ژبې تعلیم نشي حاصلیدی او که حاصلیدی هم شي نو هغه د نه تعلیم برابر دی. ځکه نو خپل ازاد سکولونه یې پرانستل او په وړومبې ځل یې په خپله مورنۍ ژبه کې پښتنو له تعلیم ورکول شروع کړل.»
(مشتاق مجروح یوسفزی: پاچاخان اود پښتو صحا فت، دعلومو اکادمي،۱۲۴م)

خپله ژبه نه یوازې د زده کړې او پوهېدنې لار اسانوي بلکې د ټولنیز ژوند د ښېلا ښېلو برخو په پر مختګ کې هم اغیز ناک رول لوبوي. د پښتنوله تاریخه هم دا تریخ حقیقت را ښکاره کیږي چې ځوک خپله ژبه نه پالي د تمدن او پر مختګ له کار وان نه وروسته پاتې کیږي. خان عبدالغفارخان کا ږی چې:« په جیلونو کې ما د خپل قام په حالاتو باندې په ښه شان سره غورکړی و، زه په دې نتیجې ورسیدم چې په دنیا کې هیڅ قام بغیر دخپلې ژبې ترقي نشي کولی او په هغوی کې علوم او فنون پیدا کېدای نشي.»( عبدالغفار خان....۳۳۲ـ۳۳۳م) نو ځکه « دهرې ژبې ویونکو خپلې ژبې ته ترقي ورکړې، پښتنو چې خپلې ژبې ته ترقي نه ده ورکړې، دې کې دپښتو څه گناه ده.»( عبدالغفار خان....۲۸م) هو، په دې کې دپښتو گناه نشته او په دې کې دبل چا گناه هم نشته. دا په حقیقت کې دهغو پښتنو گناه ده چې ددې ملت په متود ټولواکې، صدارت او وزارت مقامونو ته رسید لي اویا یې په علومو او فنونو کې درجې تر لاسه کړي دي، خو خپل کلتور او ژبې ته یې شا کړې ده او د خپل ولس پر مخ یې د پوهې او پر مختګ لاره تړلې ده، په رښتیا چې دخپل ملت سره یې بې مثله جفا کړې ده او لا لګیادي کوي یې. پاچاخان په ۱۹۲۰م کال کې د خلافت د نوروممهاجروسره کابل ته لاړاو دغازی امان اله خان سره یې وکتل. په دې کتنه کې یې امان اله خان ته ور په ډاګه کړه چې: « تاله ترکې درځي، فارسي درځي او نورې ژبې هم درځي، خو خپله ژبه نه درځي.»( عبدالغفار خان....۱۷۰م) په رښتیا چې د لویو شخصیتونو

لوی والی او زړورتیا په دې کې دی چې له نیوکې نه ډارېږي، غوږ ورته نیسي،غور پرې کوي، د نیوکې په مرسته خپلې تیر وتنې او نیمګړتیاوې لټوي، نه یې پټوي، خوشې اوتشې وعدې او بهانې نه کوي، د تیروتنې درغونې او د نیمګړتیا د له منځه وړنې لارې چارې سنجوي اوپه عمل لاس پورې کوي.
غازی امان اله خان همدغسې لوي شخصیت و. ده د پاچا خان یادونه په غور واوریده، په ارزښت او اهمیت یې زرپوه شو، اراده یې وکړه چې خپله ژبه به زده کوي او زده یې هم کړه.
ژبه نه یوازې د یوه ولس د علمي، فني او کلتوري پر مختګ اړینه لار ده بلکې دملي یوالې، دملي هویت دساتنې او په نړۍ کې دملت داعتبارد وچتولو ضروري بنسټ هم دی، نو ځکه فخر افغان د مرګ نه دخپلې ژبې دساتنې او دهغې د پرمختګ په هیله د پښتون ملت په تاریخ کې دلومړي ځل له پاره د « پښتون » اخبار په خپرولو لاس پورې کړاولیکي چې:« ما دا اراده کړې وه چې ضرور به یوه رساله په پښتو کې دخپل قام دپوهولو، د دنیا د حالاتو نه خبرولو او خپلې ژبې ته دمایل کولو ( مخ کولو ) د پاره جاري کوم.......او په ۱۹۲۸ع کال کې مې د « پښتون » په نوم یوه رساله په پښتو ژبه داتمانزونه جاري کړه.»( عبدالغفارخان.....۳۳۳م )

باید هیر نشي چې په پښتو ژبه لومړۍ رساله دازاد افغانستان پلازمېنه کابل اویا کوم بل ښارکې نه بلکې د محکومې سرحدي صوبې داتمانزو په کلي کې جاری شوه چې اوسیدونکي یې دخپلواکۍ دګټلو له پاره دنړۍ تر ټولو لویې او مکاری امپراطورۍ سره لاس او ګریوان وو. د « پښتون » دمالي لګښت سرچېنه کومه دولتي خزانه او یا موسسه نه وه، پاچاخان یې پلان په زندان کې جوړکړی واو مالي لګښت یې هم په ځان منلی و. ده د پښتون د خپرولو له لارې په ډاګه کړه چې پښتون دترقۍ او پر مختګ سره ذاتی دښمنی نه درلوده او نه یې لري، ولس او ملک یې په خپله ژبه د لیک اولوست تږی وو، دا ولس دزړه سواندې سیاسي لار ښوونې نه بې برخې و اولابې برخې پاتې دی. د« پښتون » سره د پښتنو دمینې اوپه پښتنود دې اخبارداغیزو په هکله پاچاخان لیکي چې:« دې رسالې دپښتنو په نرو او ښځو کې یوه نوې زند ګي پیداکړه او دا رساله په پښتنو کې ډیره دلعزیزه شوه. دا خپل ملک خو پرېږده پښتانه چې یوروپ، امریکه او استرلیا کې له دې نه خبرشونوهغوی به غوښته اوامداد به یې هم ورسره کاوه. د پښتنو یې دپښتو طرف ته شوق پیداکړاو په افغانستان کې هم ښه لوستل کېده. عبدالهادی خان داوي ماته کېسه کوله چې« پښتون » اخبار به کابل ته راغی په

قومېت (ملیت) چې به کوم مضمونونه لیکل شوی وو هغه به یې موږ لوستل او دافغانستان په خلکو کې هم پښتو طرف ته رعبت زیات شو او په امان الله خان خو یې دومره اثر وشو چې هغه اعلان وکړو چې خلکو ته په کار دی چې پښتو ژبه زده کړي، درې کاله پس به په دې ملک کې پښتو تعلیمي او سرکاري ژبه وي او عبدالهادی خان دا هم راته ووي چې موږ هم دیوي رسالی بنا وکړه او دهغې نوم مو هم پښتون کښیښود.» (عبدالغفار خان.....۳۳۴م) یا نې کله چې په اتمانزو کې دپښتو دژوند دیوې بلې شوې، رڼا یې کابل ته هم ورسیده.

باچاخان که له یوې خوا هڅه کوله چې پښتو فنی او پوهنیزه ژبه شي اوله دې لارې، د پښتون ولس او پوهې اوفن ترمنځ پروت خندۍ له منځه ورک شي، له بلې خوا یې دې ته هم پام و چې شعر او ادب دژبې په ښکلا او جذابیت او په همدې توګه دفکرونو په روښانولواود ولس په را بېدارولو کې اغیزناک رول لوبولی شي. له همدی امله یې دخپلې ژبې دشعري او اد بي اړخ دځواکمني له پاره د انجمن اصلاح الا فاغنه له لارې د مشاعرواوډرامو په جوړولولاس پورې کړچې په زړه پورې پایلې یې در لودې. باچاخان کاږي چې:« زموږ انجمن دپښتو دترقی له پاره او دشاعرانودخیالاتودبد لولو له پاره دمشاعرواتنظام وکړاو دښوښو نظمونو او بېتونو له پاره یې انعامونه مقرر کړل او په کال کې یوځل چې د مدرسې کالیزه جلسه به کېده ورسره د مشاعری له پاره به هم انتظام کېده. د دې په وجه په پښتنوشاعرانوکې یوعظیم الشان انقلاب راغی اود خال او خط په ځای داتفاق، وروری او قومي ترقي دور شروع شو. په قام او ملک کې یې دانقلاب له پاره یوه جذبه پیداکړه او په ښځو او نرو کې یې داسې جوش پیداکړ چې دجلسی په ورځ به دجلسی په ځای کې ځای موندل ګران و، اود ملک دهرې علاقی او تپې خلک که خان که غریب و دانجمن په جلسه کې یې شرکت خپل فرض ګڼلو.»

(عبدالغفارخان......۳۳۵م)

دوخت په تیریدو سره دا ډول مشاعرې دننی پښتونخوا کلیو ته هم وغزیدی. د پاچا خان اود ده دملګرو په قربانیواوهلوځلوزموږ مورنۍ ژبه پښتود کوما حالت نه راووتله، ساه پکې پیدا شوه، راپورته شوه او په پښو ودریدله. وروورو وخوځیده او د دوزخه راووتله، په نوي شعر او ادب یې ځان سنګارکړاو د جنت یانی دولس دراویښولو اوسره یوکولو په لور روانه شوه. په پښتو کې نوي شعراو په پښتون کې نوي روح را څرګند شو او پوه شو چې دملک او ملت سره مینه

او محبت وچت انساني صفت او په دې محبت کې صداقت د زړه طاقت دی. نا هیلی مخ په ځوال شوه، هیلی او ارمانونه را وپاریدل او په ځان باور پیداشو. پښتون ولس ویښ شو، را بېدار شو او کله چې حمزه دغزل پلار شو، نوهوډ یې وکړ چې:

تـل بـه پـه لار د مـیړنـوسـره ځـم
یــمــه پښــتون د پښتـنـو ســره ځـم

وايي اغــیـار چې د د وزخ ژبـه ده
زه بــه جــنـت تـه د پښتو ســره ځـم

څو راغونډ په یوه مرکزیي نه کړم
هرې تـپـې تــه دجــرګــوســره ځــم

حــمــزه ســفـر که دحجاز وي نوهـم
زه د پښــتون د قــافـلــو ســره ځــم

داښه شوه چې حمزه شینواری د پښتو سره اود پښتون د قافلو سره جنت ته دتګ هوډکړی دی، ځکه خان غنی خان چې دپښتون اوپښتو په مېنه او محبت کې یې د لیونتوب لوړ نښان ګټلی دی، په جنت کې د پاتې کېډ و له پاره دا شرط وړاندی کړي دی:

چې خړمخی وروړپښتون سینی له درشي
درنه هیربه ټول ښایست د بحراو بر شي

خدایه شــکرچې پیدا دی له دې قام کړم
د پښــتون د نروجود دی یـو انــدام کړم

ښــه بـه کــړمـه د لـنـد ن لـوي محـلونه
د پـیر یـس جـو نی ښایسته رومـي ګلونه

پــه و الله چـی د جـنـتـه بـه شـم سـتو ن
کــه کنځـل پــکې وا نــه ورم د پـښـتون

په کابل چې دغازی امان الله خان سره پښتو ژبې ته دخدمت په هکله کوم نوی فکر پیدا شو، ځکه عملي نشو چې انګریزي دسیسو دغازیانو هیواد دغلو او داړه مارانو په لاس ورکړاو دخپلواکۍ ځای غلواکۍ ونیو. مسلکې غلوزده کړه، ښوونه اوکلتورد دولتي فعالیتونو له اجنډا څخه وایستل او په ځای یې لوټماری اوداړه ماری ته د لومړیتوب حق ورکړ. دغلواکۍ نه په راوروسته دولتي دستګاکي وزیر محمدګل خان مومند هغه سیاسي او دولتي شخصیت وچې پښتوژبې ته دپاملرنې په برخه کې څه ناڅه د فخرافغان خان عبدالغفارخان په لار روان شو، مومند دخپلې مورنۍ اودهیواد داکثریت ژبې په وړاندی پخپل مسولیت پوهېده او هغې ته په خدمت کې یې هیڅ دریغ نه کړل. ده په پښتوژبه د پښتواوپښتونولۍ په هکله پوهنیزې څېړنې اولیکنی کړي دي. په ۱۹۳۶ع کال کې یې « د پښتو ادبي انجمن » جوړکړاود« طلوع افغان » اخبار یې په پښتو کړ. د پښتو ادبي انجمن نه بیا « دپښتو ټولنه » جوړه شوه. په حالاتوکې دغه بدلون د وخت صدراعظم سردار محمد هاشم خان وهڅاوه چې په ۱۹۳۶ع کال کې پښتوژبه هم د هیواد درسمي ژبې په توګه اعلان کړي او دا هم په داسې حال کې چې محمد هاشم خان اود کورنۍ ټول غړي یې نه په پښتو پوهیدل او نه یې زده کړه. لوی پر وردګار پر موږ دومره فضل کړی و چې ټول پښتانه نه وو بې پښتو شوی. وتلواوغښتلو پوهانو،ادیبانواو شاعرانولکه عبدالروف بېنوا، عبدالحی حبیبي، ګل پاچا الفت، عبدالشکور رشاد، قیام الدین خادم اونوروپښتو ژبې خدمت ته ملا وتړله اودهغې دتاریخ اوادب په هکله یې کره اوژورې څېړنې او لیکنې ترسره کړې. پښتو ژبه د دې زمانې د پوهانو او ادیبانو دکار اوزیار په برکت د نور کمال او جمال په لور وخوځېده، اخبارونو، راډیوګانواو کتابونو ته یې لار پیدا کړه او په دې توګه دخپلې ژبې سره دپښتنو مینه مخ په زیاتید وشوه. په اتمانزو کې د پیل شوی ویښتوب وړانګې کابل ته هم راورسیدې او دهیواد نورو برخو ته یې ریښې وغزولې. د ټولوګډوډیواوځورونکو ستونځوسره سره د خپلې مورنۍ ژبې سره دپښتنو مینه ورځ په ورځ زیاتیږی او په ژوند کې دهغې په ار زښت اواهمیت پوهیږي، دځوانو لیکوالانو، شاعرانو او ادیبانوشمېرکال په کال ډیریږي او په دې هم پوهیږي چې په ارګ او نورو دولتي اداروکې د پښتو سره تراوسه پورې جاهلانه توپیري چلند کیږي. د دی ستونځو عاملان د پخوا په شان د ټولود مخه هغه پښتانه سیاستوال دي چې پخپله ژبه نه یوازې نه پوهیږي بلکې په وړاندې یې ګیډی هم له عقدو ډکې دي او ځنی که په پښتوغږید لی هم شي خودپښتو سره نه بلکې په هغې باندې د تجارت له لارې لوړسیاسي مقام ته رسیږي او کله چې مقام ترلاسه کړي نو بیا یې د واک په

چاپیریال کې نه په پښتوځه لیکل کیږي او نه په جلسو، کنفرانسونو اومرکو کې په پښتو غږیږی. له کاره لویدلي وجدانونه، بې فکره اوبې روحه جسدونه په دې کله پوهیږي چې پښتو سپکا وی یې د خپل ولس په حق تیری دی. څوک چې په دې لاره ځي، هیروي، چې نورنو په لوی لاس ځان د ولس له لیکو ګوښی کوي او څوک چې په خپل ولس کې اعتبار له لاسه ورکړي یا یې سیاسي ژوند پای ته رسیږي او یا پلورل شوی ګوډاګي ترې جوړیږي. په دې ډول نه یوازې دځپل ولس بلکې له ځان سره هم جفا کوي او خپل تاریخ تباکوي. پښتني پیغلی اوزلمیان بیدار شوی او بیداریږی او دحمزه شینواری ددې پوښتنې په رازهم پوهیږي چې:

په خوله خوواړه پښتانه دي ښه دی
وایه چې څومره دی له زړه پښتانه

چې پښتنه پښتو یې هیره کړله
د داو له یاده وواته پښتانه

کله چې د حمزه شینواری او دخپلې ژبې نورو شاعرانو او ادیبانو ته ګورم نو د ډاکتر خالد خټک دا نظر تاییدوم چې پاچا خان « په پښتنو کې دا احساس راژوندی کړ چې پښتون قوم د دغی سیمې یو مهم قوم دی اود اقتدار په تقسیم کې دا قوم نظر انداز کیدای نشي »(خالدخان خټک: پاچاخان د تیر زرکلن دور یو لوي شخصیت، دعلومواکاډمي،.۲۵م) په ځان د پښتون ولس را پیدا شوی باور او د پښتو په هکله دهغه راژوند ی شوی احساس بیا هم حمزه شینواري دغزل په ژبه داسې بیان کړي دی:

پټې داشنا سره یو څوخبر ی کړم
و یره د افشا د ه په لیمو خبری کړم

زه دزمانی سره په روغه راضی نه یم
وي دی که دا زه دلیونو خبری کړم

پوه که پرې زماهندواشنا وي او که نه وي
زه خو به هغه ته په پښتو خبری کړم

هو،په پښتو خبرې کول او په پښتو لیکل دنورو ژبو د ویونکو په شان د پښتون انساني حق او ملی مکلفیت دی. په دې کې دپښتو ژبې او پښتون داسې ګټه ده چې بل چاته تاوان نه رسوي، دا داسې یو بری دی چې په چا تیری نه دی، نورو

ته تاوان رسول اویا په چا تیری کول د سالم او سرلوړي انسان کار نه دی او دا لارد فخر افغان خان غفار خان لار نه ده. پاچاخان د خپل ولس په اقتصادي ژوند کې هم بنسټیز بدلون راوست چې په راتلوکې برخه کې به ورسره اشنا شو.

## ۶ـ د پښتنو په اقتصادي ژوند کې بنسټیز اوښتون:

د ټولو وروسته پاتې ټولنو په څیرپه پښتني ټولنه کې هم څمکه اومالداري « داقتصاد لومړی سیکټور» اویو څه لاسی صنعت « داقتصاد دوهم سیکټور» دکورنیو عایداتو سرچینې وي. په دواړو برخو کې هرڅه پخپل پخواني شکل، کمیت اوکیفیت، تکراریدل، په اوښتون، بدلون او پرمختګ څوک نه پوهېدل. د ناپوهۍ او بې کسبۍ ترڅنګ دلته هم غلطورواجونواو وروسته پاتې ذهنیتونو دپښتنو اقتصادي ژوند مړاوی اودومره بې خونده کړی چې د خلکوډیره زیاته برخه یې په بېرحمې څورولە. هرڅه مخ په ځوړند ول، دثبات او پرمختګ نښی اونښاني نه لیدل کېدې. بې وزلي اوبې وسي ورځ په ورځ زیاتیدله. ډیرې کورنۍ دخپلې ګټې اولګښت ترمنځ داندول په فکر کې نه وې. په غلطو رواجونو او وروسته پاتې ذهنیتونوکې بېځایه لګښتونو اوخرڅونو لوړمقام درلود اود سیالیو ډګر ګرځیدلی و چې په ښادیو اوغمونو کې، په مړواو ودونوکې بېخي له کنترولە وتلی او د بې فکره سیالانو له پاره یې ترخې پایلې درلودلې.

په وادونو کې د جلی ولورد زوم له پاره د یوه درانده اقتصادي پیټې جوړول و او ورپسی بې شمېره مېلمنو ته ډوډۍ ورکول و. سربېره پر دې « ډم به ښادۍ والاووته آینه ښودله پیسی به یې ټولولې، چابه ګلان ورکول اوپیسی به یې ټولولې، بلخواته به باټ په غوګونوکې ګوتی اینی وي مدح به یې ویله، چابه سپینلي لوګی کول روپی به یې اخیستی، که چابه خوښه وه او که نه خو دشرمه به یې غږ اوغوږ نه کاوه اوروپی به یې ورکولې، لنډه چې یو لوټ به و، ملا صاحب هم بې پیسو نکاح نه تړله.»( عبالغفارخان....۴۷م)

د ښادۍ شپې ورځې به د سیالۍ په نیشه کې دلوټ شپې ورځې شوې او پایله به یې نوره غریبي، نور پوروونه اولا زیاته بې وزلي شوه. دا خو دښادیومراسم و چې غمونه یې زیږول او بل خوا د مړي اوغم مراسم هم د رواج سره سم ترسره کېدل اوکورنۍ په اقتصادي ژوند یې کلک کلک ګوزارونه کول. لومړی کوزار یې سخات دی « د سخات نه وروسته به بیا نور خیراتونه شروع شول. هرماښام به د مړي په ارواح خیرات کېده، تر جمعې پورې به هره جمعه خیرات کېده تر

څلویښتو ورځو پورې، په څلوښتمه ورځ به بیا لوی خیرات وشو او بیا ورپسی د کال خیرات دی. په دغه طریقه زموږ دقام په کال په لکونو روپی خرڅیدلی.»( عبدالغفارخان..... ۴۲۰م ] او بیانو دارنګه بد خرڅی ته اسلامي رنګ ورکول په حقیقت کې په اسلام ملنډې وهل دي، په دین او دنیا غرقیدل دی.

په دې ډ ول به په لاس کې شته شتمني خلاصیدلې، بیا به یې په سود پیسې پورکولې او د تربور سره  یې په دې شان سیالیو کې خرڅولې، له دې لارې ډیرې کورنۍ دسودخورو په جال کې پرېوتلې او بیا نو په نسلونو ترې نه خلاصیدلې. تاریخ یوه علی خان محســود چې دژوند یوه برخه یې د پاچاخان سره تیره کړیده لیکي چې.« پاچاخان ډیر داسې پښتانه لیدل او ډیرې کېسی یې هم اوریدلی دی چې دفضول لګښت له امله تبا او ورک شوی و، مزدورۍ پسی به کلکتی اوبمبیی ته لاړل. چونکه د دوی به څه کسب زده نه و نویابه پنډی شواو یابه دهندوانود دکانونو او کورونو څوکېدار شو. پخوانی پښتون خان یا ملک به د فضول خرڅی له امله څوکېداراودهندوانو ماشومان به یې قلارول. دغه فضول خرڅی او دتر بور سره دبې ځایه او غیرې ضروري سیالی برکت و چې دوی خوبه ورک اوتبا شول او اولادونه او کورنۍ یې هم درویزو ته مجبورشول.»(علی خان محسود: دپا چاخان دفضول خر څی په ضد هلی ځلی، پښتونخوا ویپاڼه ۱۶۰۹۰۲۳م)

هو، بې ځایه سیالۍ، خرڅونه اولګښتونه د کورنیوداقتصاد په ملا تیر وژونکي ګوزارونه ووچې نه یوازې په یوه نسل نه محدودېدل بلکې زامنو اولمسیو ته یې هم ریښې غزولې. په پورونو کې ډوبې شوی کورنۍ په کلونوکلونود پورونواود سود خورود سودونو نه نه خلاصیدلې او ژوند یې دغریبې او بې وزلۍ نه دغلامې کچې ته راټیټیده.

په اقتصادي وروسته پا تې کېدوکې د ځنې ملایانو، پیرانو، مپاګانواو دهغوی د مریدانواوشیخانوهم لو ی لاس و. د وی کار، کسب او فن ته په بده سترګه کتل، ژوند یې دخیراتونو، سخاتونو، ذ کاتون، صدقواولنګرونوله لارې بسیا کېده. دښوونځیو، مدرسو، پوهنې او زده کړې په ضد یې جهاد اعلان کړی و. پاچاخان وایې چې اسلام خوعلوم په نراو ښځه فرض کړي دي اودا یې هم ویلې دي چې:« په علم پسې ان تر چینه لاړ شی. چین کې خو منیه ،خلاصه او دعربې علم نه و، داسلام خو دعلم د حاصلولو غرض و.....د وی (ملایانو) دا فکر کاوه

که په پښتنو کې علم او پوهه راشي زموږ دکان به سوړ شي.....موږ به ملایانو ته ډیره تسلي ورکوله چې که داقام ترقي وکړي تاسې به هم ترقي وکړی، خو دهغوی په دماغ کې دا نه راتله چې کوندی پښتون قام اوورسره موږ ترقي کولې شو، دوی دومره په تیارخورې اوبېکارې عادت شوی وچې دجد وجهد ماده پکې پاتې شوی نه وه.» (عبدالغفارخان.....۶۵ م) د خپل ژوندلیک « زما ژوند او جدوجهد » په یوه بله برخه کې پاچاخان لیکي چې د ترنګزو حاجی صاحب هم دعلم او دځوان نسل دښوونې او روزنې سره ډیره مینه درلو ده. موږ په ګډه د مدرسوسره د مرستې لارې چارې سنجولې. یوه ورځ مې حاجی صاحب ته وویل چې:

«ستا په لنګرکې ستاسې ډیر شیخان او مریدان بېکاره پراته دي که ورته ووایې چې مېاشت کې یوه ورځ زموږ دمدرسو سره دامداد له پاره مزدوري وکړي او مدرسو ته یې راکړي، د دې نه به موږ ته ډیره فا یده را ورسیږی. حاجی صاحب ډیروخندل او ویې ویل: که دوی کار کولی نو دلته یې بېا څه کول، دا تیارخواره دی، دوی ته کار کول بد ښکاري، حال داچې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: (الـکا سـب حـبیـب الـلـه) یعنی کسبګر د خدای دوست دی.» ( عبدالغفارخان،.۸۶م)

د خدای دا دوستان ملایانو، پیرانو، مېاګانو، د لنګر شیخانو، خانانو اونوابانو نه د خدای دوستان او نه د ځان سیالان ګڼل. په ټولنه حاکم ذهنیت کې کسبګرو لکه جولا، خټګر، بزګر، پښ، ترکاڼ اونورو ته په ټېټه سترګه کتل کېدل او کله کله خو به خانانو او نوابانو غلامان هم ترې جوړول. دا چې پښتانه په نس ماړه او په تن پټ نه وو اولانه دي یوعلت یې دادی چې له یوې خوا دېځایه سیالیو په نیشه کې ډوب وو اولادي اوله بلې خوایې کسب اوکسبګرو ته په سپکه سترګه کتل، پایله یې دا شوه چې پښتون نه بریالی سودا ګرشو، نه تکړه بزګر او کسبګر شو. پاچاخان په خپل ژوند لیک کې ګیله کوي چې:« پښتنو ته زراعت سپک کار ښکاریدو، تجارت هم ورته سپک کار ښکاریده اوویل به یې چې داد بنیا، بقال او هندو کار دی.»
(عدالغفارخان،.۱۴۷م)

د خدايي خدمتګارو یوه دنده داوه چې دا ذهنیت اصلاح کړي، دکسب، کاراو زیار په هکله نوی ذهنیت، نوی فکراو نوی عادت راپیدا کړي.« پښتنو ته د صنعت، اقتصاد او په خپل ځان د تکېه کولو درس» (اتیرچند،.۵۸م) ورکړي او

دوی د بېلا بېلو کسبونوسره اشنا کړي. د دې له پاره چې پښتانه په اقتصادي ژوند کې په ځان تکیې کولو ته ورسیږی دوو ټکو ته د یره پاملرنه کېده:

لومړی ــ د کورنیو په اقتصاد کې مالي ډسیپلین، د بېځایه خرڅونو اولګښتونو مخنیوی اوپه غلطو رواجونو او سیالیو بری، یانی دژوند ساده کول اوله پوروونو ځان ساتل،

د وهم ــ دکورنیو تولېداتو د کچې لوړول، په تیره بیا لاسی صنعت، کرنې اوتجارت ته دخلکو هڅول. پاچاخان ته دا پته وه چې په اقتصادي لکچرونو اواوږدو تقریرونو دې موخې ته نشي رسیدلی ځکه چې پښتانه « په افسانواو کېسو نه پوهېږي، که هرکار چې په دوی کوې نوځان ورته نمونه کړه، چې ته روان شي نو دوی هم درپسې روانېږي.»

( عبدالغفارخان، ۱۷۵م)

حقیقنت دادی چې پاچاخان له وړوکتوبه په ځا ن مسلط واو په ژوند کې یې له تد بېره کار اخیست. دی لیکي چې:« زه دوړوکوالي نه کفایت شعاره وم او د خپل خرڅ د پیسو نه به مې بچت کاوه همدا وجه ده چې ما پخپل ټول عمر کې دچانه قرض نه دی غوښتی اونه چا ته محتاج شوی یم.»
(عبدالغفارخان،۲۹م)

په ځوانۍ کې خو یې د خپلې طبقی ( خانی ) ژوند سره له سره پرېکړه وکړه اود خپل بې وزله ولس په منځ کې ودریده. د خپلو مټو کار، دخمتا جامې، دخمتا څادر، پیښورې څپلی، لرې پرتو کلیو اوښارو ته دریل په دریمه درجه ډبه کې سفرونه او ساده خوراکونه یې د ژوند دایمي بدرګه شوه. اترچند دمهادیو دیسی له خولې لیکي چې:« زه فکر نه کوم چې هغه دی پخپل ژوند کې کوم لمونځ قضا کړی وي....زه دڅو تنو مسلمانو ملګرو د درلودلو اعزاز لرم، چې ُد فولادو په شان کلک او سیخ دي اود هندوانو او مسلمانانو دیووالی له پاره هر ډول سر ښندنی له پاره چمتو دی، خوزه تر اوسه داسې څوک نه پیژنم، چې په سپیڅلتیا، سرسختهٔ، ذاهدانه اوریاضت کشه ژوند درلودلو کې دې له غفار خان څخه لوړه درجه ولري او یا هم له هغه سره دې برابر وي، د غفارخان له دې ځانکړو سره په خدای باندی دهغه کلکه عقیده هم ملګری ده.»(اترچند،۴۷ـ۴۸م)

خدایي خد متګارو د پاچاخان د ژوند دستورځانته د نمونې په توګه وټاکه او دخپل مرام په اوومه او اتمه ماده کې یې په لاندې ټکو ځای ورکړ:

« ۷ــ هر خدایي خدمتګار به ساده ژوند اختیاروي،

۸ــ هر خدا یې خد متګاربه خپل حلال کسب او کار کوي، دبېکارۍ او تیارخورۍ ژوند به نه خوښوي.» (د علومو اکاډمې،۱۴.م)

د تیارخورۍ او بېکارۍ ژوند پیکه اودلټې ژوند دی، دا ژوند دېرمختګ په وړاندې خنډ دی، د سپین سترګۍ اوسر ټیټې ژوند دی. نوځکه دبېکارۍ او تیار خورۍ نه لاس په سر کېدل او دخپلو متو حلال کسب اوکار نه یوازې داقتصادي پرمختګ، بلکې نورو ته داړتیانه دازادۍ، خپلواکۍ او په دې توګه دسر لوړۍ لار هم ده. خدا یي خدمتګار د دې سیاست په برکت د بل چا د پور اومنت لاندې رانه غلل، په اقتصادي ژوند کې په ځان بسیا او په سیاسي مبارزو کې ازاد اوخپلواک پاتې شول. د۱۹۳۱م کال داکتوبر په مېاشت کې جواهر لال نهرو دکانګرس له خوا دخدا یې خدمتګارو دجرګې سره دمالي مرستې له پاره په هره مېاشت د زر (۱۰۰۰) روپیو وړاند یز وکړ، خو پاچا خان ورغبرګه کړه چې:« پنډت صاحب موږ ستاسې پیسو ته اړتیا نه لرو...تاسې خپل بار ته اوږه ورکړې او موږ یې باید خپل.»( اترچند،.۲۲۷م)
په رښتیا چې فخر افغان او خدایي خدمتګارو دخپلو مبارزو په سیاسي او ټولنیز ډ ګرکې په پرد یو پیسو نه بلکې په خپله اقتصادي بسیا اود کرکټر په سپیڅلتیا ډډه لګوله. عقیده په دې وه چې پردي پیسې خلاصیږې، فسادونه هم ترې راپیدا کیږي، خود کرکټرچېنې نه وچیږې، رواني وي، تل بهیږې اوله دې دریځ نه د زمانې ننګیالي ــ خوشال خټک ــ روح هم را ځرګندیږي. دی کاږي:

چې و خپلې کامرانی وته مې شاکړه
غــم اند وه د فلک نه لرم پروا هــم

د منت دارو که مرم په کارمې نه دي
کــه علاج لره مې راشي مــسیحا هم

اقتصادي بسیا، سیاسي او ټولنیزې سپیڅلتیا په ولس کې دخدایي خدمتګا روګرانښت او اعتباراو په دې توګه دهغوی ځواکمنیې هغې کچې ته ورسوله چې دخپلواکۍ په مبارزه کې یې دخپل انډیوال ــ دهند دکانګرس ګوند ــ مرسته هم نه غوښته او نه یې اړتیا ورته درلوده. دسپما دسیاست ترڅنګ پاچاخان دې

ته هم ملا تړلې وه چې دکورنیو تولېداتو سطحه وچته کړي، پښتانه د کسبونو زده کړې او په کرنه کې پرمختګ ته وهڅوي او تجارت ته یې مخه کړي. اټرچند د پاچاخان له خولې لیکې چې:« زموږ په خواوو کې زیات شمېر جولا ګان دي، خو دوی وروورو له نړۍ روان دی، او زه باید له خدایه ډیرمننوویه واوسم، که مې پخپلو ټولو ولسوالیو کې د څرخي چلول خپور کړای شو. خو دڅرخی چلولو زما دا خبرې به ترهغو بې معنی وي، تر څوچې، زه یې خپله چلول زده نه کړم او په منظمه توګه یې ونه کړم.» (اټرچند....۴۸م)

پاچا خان دخمتا داوبدلوچل زده کړ او ځان یې یو ځل بیا خپلو خلکو ته نمونه کړ. ورپسی خان عبدالغفارخان او ملګرو یې دکلي، ضلعي او صوبې په کچه د رضا کاره کسبګرورونېزکمپونه جوړکړل.« رضا کاران په ډیرد قت سره غوره کېدل. داضروروه ، چې دوی باید په منظمه توګه اوبد ل وکړي، باید پوره تعلیم ولري چې د هغه تحریک، چې دوی یکې برخه اخلي، پراصولو وپوهېدای شي.....په عدم تشد د تینګه عقیده ولري، دکلیو پاکول، هرکلیوال ته دحفظ الصحی دمېتودونو ښودل، کور په کور ګرځېدل اوخلکو ته اوبدل ورزده کول، په ورځنی ژوند کې دعدم تشد د تمرین، د یوه رضاکارد لوازمو څخه شمېرل کېدل.»( اټر چند....۱۲۳م)

په کمپونوکې ژوند دسهار په لماځه پیل کېده، د کارد پیل نه وړاندې به شل د قیقی جسمې تمرین کېده. تر سباناري وروسته به د رضاکارانو پنځه کسیزې ډ لې جوړېدلې او کاونډیو کلیو ته به تللې. د ډلې مشر به په څرخې اوبدل د خلکو ننداري ته وړاندی کول او نورو رضاکارا نو به دکلي کوڅې پاکولې او دکلي ښځو ته به یې دروغتیا ساتنې مېتودونه ښودل.

«په کلي کې د دوو ساعتو له تیریدونه وروسته به رضاکاران بېرته کمپونو ته ستنیدل چې دخدایي خدمتګارو داصولو سره سم درس ته غوږ ونیسی، بیا به دری ساعته ډوډۍ خوړلو، استراحت او لمانځه ته ورکول کېده. له دغې موقتی رخصتی وروسته به هر رضاکار درې ساعته اوبدل کول، ماښام به کلیوال هم راغوښتل کېدل، چې له کمپونو څخه لیدنه وکړي. دوی ته به درضاکارانو له خوا دروزنېزو تبلیغاتو له لارې وینا کېدله.....په شپه کې به دکمپ اوسیدونکو ته دربښتینې مذهب تعلیمات ورکول کېدل.» ( اټر چند، ۱۴۲م)

د کمپونوسره بل چا مالي مرسته نه ده کړې ټول لګښتونه خدا يي  خد متګاروا‌و نورو ګډونکونکو رضاکارو په ځان منلي وو. ژوند ساده و، رضاکارو ته هر سهار يوځل چای ورکول کېده. ډوډۍ دشړومبو، دلواویاد سابوسره وه او دشپې خوب په بېړ يا کېده.« دايالت شتمنی طبقی که هندو و، که مسلمان او آن روښانفکره ډلي له دغه کار سره چې هدف يې دهيواد پرمختک و هيڅ ليوالتيا نه ښودله.» ( اټر چند، ۱۴۳م)

په کمپونوکې تخنیکي زده کړې، د دېني او په ټولنيز ژوند پورې تړلو زده کړو سره يوځای شوې وې او له امله يې د خلکو په اقتصادي او ټو لنيز ژوند کې د سمون نښی او نښانې راښکاره شوی. د کسبونو زده کړې ته يې مخه شوه او په سياسي او ټولنيزشعورکې بدلون راځرګند شو. له بلې خوا ډيرکسبګران او نورغريبانان د خدايي خدمتګارو په ليکوکې تنظيم شوی وو. په دې غور ځنګ کې کسبګران، خانان اونوکران ټول يو له بل سره برابر انسانان وواو مشرتابه ته درسيدولارکوم بل کرامت نه بلکې يوازې اويوازې دخدای مخلوق ته دخد مت لاروه. په دې سازمان کې اتيا سلنه مشران کسبګران اويا نورغريبانان وو. دتنظيم په د ننه کې خانانو دهغو مشرانود ستورونه منل چې د تنظيم نه دباندی به کسبګران اويا دهمدی خانانو نوکران ول. « زموږ مشری په خانی نه وه په خدمت وه، زموږ داتمانزو جرنيل شاخيل و زيارت ګل نوم يې و، د دوی ماتحت ډيرخانان، اربابان، مېاګان او ملايان وو، د دوی حکم به يې د تنخوا دارو نوکرانوپه شان منلو....په خدايي خدمتګارو کې يوه ښکلي وروري وه، محبت واوهرکار ته به چې مقرر شو هغه به يې په مېنه او محبت کولو.»(عبدالغفارخان، ۶۵۶م)

د خدايي خدمتګارو په سازمان دې مسلط  انساني ارزښت په ولس کې د کسبګروانساني حيثيت او په ټو لنه کې دکسب اهميت را ژوندی او وچت کړ. پښتانه مخ په ويښيد وشول او کسبونه مخ په غوړيدو شول. مطلب مو دا نه دی چې ګوندې دسويس دلاسی صنايعو کچې ته ورسيد ل، دا ډول پر تلنه په تاريخی لحاظ پوهنيز بنسټ هم نه لري، دلته يوه بله پرتلنه، چې تر ډيره منطقی ښکاري، په نظرکې لرواو هغه دا چې زه« ددې کرښو ليکونکې» د۲۰۱۱م کال په اوړي کې کابل ته تللی وم، هلته مې په کابل پوهنتون کې داستادانو او زما پخوانيو همکارانو سره اوږدې خبرې او بحثونه وکړل، په حرفوي زده کړوباندې دبحث په بهير کې راته وويل شو چې نن سبا دلته دپښتونخوا نه د ۱۵۰۰۰۰ـ ۲۰۰۰۰۰ پورې کسبګر او فنی کارګران د اقتصاد په بېلا بېلو برخو کې په کار مشغول

دی. علت یې دا نه دی چې ګوندې دلته بېکاری ورکه شوی اوله منځه تللی ده، بلکې په افغانستان کې، د فسادونواو رشوتو، د چوراو لوټماریٔ په ننی ګلستان کې بشري ځواکونه دکسبونواو کمالونو دزده کړې نه بې برخې پاتې شوی دي، په ملیونوانسانان له بېکاریٔ ځوریږي، ځکه چې په کسبونونه پوهېږي. له بلې خوا ډلې ډلې ناروغان وینو چې له بې شمېره ستونځو سره سره د درملی له پاره حتی د پلازمېنی کابل څخه پېښور ته ځي، ځکه چې په کابل کې په سمه درملیٔ باور نه لري. دا حقیقت په کابل او پېښورکې دعلومو او کسبونو دپر مختګ تر منځ تو پیر راښیې. په ګډه مو ځانو ته داسې تسلی ورکوله چې خیرکه پېښور په علومو او فنونوکې ترکابل ډیر پرمخ تللی نو پېښورهم په فسادونو اورشتونو کې دکابل مقام ته نه دی رسیدلی. که څنی وزیران، والیان، ډیپلوماتان اووکیلان مومنځنی زده کړې نه لري نو په غلا، چور اولوټماریٔ کې خو دښو تجروبو خاوندان دی، په سپین سترګیٔ او سرټیټی کې خو ترهرچا اتلان دی.
په هر صورت کوم پر مختګونه چې نن سبا په پښتونخواکې ترسترګوکیږي، نه په پښتنودانګریزانو لورونه وه او نه د پنجابیانو پیرزوینه. د دې بنسټ او د دې له پاره دولس ذهنیت فخر افغان او خدایې خدمتګارو لومړی دانګریزي او ور پسی دپنجابي ترور په شرایطو کې جوړ کړي دي. په دې وخت کې کسب او لاسی صنعت تخنیکي او اقتصادي ارزښت درلود، خو دکلنیوعایداتو لویه چېنه ځمکه وه د ځمکو خاوندان، لوی اوواړه خانان دخپلې ځمکې د خاورې په برکت او په کرنه کې دپرمختګ په ارزښت نه پوهېدل او یوازې دپلار او نیکه نه ورپاتې شوی مېراث ته هوسیدل. پاچاخان لیکي چې:« دخان تعریف به داو چې یره فلانی ډیرلوی خان دی دخپل پټی پوله ورته معلومه نه ده، ما وې هلکوتاسې فکر وکړی داخان دی اوکه دا خردی چې خپل پټی نه پیژني. موږه له یوې خوانه په دوره ګرځیدو اود پښتنود ذهنیت اصلاح موکوله، د بلې خوا نه موخپلې متې راونغښتې په خپل پټي کې موپخپله کار کولو، زما دتعلیم ملګری عبدالحلیم دغه وخت دزراعت په محکمه کې مقرر شوی و، دهغه په کمک ما دمېوي یو باغ جوړکه، تردغه وخته پورې سبزي اوترکاري له ښاره کلو ته راتلله ما چې باغ جوړ کړوسبزي او ترکاري به مې هم کرله او خلکو ته به مې ښودله......... چې زراعت ته د خلکو مخه شوه ما په اتمانزو کې د ګوړې منډیې پرانسته، نورو خانانو او تر بورانو به را پورې ملنډی وهلی چې ته ګوره دبنیانو کار یې شروع کړ، زموږ تجارت ټول دغه وخت د هند وانو او پرچګانو په لاس کې و، مسلمانان په تجارت شرمېدل، زموږ ګټه وټه ټوله هندوانو او پرچګانو وړه. ما د چا دپیغورونو پروا نه کوله هره مېاشت به مې یوځل خانانو ته چای

ورکړي راجمع به مي کړل او ورته به مي وويل چي ستا دځمکي چي څومره قيمت دی ما دهغې په لسمه برخه سرمايه په منډيي کې بنده کړي ده، تاته چي هغومره سرمايه په کال کې کټه کوي، ماته يې په مېاشت کې کوي، بیا به مي دمنډيي حساب کتاب ور وښود لودا به مي هم ورته ووي چي موږ سره په منډيي کې منشيان، ډروايان او پانډيان هم کار کوي او ځانته نفقه ګټي....دوی به مي دعه شان دتجارت په ګټه پوه کول، په لږه موده کې د پښتنو تجارت ته مېلان پيدا شواو زموږ تجارت زموږ په لاس راغی.د دې کوششونو او عملي نمونه کېدلو په نتيجه کې په خلکو کې د زراعت او تجارت شوق زيات شو او دومره انقلاب راغی چې نن زموږ علاقه کې زراعت دومره مخکې دی او تجارت دومره ترقي کړې ده چې دهغه وخت ډير معمولي کسان اوس لوی لوی کسان دی او لوی لوی زراعتی فارمونه، تجارت خانی او کار خانی يې جوړې کړي دي.»( عبدالغفارخان، ۱۷۴ـ۱۷۵م)

په دې توګه د فخرافغان دانسان او ولس پالني مبارزې په پايله کې دپښتنو اقتصادي ذهنيت مخ په وده شو، کسبونوترقي وکړه او په ټولنه کې د کسبګرانساني حيثيت وچت شواو هغه خان چې دخپل پټي پولې يې نه پيژندې، دکرنيز فارم خاوند شو، دتجارت سره پخلا، دفابريکې څښتن او د ماشيني صنعت سره اشنا شو. دا يو اوښتون و، پښتنو په اقتصادي ذهنيت اوفعاليت کې يو بنسټيز بدلون و چي سياسي چوکاټ يې دفخرافغان اود خدايي خد متګارو دخپلواکۍ له پاره بې تاوه پاڅون و. په راتلونکې اووروستی برخه کې به ووينو چې بېتاوه پاڅون د پښتنو ترمنځ دتاو ترېخوالی په کمولو او دهند دنيمې وچې نه دانګريزانو په شړلو کې څه ډول برياوې ترلاسه کړي دی.

۷ـ په پښتنو کې د تشد د او د هند په نيمه وچه کې د انګريزی ښکېلاک ضد مبارزه کې لاسته راوړنې:

د دی ليکنې په تيرو برخو کې مو ولېدل چې د بېتاوه پاڅون کړنلارې پاچاحان او خدايي خدماګاروته داامکان په لاس ورکړ چې دخپلواکۍ له پاره دمبارزې ترڅنګ په اقتصادي، ټولنيزو اوکلتوري بدلونونو هم لاس پورې کړي، پښتانه پوه او سره يو کړي، دمباريزېنو ليکې په پوهو او انقلابي سرتيرو ډ کې کړي اود تاوتريخوالي او بدو رواجونو جرړې وباسي. دبېتاوه پاڅون په بهيرکې تعليمي نظام جوړشو، دښځو پرمخ په ټولنيزوچاروکې دګډون لارې خلاصی شوې، د جونو له پاره ښونځي ته دتګ لار پرانستل شوه، دپښتو ژبه له مرګه وژغورل

شوه او د پرمختګ په لور وخوځیده او په اقتصادي ژوند کې هم نوې لارې پرانستل شوې.

دا لاسته راوړنې دجنګ او تشد د په لارناشونې وې، ځکه چې په جنګ او تشددکې نه یوازې وران کارونه نه جوړېږي بلکې جوړ کارونه هم ورانیږي او تر ټولو بده لا دا چې ډېر انسانان وژل کیږي، کینه او نفرت زیاتیږی، لنډه داچې تشدداورغونه په هیڅ صورت نه سره جوړېږي. په دې برخه کې د دوو پوښتنو په ځواب پسی ګرځو:

۱ـ آیا پاچاخان او خدایي خدمتګارو په پښتنو کې د دښمنې، انتقام، تربګنی او بې اتفاقی جرړې وایستلې او په دوی کې یې دیوالې، ورورۍ او مېنې احساس راژوندی او د سوله ایز ژوند سره یې ملګري کړل یانی چې په زور او تشد د زور شول اوکه زوراوتشد د ته تسلیم شول؟

۲ ــ ایا فخر افغان او خدایي خدمتګارودانګریزي استعمارنه دهند نیمه وچې په ازادۍ کې بریای رول ولوباوه اوکه ناکام پاتې شول؟

دا پوښتنې نوې نه دي. پاچاخان خپله لیکي چې:

«زموږ په ملک کې ځنی داسې کسان شته دي چې زموږ دبد خواهانو په لمسه داسې پرو پا ګینډې کوي چې خدایي خدمتکارو څه وکړل؟ او دا هم وایي چې عدم تشد د څه وکړل؟ او زموږ ډېر سا ده ګان ورونه دخود غرضه خلکو د دې خبرو نه متآثر کیږي. نو زه دوی ته وایم چې دخدایي خدمتګارو دوه مقصده وو: یو دملک ازادول او بل په پښتنو کې دقامولی، ورورولی، مېنې، محبت، اتفاق اواجتماعي احساس پیدا کول.» (عبدالغفارخان،.۷۸۵م)

دا دواړه سختې او ستونځمنې چارې وې او په یوه سر نه تر سره کېدې. نو ځکه پاچاخان په ۱۹۲۱م کال کې د یو شمېر اصلاح او ازادۍ غوښتونکو شخصیتونو سره د « اصلاح الافا غنه » په نامه یو انجمن جوړکړ. دانجمن موخه په پښتنو کې دغلطورواجونواو تاو تربخوالې جرړې ایستل، دقاموالی، ورورولی، مېنې، محبت اوداجتماعي ژوند روحیې راژوندي کول و. پاچاخان او ملګرو یې پرله پسې دښارونو، کلیواو بانډو دورې کولې، مېټینګونه او جلسې یې جوړولې او خپل ولس ته یې ویناوې اورولې. دوی په واروار دټولې صوبې دورې، وکړې، دخلکو سره یې له نږدې خبرې اومرکې وکړي او دې هلو ځلو په زړه پورې

نتیجې هم ورکړې. دملګرو شمېر یې ورځ په ورځ ډیرېده، انجمن ځواکمن کېده او پیرنګی ترې ایریده. پاچاخان یې ونیو او بندي یې کړ.« درې کاله بندي و، دبندنه تر خلاصیدو وروسته دانجمن اصلاح الافاغنه په انتظام د پښتونخوا په زرګونو خلکو د ده هر کلی وکړاو دخلکو له خوا ده ته د (فخرافغان) لقب ورکړشو.» (عبداله بختانی:فخر افغان او افغانستان، بریښنایېز کتابتون ۲۱م)

کله چې پاچاخان په ۱۹۲۸م کال کې دانجمن له خوا دپښتون اخبار خپور کړ، نو دپښتنو سره یې اړیکې نوره هم پراخې شوې او پیغام یې افغانستان او حتی هغو پښتنو ته هم ورسید چې په استرلیا، اروپا اوامریکا کې اوسیدل. سره له دې هم په پښتنو کې دتاو تریخوالي دورکولو او دانکریزي ښکېلاک نه دملک دازادولو له پاره یو بل، په لوړه کچه منظم سازمان ته اړتیا ورځ په ورځ زیاتیدله. فخر افغان او ملګرو یې په دې تکي د ډیرغور، خبرو اترو او بحثونونه وروسته پرېکړه وکړه چې دهغو رضاکارانو منظم سازمان جوړ کړي چې « دخپل قوم او دملک خدمت دخدای دپاره کوي، بل غرض به یې نه وي او رواج به پرېږدي او هره ورځ به په خپل لاس دوه ګینټې کار کوي.»( عبدالغفارخان، ۳۶۰ ـ۳۶۱م)

په۱۹۳۰م کال کې درضاکارانو داساز مان جوړاو د ( خدایي خد متګار ) نوم یې ورکړ.« دا نوم دټولو خوښ شو، دې نوم زموږ په زړونو کې یو قسم اطمنان پیدا کړو، موږ پښتانه خدا یې خدمتګار او خدمت هغه کار او خدمت ته وایو چې بې د کومې طمعې، غرض اواجرت نه، دخدای دپاره کوواو خدای خو خدمت ته ضرورت نه لري، دخدای دمخلوق خدمت دخدای خدمت دی.»( عبدالغفارخات.......۳۵۸ ـ ۳۵۹م ]هغه څوک چې له دې سازمان« سره یو ځای کیږي باید له تشد د، انتقام، تربګنۍ اوشخصي دښمنۍ نه دلاس اخیستلواو د بخښنې، زغم او وروروله لوړه وکړي.»( اتر چند.....۲۷۴م ] پاچاخان او ملګري یې دسازمان دجوړولونه وروسته بیا دملک په دوره ووتل، کلي په کلي، ښار په ښاراو بانډه په بانډه وګرځیدل، خلک یې دخدا یي خدمتکارو په مرام پوهول، هرچېرې دټاوده هرکلي سره مخامخ کېدل، ځوان رضاکاران ډلې ډلې دخدایي خدمتکارو په لیکو کې ودریدل او پاچاخان وایي چې:« د درې مېاشتو په اوږدو کې موږ څلویښت زره رضاکاران درلودل.»(اترچند، ۵۸م)

دسازمان دېرا خیدو سره دهغه داغیزناک تنظیم پوښتنه را پورته شوه. د دې له پاره یې د« کلیو د کمېټو، چې جرګه به یې ورته ویل، یوه شبکه جوړه کړه، بیا

د څو کلیو له پاره ګډې کمېټې رامنځ ته شوې چې ټاپه کمېټه به یې ورته ویل، بیا د تحصل او ولسوالیو کمېټې رامنځ ته شوې، دټولو په سرکې به ولایتي جرګه یا دپښتنو غیر رسمې پارلمان و. دا جرګې ټولې انتخابي بنسټونه وو.....غفارخان پخپله د خدایي خدمتګارو....عمومې قو مندان نوماوه، افسر به پخپل نوبت سره بیا د بېلابېلو چارود پرمخ بېولو له پاره افسران ټاکل.....دوی دغور ځنګ مخکښان وو او دستورونه به یې ورکول. دوی دوړیا او بې غرضه خدمت هوډکړی و او داړتیا په وخت کې یې دلوړې سر ښند نی هوډ درلود.» ( اټر چند، ۵۷م )

د خدای مخلوق ته په خدمت کې پاچاخان دخپل سازمان له پاره یو نمونه او په هره قربانۍ کې دهغه مخکښ و، څه چې به یې ساز مان ته ویل تر ټولو دمخه یې په ځان عملي کول. دسازمان اوولس تر منځ اړیکې هم په همدې بنسټ جوړې شوی وې. دپاچاخان په عقیده یوازې هغه سازمان خپل ولس ته خدمت کولی شي او په هغه کې دخد مت کولو احساس راژوندی کولی شي چې ډسیپلین ولري، منظم وي اوپه عمل کې خپلې کړنلارې ته ژمن وي. نوځکه یې په وار وار ټینګار کاوه چې:

«هغه څوک چې زموږ سره دخدایي خدمتکار په توګه یو ځای کیږي باید هوډ ورسره وي چې زه به هیڅکله دتشد د نه کار وانه خلم، زه به هیڅکله بد ل او انتقام وانه خلم، زه به هغه څوک بخښم چې په ما یې زیاتی او تیری کړی وي، زه باید په کومه دسیسه، کورنی کینې او دښمنۍ کې برخه وانه خلم او زه باید دهر پښتون سره دیوه ورور او ملګري په توګه چلند وکړم.»( اټرچند، ۲۱ ــ ۲۲م)

داغوښتنې ښیي چې دخدایي خدمتګاروخوځښت یوازې یوسیاسي سازمان نه و، دا په حقیقت کې یو سیاسي، ټولنیز، اخلاقي او روحاني ګوند و چې دټولنیز ژوند په څه ناڅه ټولو برخو کې دخدای مخلوق ته په خدمت لګیا و، نه یې له پردیودمالي مرستې تمه کړې ده او نه یې تر لاسه کړې ده. دې سازمان دخپلو مبارزو په بهیر کې په پردۍ پیسه نه بلکې په خپله عقیده، په خپلو اخلاقواو خپل کرکټر ډ ډه لګوله، نو ځکه دخدای مخلوق ته دخدمت په روحیه او دمینې او محبت په وسیله سمبال، لوی او منظم لښکر ترې جوړشو اوپه پښتنو کې د دښمنۍ، تاو ترېخوالي، بې اتفاقۍ، دانتقام غوښتلو، تربګنۍ او دایمي شخړو په خلاف دمبارزې ډګر ته راووتل او په ډیرو پیچلو او سختو شرایطو کې نه تصور کېدونکو بریالیتوبونو ته ورسیدل. دهند دخپلواکۍ وتلي شخصیت او د دې هیواد

لومړني لومړي وزير جواهر لال نهرو دخدا يي خدمتګارو په برياليتوبونو کې دپاچاخان رول په ګوته کړی اوليکي چې:« هغه دسرحد خلک ديوه شنډ حالت څخه راوباسل او ټوله فضا يې بدله کړه. هغه دخدايي خدمتګارو ستر فوځ رامنځ ته کړاو دارنګه وسله خوښوونکئ نژاديې دازا دیَ له پاره په يوه زړوره، دعدم تشدد په مبارزه ورسيخ کړ، دا يوه معجزه وه چې هغه وکړه. دعدم تشدد وسله يوه پياوړې وسله ده، يوازې زړورتياا‌و جرات دا پر مخ بېولی شي.»( اټرچند، ۲۴۲م)

رښتيا دادی چې خان عبدالغفارخان په يوه داسې ولس کې دعدم تشدد جنډه راپورته کړه چې ټوپک ورته دورور او زوي نه ګران و، ژوند ورته ارزښت نه درلود او مرګ ته يې اهمېت نه ورکاوه، دهرکوچني تيري انتقام يې په وسله اخيست، دښمني، تربګني او انتقام يې دژوند دستورواوهرڅه يې چې تر لاسه کړي دي، په بې اتفاقی اوخپلمنځي شخړو يې بېرته بايللي دي. د دغسی ولس څخه دټول هند په کچه دبېتاوه پاڅون ترټولو منظم، ثابت قدمه او زړور سر تيری جوړول که معجزه وګڼل شي نو مبالغه به نه وي. هندی ليکوال اټرچند د« پاچاخان اودازادیَ مبارزه» تر سر ليک لاندې کتاب کې ليکي چې:« خدا يي خدمتکار پخپله دنده کې ټينګ او با ډسيپلينه خلک وو. چرته به چې سختنه دنده وه دوی به ورليږل کېدل او خپله دنده به يې په ښه توګه تر سره کوله، دوی به دولس سره ول او کوم ځای ته چې به تلل خوشالي به يې دځان سره را وړه » (اټر چند، ۱۳۸م)

پاچاخان ليکي چې دکراچیَ په ښار کې دټول هند د کانګرس ګوند جلسه جوړېدله، ګاندي جي جواهر لال نهرو او سردار پټيل په خدايي خدمتګارو پسی راولېږل چې په غونډه کې برخه واخلی. دجلسی د انتظام او دهغې دامنيت په هکله ډيرتشويش موجود و. دا دنده خدايي خدمتګارو ته وسپارل شوه.« د کانګرس او قوم په دوی دومره اعتبار پيداو چې دخپلو زنانه ووانتظام اوحفاظت يې خدايې خدمتګارو ته حواله کړ، بله دا چې دا ډيرګران کار و، نه دا انتظام پولېس کولی شواو نه د کانګرس رضاکارانو دا کولی شو، خو دي خدايي خدمتګاروداسې په ښه طريقه سره وکړو چې د دوی ډسيپلين اوانتظام ته دنيا حيرانه شوه او نور خلک خو پرېږده دپوليسو يو لوي افسرچې دلته دانتظام له پاره لګيدلی و، دخدايې خدمتګارو کمانډر عظمت خان ته يې ټوپی کوزه کړه او لاس يې ورکړ او دده شکريه يې ادا کړه، اوچې څه وخت به عظمت خان ښکاره شو نو دپولېس مقامې افسرانو به ورته سلامونه کول او دخدايې خدمتګارونه علاوه چې پولېس ته به يې

څه قسم حکم وکړ، هغه به یې تعمېل کولو. ددې هم په کانګرس او ټول هندوستان ښه اثر وشو.»(عبدالغفارخان،.۴۳۲ ـ ۴۳۳م)

د لته دخدایي خدمتګارو سره نه ټو پک و نه سوټک او نه کومه بله وسله وه او نه خو وسله دبېتاوه پاڅون لاراویا وسیله وه، دلته یوه نوې مفکوره وه دا دعدم تشدد فلسفه وه، دلوړو ایډالونو یونظام او ډسیپلین و، وچت اخلاقي اعتبار اودخدای مخلوق د خدمت له پاره دپښتون ولس ترون و، دا په حقیقت کې په ځان د پښتون باورواو ښکاره یې کړه چې دهند په نیمه وچه کې د بېتاوه پاڅون یو داسې نمونه دی چې که مسلمان دی، که هندو دی اوکه پرنګ، هر یو د ده په ننداره دی.

اېرچند د پاچاخان له خولې لیکي چې هغه عدم تشد د چې ده پرې باور درلود پراخ دی اودټولو په ژوند اغیزه کوي او دایمې ارزښت لري.« که نه نو وژونکې شخړې به وې چې دسرحد خلکو دژوند یوه برخه وه. له کومه چې موږ عدم تشدد راخپل کړی دی. موږ د دغو شخړو په پای ته رسولو کې ډېر بریالي شوی یو، عدم تشدد دپښتنو جرات ډېر کړی دی، څنګه چې پښتانه پخوا له نورونه په شدت ډېر روږدي وو او دوی له نورونه ډېر دعدم تشدد نه هم ګټه اخیستلی شي. دعدم تشد د له لارې پرته به موږ هیڅکله په رښتیني او موثره توګه له ځانه دفاع ونه کړو، له همدغه امله خدایي خدمتګار با ید هغسې واوسي چې نوم یې ورته ښایي ــ دخدای او دهغه دمخلوق خدمتګاران ــ خپل ژوند له لاسه ورکوي، خو هیڅوک به دژوند څخه نه بې برخې کوي.»( اېر چند،.۲۰۱م)

هغه څوک چې د خپل ژوند په بیه بل ته ښیګڼه رسوي او هوډ یې کړی وي چې هیڅوک به دژوند څخه نه بې برخې کوي، دځان په شان دبل په فکر کې هم وي، په نه ماتیدونکې عزم او اراده دخدای مخلوق ته دخدمت په لاره ځي، تل بریالی وي او ناکامي نه پیژني. دخدایي خدمتګارو غورځنګ د فخرافغان خان عبدالغفار خان په مشرۍ دبې تاوه پاڅون اصول په داسې طریقه پلي کول چې هندوستان اوحتی پخپله ګاندي جي په دې برخه کې پاچاخان دعدم تشد د دمخکښ شخصیت په توګه مني. دبېلګې په توګه په ۱۹۴۶ ــ۱۹۴۷م کې دهند په ډېرو ایالتونوکې تشد د په عدم تشدد زورشو، خو خدایي خدمتګار، په خپل ملک کې تشدد ته اجازه ورنه کړه چې وینی تو یي کړي، د پښتنو په ټول ملک کې عدم تشد د حاکم و. اېر چند لیکي چې دې اخ او ډب « او حتی داسې پیښې په ګجرات کې چې دګاندي پلرنی ایالت دی او هلته یې لومړنی تجروبې هم تر سره کړي دي، وښوده

چې داسمه ده چې ووایو، دعدم تشدد دیوه فعال کارګر په توګه عبدالغفار خان پخپله له مهاتما ګاندي نه ډېر بریالی و.»
(اتړ چند....۲۷۵م)

پاچاخان په یوه ناسته کې ګاندي جي ته وویل چې تاسې خود ډیرې مودې راهسې هندوانو ته دعدم تشد د درس ور کړی دی او د دې کار له پاره ډېر ماهران او وسایل هم درسره شته دي « خو ته وګوره چې د۱۹۴۲م کال په جنګ کې په هندوستان کې څومره تشد د وشو ولېکن په صوبه سرحدکې باوجود دانګریزانو د ډیر ظلم او اشتغال پښتنو تشد د ونه کړ. حالانکه دهندوانو سره دتشدد هغومره سامان نشته څومره چې دپښتنو سره دی. د دی په ځواب کې ګاندي جي ووي عدم تشد د دبزدل سړي کار نه دی، داد یوه بها در سړي کار دی، پښتانه دهندوستانیانونه زیات بهادران دي، دغه وجه ده چې هغوی تشد د ونه کړ.»
(عبدالغفارخان،.۷۲۴م)

مهاتما ګاندي دهند دلویې وچې دخپلواکۍ په مبارزه کې دخدایي خدمتګارو درول په ارزښت او اهمیت ښه خبرو او دهغوی یې ډېر درناوی کاوه. خو کله چې په ۱۹۳۸م کال کې دپښتنو ملک ته په دوره لاړاو هلته یې ددې سازمان نظم، دسیپلین، بریاوې او په دې ساز مان کې د عدم تشد د بې پایه اینرژي ولېدله نو ویې ویل چې:« زما دعا ده چې پښتانه دي نه یوازې هندوستان له ازادي وګټی بلکې ددې ازادۍ په برکت ټولې دنیا ته دعدم تشد د دا زرین اصول ور معرفي کړي.»( عبدالغفارخان......۶۵۴م)

پاچاخان دهند دبهار په ایالت کې دمسلمانانو او هندوانو ترمنځ کرکې او جګړوته داشارې په ترخ کې لیکلي دي چې د سرحدي صوبې د مسلیم لیک رضاکاران بهار ته د دې له پاره لاړل چې وژلو او وینې تویولو ته نوره لمن هم ووهي، « او کله چې له هغه ځایه بېر ته راتلل نوډیرهډوکي یې له ځان سره راوړل او په سرحد کې یې کلي په کلي وګرځول او زموږ په خلاف یې لویه پراپیګنډه وکړه او مطلب یې داو چې په سرحد کې هم دهندو او مسلمان او سک په منځ کې د نفاق او فساد اور بل کړي. ولې فساد یې ونه کړای شو او پخپل مطلب کې کامیاب نه شول، ولې چې دلته دخدایي خدمتګارو دتحریک په برکت دفساد او دښمنۍ جرړې ایستل شوې وې.» (عبدالغفارخان،.۷۷۴ ــ ۷۷۵م)

د پښتنو په ملک کې دبېتاوه پاڅون بریاوې، دخدایي خد متګارو نفوذ، ګرانښت او ځواک ایالتي اسمبلې ته په ټول ټاکنو کې هم ښکاره شو. انګریزانو په ټاکنو

کې دخدایي خد متګارو په زیان بې رحمه او بې شرمه لاس وهنې کولې. دنورو لاس وهنو ترڅنګ یې په ټاکنیزو مبارزو کې دپا چاخان دګډون مخه هم ونیوله. په ۱۹۳۶م کال داګست په مپاشت کې دپاحاخان دبند موده پوره شوه او له بنده ازادشو، خو د دې له پاره چې په ټاکنیزو مبارزو کې برخه وانه خلي پنجاب اوسرحد صوبې ته یې په تګ بندیز ولګول شو. سره له دې هم « خدایي خدمتګاروپه څلویښتو کې نولس سیټونه وګټل.» (عبدالغفارخان،.۶۰۲م)

د ۱۹۴۶م کال په ټول ټاکنو کې دانګریزانواو مسلیم لیک تر منځ یوالی نور هم تینګ شوی و، اوږه په اوږه یې دخدایي خدمتګارو په ضد مبارزه کوله، دهندوستان له بېلا بېلو برخو یې خپل وتلي بریځی، پیران، مپاګان، دکالیجونو شاګردان، جونې او هلکان راټول کړل او دانګریزي ښځو ( انګریزانو به ښځې دپښتنو خانانو کورونو ته ورلیږلې او له هغوی به یې غوښتل چې په ټول ټاکنوکې دخپل نفوذ نه دخدایي حدمتګارو په ضد کار واخلی.) سره یې یوځای دخدا یي خد متګارو په ضد دتبلیغ لویه ماشنري جوړه کړه. دوی بیا هم خپلې موخې ته ونه رسیدل. خدایي خدمتګارو د پښتنو سیاسي شعور لوړ کړی واو ولس یې دخدای او دحق په لار پوهولې و، دانګریزانواو مسلیم لیک په ګډه دسیسو پوهېدل او د دواړو ترمنځ په شریک اسلام نه غولېدل. نوځکه « مسلیم لیګ په دې الیکشن کې شکست وخوړاو خدایې خد متګار په لوی اکثریت سره کامیاب شول، پنځوسو کې یو دیرش خدایي خد متګار وو، دوه سیټونه جمعت العلما هند وګټل، پا تې اوولس سیټونه مسلیم لیګ وګټل.» (عبدالغفار خان،.۷۳۳م)

په پښتنوکې دبېتاوه پاڅون پلې کول او دتاو تریخوالي جرړې ایستل دخدایي خد متګارو یوه موخه وه. ومو لیدل چې د عدم تشد د په عملي ډګرکې پښتانه ترهندوانواو فخر افغان تر مهاتما ګاندي لویو بریالیتوبونو ته رسیدلي وو او هغه هم تردې چې دټول هند په کچه د عدم تشد د دمخکښانوپه توګه پیژندل شوی وو. بله موخه یې دهند دټولو هیواد پالو ازادئ غوښتونکو سره اوږه په اوږه دخپل ملک او ټول هندستان نه دانګریزئ ښکېلاک ګروایستل و. پاچاخان اود خدایي خد متګارو بېتاوه پاڅون نه یوازې خپل ولس له ځان سره ملګری کړی او دپښتنو په ملک کې یې په برتانوي استعتمارچیانو ژوند تریخ کړی و بلکې دآل اینډیا کانګرس او دهندوستان په ټول ولس کې یې هم داعتبار، ګرانښت او درناوي وچت مقام ترلاسه کړی و. اتر چند کاړی چې جواهرلال نهرو پښتنو ټاټوبې ته دخپل سفر په خاطرو کې لیکي چې ما دا« زړور خلک ولېدل او د دوی په مردانه لیوالتیا اودسیپلین اوبې ریا او ساده طبعیت مې زړه بایلود. د هند ازادي

له دوی څخه ډیر غښتلی عسکر او د دوی څخه زړور دفاع کوونکي نه لري او د دوی په شان ملګري درلو دل یو خوښي بخښونکی امتیازاو نادره لذت دی.» (اټر چند....۲۳۵م)

دانګریزي ښکېلاک په خلاف د هند دنیمې وچې دولسونو دمبارزې په جبهه کې چې خدایي خدمتګارود فخر افغان په مشرۍ کوم تدبیر، زغم، جرات او صداقت له ځانه ښودلی و، دهند ولس او دآل اینډیا کانګرس یې یه دی پوه کړی و چې پښتون کام په دې جبهه کې دمخکښ رول لوبوي او لوبولی شي، نو ځکه دآل اینډیا کانګرس کمېټی د۱۹۳۴م کال د پرېکړه وکړه چې خان عبدالغفار خان دې د کانګرس مشرۍ ته اوړه ورکړي. خو پاچاخان دا پرېکړه ونه ومنله او ویې ویل چې:« زه یو سپاهی خدایي خدمتګاریم، زه صدارت نه کوم، خدمت کوم.» (عبدالغفارخان،.۵۸۸)

اټرچند کاږي چې:« دا یو څرګند حقیقت دی چې له ښکېلاک نه دهند په ازادۍ کې دخان عبدالغفارخان اوډاکټر خان په مشرۍ خدایي خدمتګارانو یاسرخ پوشانو دپام وړ برخه واخیستله، د دغو رهبرانو لوړ شخصیت، سرښندنه اوهیوادپالنه نه یوازې په ټول هند کې بلکې دنړۍ په نورو برخو کې هم دستاینې وړ دي. دوی تر ډیرې سختې پارونی لاندې دسوله ایز اقدام فوقالعاده بېلګه وړاندې کړه چې دهند په نورو برخو کې له هغه څخه تقلید اسان کار نه دي.»( اټرچند،.۱۲۴م )

پاچاخان لیکي چې موږ ددې له پاره دکانګرس سره یو ځای شووچې په ګډه دیوه متحد ځواک په توګه دخپلو مبارزو اغیزې وچتی کړواو په ګډه پرنګیان له خپلې خاورې نه وباسو، په رښتیا چې په دې مبارزه کې خدایي خدمتګارو دکانګرس متی ځواکمنې کړې ځکه چې:« کانګرس خو دپیرنګیانو سره د شپیتو کالو راسې دازادۍ اخیستلو له پاره په جد وجهد لګیا و، خوانګریزانو ورته پوره ازادي څه چې نیمګړې ازادي هم نه ورکوله، مګر کله چې پښتانه ورسره په دغه جنګ کې ملګري شول او پښتنو په کېسه خوانۍ، ټکر، اتمانزو، کوهاټ، هاتي خیلو او مېرویس کې قربانۍ ورکړې او دغه شان زموږ قبا یېلي علاقې غیرتي پښتنو دې پښتنو سره دهندوستان دازدۍ په لاره کې غزاګانې وکړې، دانګریزانو توپونو او ټینکونو ته یې خپلې سینې ډال کړې او د دوی مخې ته لکه دغرو ودر یدل نوانګریزانو هله دهندوستان ازا دی ته غاړه کښیښودله، موږ خو دکانګرس سره په دې وعده دازدۍ په جنګ کې ملګري شوی وو، چې وطن به په ګډه ازادوواو دپردۍ غلامۍ نه به ځان خلاصوو، مګر چې وخت راغی نو بیا موږ سره

دشوو وعدو هیڅ خیال ونه ساتلی شو، زموږ نه زموږ دمستقبل په هکله هیڅ پو ښتنه ونه شوه، بلکې دپاکستان او هندوستان سره دیو ځای کېدو ریفرنډم راباندې په زور وتپلی شو او زموږ په سر دغه لویه سودا وشوه، قربانۍ موږ ورکړې، وینې زموږ توېې شوې مالونه، جایدادونه زموږ تباه شول او ګټه یې نوروته ورسیده،.......موږ ته به پیرنګیانو ویل چې دکاګرس ملګرتیا پرېږدی نو موږ چې به هندوستان له څه ورکوودهغه نه زیات به تاسو له در کړو، لیکن موږ.کانګرس پرې نه ښود خو دوی موږ پرېښودو، دډیر افسوس خبره خو داده چې موږ دوی سره څه وکړل او دوی راسره څه وکړل.» (عبدالغفار خان، ۷۸۳ ـ ۷۸۴م )

رښتیا دادی چې خدایي خدمتګاردخپلې مبارېزې په ټول بهیر کې له یوې خوادعدم تشد د په اصولو ټینګ ودرید ل او هغه یې په برې سره عملي کړل او له بلې خوا یې په هغو ژمنو هم وفا وکړه چې د دوی او دکانګرس تر منځ شوې وې خو کانګرس په خپل وار نه عدم تشدد ته ژمن پاتې شو او نه په هغو ژمنو ودریده چې دخدایي خدمتګارو سره یې کړې وې او په پټه یې دانګریزانو او مسلیم لیک سره دپښتنو دحقوقو په سر سوداګري وکړه. دری واړو په ګډه ومنله چې په هند کې به په مذهبي بنسټ دپاکستان په نامه نوی دولت جوړېږي او دپښتنو په ملک کې به په دې ټکې ریفرندم کیږي چې دهندوستان او که دپاکستان سره یوځای کیږي. دا دپښتنو به ضد یوه دسیسه وه چې کانګرس د دې نورو سره پکې شریک شو. پښتنو خو خپلواکې ګټلې وه، د دو ی په قربانیو انګریزان له ملکه مخ په وتو وو، خو دې پټو دسیسو دا ځل دغلامانو غلامان کړل. انګریزان له ملکه ورک شول خو خپل تالي څټې پنجابیان یې په پښتنو باداران کړل. دانسانیت او دپښتون دخودارادیت په لار کې مبارزه نوره هم پېچلې، ستونځمنه او سخته شوه، خو دفخر افغان ایمان، ارادې او عقیدې ته یې زیان ونه شو رسولی، له یوې خوا یې دټول بشریت او دخپل ولس دحقوقو نه د دفاع له پاره مبارېزې ته دژوند تر وروستۍ سلګۍ پورې دوام ورکړ، دپنجابي جنرالانو زندانونه او کړاوونه یې وزغمل خو دپښتون په حق باندې هیڅ ډول معا ملې ته حاضر نه شواوله بلې خوا یې په عدم تشد دکې دبشریت اود خپل کام بقالیده، نو ځکه یې په دې زرین اصل کلکه عقیده درلوده او هغه یې دژوند تر پایه پورې له ځان سره وساتله. په دې توګه دپاچاخان په هکله دمهاتما ګاندي دا خبره رښتیا وختله چې:« زه هره ورځ دهغه د لا ژور روحاني طبعیت مشاهده کوم، هغه له رښتني توضع سره نغښتی، زغم، ایمان او دعدم تشد د نظر لري، بې شمېره پښتانه به هغه دخپل بې

تاجه پاچا په توګه په خپلو زړونو کې دفن کړي. د داسي یوه شخص له پاره ما تې نشته، هغه به دکومې سربندنې او کړاو نه په شا نه شي او تر وروستۍ سلګۍ پورې به دپښتنو په خد مت کې مړشي، هغه یوازې دهمدې له پاره ژوند کوي،هغه دریاضت یو سړی دی، دتنویر سړی دی، له ټولو سره مینه لري، له هیچاسره کینه نه لري.» (اثر چند،.۱۱۳م)

هــو، د فخرافغان خان عبدالغفارخان ژوند دخدای مخلوق اوخپل ولس ته د خدمت ژوندو، دا ژوند دویاړ او دعزت ژوند و، دا داسې یو ژوندو چې بهیر یې دانسانیت اوخپل ملت په خدمت کې دځان فنا کول ژوند زده کول، دځان سوځل د جهان رناکول، دانسانیت لوړمعراج ته رسیدل او تل پاتې کېد ل و، دا ژوند یو عملي تمثیل دحمزه د دې غزل و چې:

د خپل قوم په محبت کې ځان فنا کړه ژوندون زده کړه
لیلا ســتا تــه د هغې یې خو ایــثار د مجـنون زده کړه

دمجنون ژوند په بیابان و، دفخرافغان ژوند په زندان و، دمجنون محبوبه لیلا وه، دفخرافغان عشق انسانیت و، افغانیت و، پښتون اوپښتون خواوه. دغه خان فخر افغان و، دا زموږه پاچاخان و، خو دازه په دې کرښو چې لګیایم، یو بې نومه، بې روزګاره اریوبزی یم، شل شوټ ناست یم نه مې نوم شته او نه مې وس، خو دا ګوتې چې خوځیږی، داسترګې چې غړیږی او داژبه چې غږیږی، بـابـا! ستا په همت پایې او دا ســتا ایثــار چې ستایې هــمــدغــه ویاړ مې بس.

# د ګل پاچا الفت په شعرونو کې

## د ازادی او غلامی مانا

فکر کې خیال په خیال کې فکرنیول     معنی ته رنګ رنګ ته معنی ورکول
د شاعــرکـار دی شــاعـري وکړنــه     د زړه په سترګو خوب په ویښه لیدل

دزړه په سترګو خوب په ویښه لیدل یا د زړه دهلیزکې مینې ته کورجوړول اود سرپه سترګوفکر ته لار ورکول، یا پاس په دماغ کې د فکر پوهې روزل، د ځوانکي ګل پاچا نه، دالفت اوونلي علمي اوادبي شخصیت دجوړیدولار وه. له

دې امله یې د ټولو شعري او نثري لیکنورنګ اومانا، جمال او کمال د ګل پاچا الفت په وجود کې دالفت اوعلمیت، لوړخیال او ژورفکرد یوالي پایله ګڼل کیږي. «الفت» نه یوازې د ګل پاچا ظاهري هویت بلکې ترهرڅه دمخه دده دزړه سوانده اولوړانساني شخصیت ښکارندوی دی. ځکه چې مینه یې دزړه په دهلیزونو کې پاللې، له وینې سره ګډه شوې اورګ رګ ته ننوتلې ده. دګل پاچا الفت په مینه کې انسان، دهغه حقوق، کرامت، پت اوعزت تر هر څه وچت ځای لري اوازادي ددې ټولو بنسټ جوړوي.

پت عـزت دژنــدانــه ازادي بویه　　بیله دې وي ژوند ذلیل خواروحقیر
ازادي دتـن اوغـړوڅه په کار ده　　چې دي وي فـکر تړلی په ځنځیر
چې ازاد فکرلري په جیلخانه کې　　دی ازاد، نه دغـلام غوندې وزیر

الفت دازادۍ ټکی په پراخه مانا کاروي، یانې هرڅوک چې دفکریا دارادې خپلواکي ونه لري، غلام ګڼل کیږي. دتاریخ په اوږدو کې ډیرداسې پیښ شوی دي اولا هم پیښیږي چې یوهیواد په بل هیواد تیری کوي، هغه نیسي واک ترې اخلي، او ولس یې له بنسټیزوانساني حقوقو څخه هم بې برخې کوي او یو ډول غلامان ترې جوړوي. ګل پاچاالفت سره له دې چې دزور، انسان وژنې او جنګ نه سخته کرکه کوي، خودازادۍ دترلاسه کولو اود هغې دساتنې له پاره تو رې ته لاس کول نه یوازې روا بلکې ضرورهم ګڼي. دی دازادۍ دلارې په شهیدانو اوتلانو ویاړي اودهغوی یادونه او درناوی کوي اولیکي چې:

مـلـې حما سه نـه و ه بې تـأ ثـیـره
ملالې چې په میوندکې شعارونه ورکول

مضمون د ازادۍ زموږ په سرو وینورنګین دی
زمـوږ وینـوتاریخ تــه عنوانـونه ورکول

ګل پاچا الفت تورې ته دازدۍ او خپلواکۍ حق نه ورکوي. توره دانسان دازادۍ غوښتونکې ارادې اودحق اوقانون تابع ده. توره هدف نه دی، بلکې دازادۍ دترلاسه کولو اوحق ته درسید لو وسیله ده. دازادۍ غوښتونکې حماسي موخه هم زور ازمویل یاد مقابل لورې سرټیټي نه ده. هدف خپلواکي ده، دظلم اومظلومیت، دتبعیض او توپیر ورکول او دولسونواوهیوادونوتر منځ حقوقي برابري ده. دګل پاچا الفت غوښتنه داده چې:

نژادي توپیر هیڅ نه وي په دنیا کې　　نه په شرق اونه په غرب او امریکاکې

استـقلا ل منلی حق دهر ملت وي خـو قــايم پـه ملتــونــوکي اخـوت وي

دخپلواکی دګټلواوساتلو له پاره توره هغه وخت اغیزناکه وي چې د متحد او یو موټی شوي ملت په لاس کې وي. په هره اندازه چې ملت د یوه جوړجاړي په چوکاټ کې سره یو او یو موټی وي په همغه اندازه یې خپل واکي ډاډمنه اوبسیاوي. د ملي یوالي دکمزورتیا په اندازه ازادي هم کمزورې کیږي او هغه وخت له سخت ګواښ سره مخا مخ کیږي چې ملي یوالی ړنګ شي. دالفت په نظر:

په ملي قدرت لاسته راغلي
په ملي قـدرت متکي ده
هرڅومره چې ملت متحدوي
خپلواکي یې هغومره قوي ده

دګل پاچا الفت غوښتنه داهم ده چې دیوه هیواد دازادۍ هدف باید یوازې دڅو تنو ازادي نه وي. ازادي دټول ولس او په ولس کې دهر فرد حق دی. رښتیا هم دادی چې دازادۍ  دترلاسه کولو په لار کې یوازې څوتنه نه بلکې ټول ولس قرباني ورکوي، نو ځکه نه یوازې څوکسان بلکې ټول ولس او دولس هروګړی دازادۍ او دیوه بل سره دحقوقي برابرۍ حق لري. د یو څو تنو زورواکې او ټولواکي د ګډې ملي ارادې اوملي اتحاد سره ټکر خوري او هغه کمزورې کوي. الفت لیکي:

چې وطن او ملک ازاد وي کله ښايي چې يې خلک دڅو تنووي اسير
باداري دزور اوزرو چې کړي ورکه ده همدغـه ازادي وړ دتـقد یر

چیرته چې دحق اوقانون په ځای زور اوزر حکومت کوي، ولس یې ازاد نه دی ، بلکې د څو تنو زورواکو اسیر اوغلام دی. زورواکان اود زرو لیوالان د انسان دازادۍ اوحقوقي برابري سرسخت د ښمنان دي، دانساني غرور انساني کرامت، پت اوعزت سره جوړجاړی نه شي کولی. ځکه زور اوانسانیت، زوراو حق نه سره جوړیږي او د زورواکانو په حکومت کې قانون کله چلیږي. ځکه:
حکومت چې قانوني نه وي شخصـي وي
د آ غــا آ غـا زا د ه ا و د بـیــبـي وي

کـورنی او خــیلخا نې پــکي خــاني کا
قندیګل، شاګل، ماګل پکې خوندي وي

په زورواکه او شخصي حکومتونوکي خو قندیګل، شاګل، ماګل خوندي وي، دبېو ازادي وي، د فسادونو پریماني وي، خو دولس برخه خوارۍ او پریشاني وي. ګل پاچا الفت چې ټول ژوند یې دقلم اوعمل په ډګرکې دحق او قانون دپلې کولو له پاره په مبارزه کې تیر کړی دی، په دې عقیده دی چې:

هغه ځای وي دژودون واړه خوندونه
چې څوک نه ویني څه زجر بې قانونه

اطمـنان دروح او فکـر هلـه بویـه
چې اصول اوقـوانین کـوي حکمـونه

د زوراوزروغلامي په پراخه مانا دغلامي یو شکل دی، خو ګل پاچا الفت په خپلولیکنوکي دغلامي نور ډولونه هم په ګوته کړي دي او په یوه شعر کي یې دهغې تاریخي لړۍ داسې بیان کړې ده:

په جهان کي چې مردوده باداري شوه | روحاني رنګ یې راووت پیري شوه
دپیـرۍ اومریـدۍ بازار چې سوړشو | سیـاسي رنګ یې پیداکړ لیـدري شوه

دلته دباداري ټکی په خاصه مانا کارول شوی دی، چې بل اړخ یې غلامي ده. باداري بې غلامۍ اوبادار بې غلامه وجود نه لري. دبادار اوغلام ترمنځ په اړیکو کې غلام دبادارقانوني مال دی اوبادار دغلام قانوني څښتن دی. بادار کولی شي چې غلام وپیري اوبایې وپلوري، بل چا ته یې په کرایه ورکولی شي اوهم یې له بل چا په کرایه رانیولی شي. کله چې بادار مړشي غلام یې اولاد ته په میراث پاتې کیږي، غلامي او باداري پای ته نه رسیږي. د پیراومرید ترمنځ داړیکو په هکله دڅه لیکلو اړتیا نه وینم، ځکه چې الفت په یوه بل شعر کې ترټولو ښې څرګندې کړي دي. دی لیکي چې:

پیر که خس دی بیاهم خپل مرید ته بس دی
مـریـدان دي ډیر کسان که پیر ناکس دی

لـه مـربده بـنـد کي دخـدای مـه غـواړه
که له خدایه ورته ګران پیر یو په لس دی

دبادار، پیر اولیډر تر منځ شریک ټکی دادی چې یو یې هم ازادي، دانسان خپلواک فکر او خپلواکه اراده نه مني اونه پيژني. دسیاسي لیډر، رهبر اویالاربښود او دهغه دپیرو تر منځ په اړیکوکې پیرو دخپل لیډر مال نه دی ، خوازاد هم نه دی. په دې اړیکوکې پیرو خپل سر، خپلې ارادې او خپلو سترګو ته اړتیا نهویني، دلیډریا لاربښود په سر فکر کوي، دهغه په سترګو لار ویني او دهغه په اراده خوځیږي. خپل سر، سترګې او اراده یې په کار نه لویږي، شنډ پاتې کیږي او ورځ په ورځ کمزوري کیږي، تردې چې نور دازادۍ دهیلې اوهوس نه هم بې برخې کیږي اوپایله یې مطلق اطاعت مطلقه بنده ګي یاغلامي ده چې د سیاسي غلامانو په برخه کیږي اود لیډر نه هم یو مطلق فرعون جوړیږي. نور په ازادۍ پسې نه ګرځي او دومره غواړې چې دریځ یې دنوروغلامانو په منځ کې یو څه لوړاودهغوی څارونکۍ شي. دا دنده یانې دنورو غلامانو څارنه یوازې اویوازې دوتلو او په غلامې کې دازمویل شووغلامانو په برخه کیدا ی شي. دڅارنې دا مقام داسې یو مقام دی چې پکې یوغلام په یو څو نورو غلا مانو یو ډول باداري (آمریت) کوي. نوځکه کیدای شي چې په دې سستم کې باداري اوغلامي دیوه تن په وجود کې سره یوشي یانې داچې دا کس په یوه وخت کې د یوچاغلام وي او هم په یو څو نورو غلامانو باداري کوي. ګل پاچا الفت دې ځای ته درسیدو لار داسې بیانوي:

ځان چرته غلام کړه که په نورو باداري کوې
ســرټیټول زده کــړه که کارونه سرکاري کوې

هلته زورور ته په ګونــډه لاس په نامه اوسه
دلته که فرعون غوندې پرموږکلان کاري کوې

کیدای شي چې دغلامۍ او بادارۍ په دې سستم کې دهیرم څوکه یانې د زور اوزرو وروستۍ سرچینه کورنۍ ټولواک اویاکوم بهرنۍ ځواک وي. د بشري ټولنې په تاریخ کې ددواړو بیلګې شته دي. ګل پاچا الفت ټینګار کوي چې د زرو اوزورواکی سستم دانسان ازاده اراده، انساني غرور، حقوقي برابري اودانسان سر لوړي نه پیژني، دا سستم په سرټیټي او غلامې ولاړ دی. دلته به همیشه زورور ته لاس په نام او په ګونډه اوسې. که چیرې په دې هنرکې دلیاقت او مهارت لوړو درجو ته ورسیږې، نو کیدای شي چې په ځینو باندې دفرعون په شان کلان کاري هم وکړې. دغلامۍ په لاربادارۍ ته رسیدلي غلامان د فرعون

په شان کلان کاران وي، په وحشت کې بې جوړې وي، دانسانیت او ازادۍ سرسخت دښمنان وي. الفت لیکي چې:

بد ل شـوي اساسـونه د هسـتـۍ
ځکه لوړ مقام ته رسي په پستۍ

ډیرڅه کړي ترلاسه چې له ډیرو شیو تیر شي
غلامان کړي خانان خان پرستۍ

هغه څه چې تر لاسه کوي یې سرکاري مقامونه اومنصبونه دي، ډک جیبونه او بانکونه دي، غټې ګردۍ خیټې اوتورزړونه دي، کلکې سپینې سترګې ټیټ سرونه دي او هغه څه چې له لاسه یې ور کوي ازاده اراده ده، پت دی اوعزت دی، ایمان اواعتباردی او دانسانیت سره مینه اومحبت دی. دګل پاچا الفت په فکر دانساني ژوند منځپانګه مینه اومحبت دی، پرمختګ دی اوحرکت دی، چې بیلا بیل خوندونه اورنګونه لري. خوغلامي اوباداري دې ټولو ته زیان رسوي او هرڅه بې خونده کوي، ځکه چې دمینې او محبت ځای کینې او تبعیض ته ورکوي او دانسانانو تر منځ دوروری او برابرۍ بنسټ ورانوي. دی لیکي چې:

ژوند قــوت دی مـخــکې تــګ دی حـــرکــت د ی
د ژوند ون د باغ بلبله شـپــه او ورځ دغه نــا رې کـا

ژوند چې هرځرنګ وي ښه دی هرڅوک غواړي چې ژوندی وي
مـګر ژونـد غـلامــی دې خـدای بـربـاد خـاورې ایـري کړي

کــه نــور هـیـڅ نـشـی کـولـی وچ او شـنـد شـی غـلامانـو
غـلامـان چـې پـیـدا نـشـې بـاداران به بـیـچـارې کا

هو! بادار ځکه بادار دی چې غلام غلام دی. که غلامي نه وي نوباداري به هم نه وي. غلامي او باداري په ګډه یو سستم جوړوي چې د ځان په نه پیژند نه ولاړوي. انسان چې بل انسان ته سر ټیټوي، په حقیقت کې خپل ځان نه پیژني او په ځان باورنه لري. که څوک د بل زور اوزرو ته سجده کوي او دبل جاه او جلال ته سر ټیټوي، دایمان په مانا نه پوهیږي او باید وپوهیږي چې زور او زرپرستي سوچه بې ایماني ده. ګل پاچا الفت لیکي چې:

که دځان په شان انسان ته دریدلی یي سرکــوزی
ځان دې نه دی پیژندلی دخپل ځان سره اشنا شــه

که دچا جاه اوجلال ته په سجده باندې نسکور یي
بې ایمــانــه راته ښکارې لــه ایمان سـره اشنا شه

کله چې ګل پاچا الفت ظلم کول اوظلم زغمل، زور کارول اوزور ته سر ټیټول، په حق تیری اوله حقه تیریدل بې ایما ني، زور اوزر پرستي او په انسانیت بې باوري بولي، نو داهم نه غواړي چې کمزوری دې زورورواوزورور دې کمزوری شي، غلام د ې بادار او باداردې غلام شي، بلکې غواړي چې له سره دا نابرابري دانسانانو تر منځ حقوقي برابری ته ځای پریږدي. نوځکه لیکي چې:

که مزدور خان شي اوخان مزدور    مجبور جابر شي جابر مجبور
ظلم بـد لـیـږي خـو نه ورکیږي    نه حا صلیـږي اصلي منظـور

اصلي منظور دغلامۍ، بې عدالتۍ، ظلم او زورنه دانسان ازادي ده. ځکه چې انسان لوی پر ورد ګار ازاد اومختار پیدا کړی دی اوارزښت یې دهغې ازادۍ له مخې ټاکل کیږي چې لري او تر لاسه کوي یې، او دهغې ازادۍ له مخې ټاکل کیږي چې ور کوي او منظوروي یې، او دواړه خوا وې هغه وخت دانسانیت معراج ته رسیږي چې په برابر حقوقي بنسټ اوږه په اوږه د یوبل تر څنګ ودریږي.

پخوا مو وویل چې غلامي دګل پاچا الفت په نظر ډیر ډولونه لري، چې موږ یې ټول نه بلکې هغه یوڅو ډولونه په ګوته کړل، چې لاملونه یې دټولنې په اقتصادي، ټولنیز اوسیاسي سنبالښت بوري اړه لري. په دې صورت کې دغلامۍ لا ملونه د فرد له وجود نه بهر په ټولنه کې پراته وي. خوالفت مو داسي غلامۍ ته هم پام اړوي چې لاملونه یې دفرد په ذهني اورواني حالت کې لټول کیږي. دبیلګې په توګه لیکي چې:

یــو غــلام دی داوهــامـو خـرافاتو    بل درسم اورواج او عنعنا تو
په دنیاکې خوسل رنـګه غلامي شته    دشهرت غلام بنده دمخلوقاتو

او په بل ځای کې لیکي چې:

د زمان مکان په قید کې اسارت دی

محدود مه اوسه هرګوره لامکان سره اشنا شه

د بندي فکرخاونده دوهمونونظربنده
که ذهني ازادي غواړې له عرفان سره اشناشه

اوهام ، خرافات، رسم، رواج، عنعنات اوعرفان دا ټول د کلتور برخې دي او ښيي چې هر کلتور ښه اوبد، ګټور او زيان رسونکي اوبلاخره ازادي بخښونکي او غلامونکي اړخونه لري. که اوهام او افاهات او يا ځنې رواجونه اوعنعنات د پر مختګ او دانسان د ذهني ودې اوازادۍ مخه نيسي، نوعرفان، چې دلته ګل يا چا الفت د عقلي پوهې په مانا کارولی دی، دهغوی مخالف دريځ غوره کوي. عقلي پوهه د کلتور سره پريکړه نه کوي، د کلتور له منځه سر راپورته کوي، وده کوې او کلتور د دشننې او چڼونې ځواک او واک تر لاسه کوي، له اوهامو اوخرافاتو يې خلاصوي، انساني فکرونه اوذهنونه ازادوي او په دې ډول د کلتور دودې او پرمختګ په لارکې پراته خنډونه له منځه وړي. دا داوهامو او خرافاتونه ازاد شوي فکرونه اوذهنونه دي چې دزمان اومکان د زاړه چوکاټ نه ځان ازادوي او دودې په لور دټولنيز کلتور لار ښوونه کوي. پوهه نه يوازې فکرونه او ذهنونه ازادوي ياني دانساني ژوند دمعنوي کلتور شتمنې ډيروي، بلکې دټولنيز ژوند دمادي ګلتور په وده او پر مختګ کې هم ټاکونکی رول لوبوي.

الفت وړی او بل ته اړ انسان، وړی او بل ته اړ هيواد ازاد انسان او ازاد هيواد نه بولي. او داچې پوهه نن سبا دمادي شتمنۍ دتوليد تر ټولو مهم عامل ګرځيدلی دی، نو کولی شي چې فرداو ټولنه د لوړې او بل ته داړتيانه هم ازاد کړي.

لنډه دا چې دپوهې په برکت په ځان باندې دانسان او انساني ټولنې دباور کچه لوړيږي، دکار ځواک يې وده کوي اواغيزناک کيږي، وز ګارتيا پرله پسې کميږي او په دې توګه ټولنه او وګړي دبې وزلۍ او نورواړتياوونه ګام په ګام خلاصيږي. نن سبا خو همدا پوهه ده چې دذهني، سياسي، ټولنيزې او اقتصادي غلامۍ ځنځيرونه ماتوي، ازادي ساتي او دپرمختګ په لار کې هر ډول کلتوري اوطبيعي خنډونه له منځه وړي. نو ځکه وينو چې په پوهه ياني ډول ډول مسلکونو، کسبونواو هنرونو سنبال ولسونه ازاد ولسونه دي، شتمن او اباد ولسونه دي. د دوی په ازادۍ هيڅوک تيری کولی نه شي، دسوکالۍ او پر مختګ مخه يې نيولی نشي.

# د غني خان رنګینه ځواني

## او د زړونو خاني

«استاد رڼاګل اریوبزی د پکتیا د ځاځیو په آریوب سیمه کې زیږېـدلی دی. لوړې زده کړې یې د پخواني لویدیز جرمني په ګویتې پوهنتون کې په جګه نمره بشپړې کړې وې، د کابل پوهنتون د ښوونې او روزنې د پوهنځي مشر و او لکه چې وینئ د خیرالبیان په تـال لیکنې کوي. ښواند اریوبزی په عدالت مین دی، له علمي بحث نه خوند اخلي، له غیبت او تعصب نه ډډه کوي ، او په ملګرتیا کې ټینګ سړی دی.»

ځیرکیـار

غني خان د ځوانۍ په رنګین خیال کې دسیند د سپینو شګوځانته جوړ کړ یو محل چې دې ټول خرګي جهان ورته حیران حیران کتل.

هسکې منارې، جګ جګ دیوالونه، شنه شنه چمنونه او باغونه، رنګ په رنګ ګلونه د نرګس اود رامبیل او د مرسل، مالیار یې کړ بلبل.

یوه ښکلې معماری ده، د ارمان یوه نقاشي ده، بس د خیا ل فکرسیا لی ده. هنرونه، فلسفې او ارمانونه، دا هر څه پریمان دي، پکښې مینه شهزادګی ده، دا نور ټول یی نوکران دي.

د خیا ل په دی محفل کې نه شیران شته نه پړانګان، نه ګیدړې نه لیوان، نه جنګ، جنګ سالاران او نه کونډې یتیمان. بس زرکې دي تنځرې، شني سپیني کوترې، شنه طوطیان، توری بلبلې، خوږې خوږې نغمي دي په زړه پورې سندرې. یو سوز دی یو ساز دی، هم ناز دی هم راز دی، یو محفل دی د و صال، د مجنون د لیلی، د فرهاد شیرینی، د ادم درباب ترنګ دی د درخود بنګړو شرنګ دی. غنی یې په منځ کې ناست دی، نه سر دار دی، نه آغا او نه بادار دی، یو دغم تاج یې په سر دی، په مینه کې سر شار دی، بس دزړونو خریدار دی او په هر زړه کې مکان دی، دغه خان د زړونو خان دی.

هلته په یوه باغ کې د انګورو، یوټولګی راغی دحورو، نغمو ته دبلبلو نڅید لې، خندید لې، غنی چې د خیال په آسمانو کې لا پخوا وې پیژندلې اظهاریې ورته وکړ داځولاندې ملغلرې:

ځوړند د دوو ستورو نه چې ستا د زړو ټال و
پروت چې په دې زلفوکې د منګ په ځای هلال و

هغه چې په دړوکي دستورو ګر ځید له
له یا به د سپوږ مۍ شغلو کې پټه ګډ ید

ن له حور ې ما هم بوزه د رڼا هغه جها
تـا سره به زه هم خوا کې ټال واچوم ځان له

دغنی په رنګین خیال کې اوپه دغه خیالي ټال کې د پښتو شعر وادب چې زنګیدلی پورته ستورو ته ختلی، دشغلی په شان ځلیـږي، یوه رنګینه منظره ده، یو کمال دی دجمال، یوه عجـیبه ننداره ده، د پټمن ژوند ترا نه ده، په لوستو یی یاره ګوره ړندې سترګی بینا کیږی، تور زړونه رڼا کیـږي، کینه ډار ور ځنی تښتي او له مینی نه ډکیږي. د غنی دغه ارمان دی او دا خــان دزړونــو خــان دی خو چې زور چاړی ته لاس کړي، یو وحشي غوندې جلادشي، دا نازک دمینی ډک زړه هم فولاد شي. دحسین په شان یزید ته ټینګ ولاړ وي په میدان کې، په ښار کې، په بیدیا او په زندان کې. نه ویریږي ، نه ماتیږي او نه ټیټیـږي. یو سرکښه نارینتوب شي، یـوجنــون شي دمجنون، د مینی لیونتوب شي او کمال دسړیتــوب شي. دا زړه د غـنی خان دی،غـنی ځکه لـوی انسان دی چې د مینې لیـونی
ته اپـلا تون لاس په سلام دی
او دا خـان د زړونو خـان دی
د مینی دا لیوال دامن طلبګاردی، د زور سره په جنجال دی او ورتــه وایی چې: زه ذات یــم دانسان، ته بچی یې دشیطا ن، زما وینه پا که مینه، ته یې اور دجهـنم، نــور نـــه لرې تک توریې، ته کینه یې ته فتنه یی، ته یې غـم ته یې ماتم، ته آفت یې ته ذلـت یې، ته اســـتازی د ستــم. ته په ځان باندې مغرور یی، زه په مینه کې سر شار، ته یی وږی د لالونو زه یم تږی د خمار. زه اوته نه سره جوړیـږو، ته او زه به سره جنګیـږو، په بحر او په بر، په سمه او په غر. دا می عزم دا ایمان دی، دا ګز اودا میدان دی. غنی په دی سنګر کې نه توپ او نه ټوپک لري، نه د توري پـرک لري، نه د زغرو شرنګ لري. دی د مینې په لښکر په زور شـو زورور او ترې جوړ یې کړ خړ خر. د جــهاد په دې سنګـرکي غــنی خان یو قهرمان دی، د خپل پلار په لار روان دی، او سوری وهی چې:

وهم مندې تا پسې خو ته هم لرې  وينم ستا ايله ايله د پـــښو غبار ه
پروا نشته که په منډو منډو مړ شم  فقط ستااود خپل قوم د نوم لپاره

بابه تـه د غني دغه پيغام دی، بابه فخر دافغان دی او غـنـي دزړونو خان دی. بل خوا ته چې ګورې دا له مينی خالی زړونه، دا بې زړونو جسدونه، اوږدې بمبلی ږيرې ، د ريا عبادتونه، په وينو سره لا سونه اوغټې شلمې خيټې د پڅې غلې کندوان، دا بې پـتـه مار شالان، د فساد قهر مانان، زوروور په يتيمانوخو دزور دي غلامان، دا د خاورې دلالان او دا بې رحمه لوټماران، چې نه يې دين شته نه ايمان، او نه بل کوم يو ارمان! اوبس ديـته يې تـلوسه ده چې: چرته چې پيسه ده، هغه د ده کعبه ده، د ده ورته سجده ده، دا يې عهد دايې پيمان دی، دا مغل دی که افغان دی، غنی ور سره وران دی، غنی ځکه زړونو خان دی.
پای

## د ليکوال بيوګرافي:

رښاګل اريوبزی د نولس سوه شپږ څلوېښتم کال د جون د مياشتې پر لومړۍ نېټه (۱/۶/۱۹۴۶) د افغانستان د پکتيا ولايت د اريوب ځاځيو ولسوالی په شاه محمد کلي کې زېږېدلی دی. لومړنی، منځنی او ثانوي زده کړې يې د کابل ښار په رحمان بابا ليسه کې سرته رسولي دي او په ۱۹۶۵ م کال له يادې لېسې فارغ شوی دی.

د نولس شوه شپږشپېتم (۱۹۶۶م) کال په وروستيو کې د وخت د پوهنې وزارت له يوه تحصيلي بورس نه په استفادې سره، د لوړوزده کړو له پاره د المان فدرالي جمهوريت ته تللی دی. د ژبې کورس او «د شتودين کوليګ» نه تر فارغيدو وروسته، په ۱۹۶۸ کال کې د فرانکفورت ښار د يوهان ولفکنګ ګويتې پوهنتون کې شامل شوی. د لوړو زده کړو اصلي مضمون يې ښوونه او روزنه او څنګځنې څانګې يې ټولنپوهنه او اروا پوهنه وې.

په نولس سوه دري اويايم ميلادي کال (۱۹۷۳م) کال کې يې د ماسترۍ ديپلوم تر لاسه کړ. تر دې وروسته يو کال په المان کې د هسن ايالت د ښوونې او روزنې وزارت په مربوطاتو کې په کار بوخت شو. د ۱۹۷۴ کال په وروستۍ برخه کې خپل هيواد ته ستون شو او لومړی په کابل کې د سيد جمالدين افغان د ښوونکو روزنې مؤسسه کې استاد مقرر شو. څه موده وروسته د کابل پوهنتون

د ژبو او بشري علومو پوهنځي د ښووني او روزنې ډیپارتمنت په علمي کدر کې ومنل شو.

له ۱۹۸۲ تر۱۹۸۸ پورې د ښووني اوروزنې پوهنځي د ریاست دنده ور له غاړې وه. د ۱۹۸۸ او۱۹۸۹ ترمنځ د بهرنیو چارو وزارت د علمي څیړنو په څانګه کې په کار بوخت شو او په ۱۹۸۹کې د افغانستان علومو اکاډمۍ د بشري علومو ریاست په علمي کدر کې شامل شو. دلته یې څه موده کار وکړ، خو د خپل پوهنځي د ادارې او استادانو د پرله پسې غوښتنو له امله، بیرته د کابل پوهنتون د ښووني اوروزنې پوهنځي ته د استاد په توګه ولاړ.

د۱۹۹۱ کال په وروستۍ میاشت کې له هیواده پردیس او المان ته مهاجرشو. استاد اریوبزی اوس د جرمني په کسل ښار کې اوسېږي او کله ناکله یو څه لیکنې او ژباړې هم کوي.

**مننه:**

**زما د دې لیکنې کتابي ډیزاین د هېواد د تکړه او همیش په کار لګیا لیکوال، قدرمن آصف بهاند، د کار پایله ده. آصف بهاند داسې وخت مرستې ته راودانګل چې په خپله د څېړنو، لیکنو او خپرونو په چارو کې ترغوږو پورې ډوب دی، نو ځکه یې د زړه له کومې منندوی یم او ورته د لانورو او لالویو بریالیتوبونو هیله کوم.**

رنګاګل اریوبزی